د افغانستان اسلامي امارت
لوړو زده کړو وزارت
پکتیا پوهنتون

# مجلهٔ علمی-تحقیقی قلم

علمي-څېړنيزه مجله

( طبيعي او ټولنيز علوم )

لسم کال، ۲۱مه ګڼه، ۱۴۰۴ ل.ل، اوړی

مجلهٔ علمی-تحقیقی قلم

علمي-څېړنيزه مجله

سال دهم، شماره ۲۱، تابستان ۱۴۰۴ هـ.ش

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher education
Paktia University

# QALAM

## Academic - Research Journal

Natural & Social Sciences

10th year, 21th Issue, 2025 Summer

بسم الله الرحمن الرحيم
ن
والقلم
وما يسطرون

پکتیا پوهنتون

د علمي څېړنو معاونیت

د علمي مجلې آمریت

مجلۀ علمی - تحقیقی

# قلم

علمي- څېړنیزه مجله

طبیعي او ټولنیز علوم/ علوم طبیعی و اجتماعی

**لسم کال، ۲۱مه گڼه، ۱۴۰۴ل.ل، اوړی**

# قلم

د پکتیا پوهنتون علمي - څېړنیزه مجله

مجلهٔ علمی- تحقیقی پوهنتون پکتیا


| د هیئت تحریر غړي/ اعضای هیأت تحریر | |
|---|---|
| **طبیعي علوم/ علوم طبیعی** | **ټولنیز علوم/ علوم اجتماعی** |
| پوهاند هدایت الله سالاري | پوهنمل دوکتور نوراجان عاطف |
| پوهنوال دوکتور عبدالله احمدي | پوهنمل دوکتور بلال احمد فضلي |
| پوهندوی دوکتور عبدالوهاب حکمت | پوهنوال خواجه محمد چرخي |
| پوهنمل دوکتور محمد داؤد احمدزی | پوهندوی شفیع الله غوثي |
| پوهنوال عبدالظاهر محسن | پوهندوی عبدالناصر ستانکزی |
| پوهنوال محیب الرحمَن عارض | پوهندوی عبدالرحمَن مبشر |
| پوهنوال ذکي زرمتی | پوهنمل روح الله حمیدي |
| پوهنوال ضیاء الله احمدزی | |

| | |
|---|---|
| **د امتیاز څښتن** | **پکتیا پوهنتون** |
| **مسؤل مدیر** | پوهنمل نورالله شاداب |
| **د طبیعي علومو سردبیر** | پوهندوی حمیم الله وطن دوست |
| **د ټولنیزو علومو سردبیر** | پوهندوی کمال الدین کمال |
| **د مجلې آمر** | پوهندوی سید صدرالدین هاشمي |
| **د مجلې عمومي مدیر** | سیف الله ضیاخېل |
| **د مجلې د نشرې مدیر** | سید الرحمَن ځار |
| **ډیزاین او ترتیب** | سیف الله ضیاخېل |



**WWW.PU.EDU.AF**

q.journal@pu.edu.af

+93 777294372 / +93 772192289

پکتیا پوهنتون، علمي څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت، پکتیا ـ افغانستان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ

الحمدلله وكفى والصلاة والسلام على عباده الذين اصطفى، اما بعد!

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (۴) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ.(5)

څېړنه د حقايقو منظم لټون دی. الله تعالی انسانان اشرف المخلوقات پيداکړي دي، د دې توان يې ورکړی دی چې، د ژوند په ټولو برخو کې حقايق وپلټي او د حقيقت پر بنا ژوند تېر کړي. اوس مهال په نړۍ کې د علم د توليد مهم مرکزونه پوهنتونونه ګڼل کېږي، چې د علمي او څېړنيزو کړنو سربيره د ديني او عصري علومو په برخه کې فعاليت کوي. د نننۍ نړۍ ګړندی پرمختګ د علمي څېړنو برکت دی او د نړۍ هېڅ اسانتيا هم له څېړنې پرته نه ده تر لاسه شوې. علمي څېړنې د پرمختګ، ابادی، هوسايني، لوړتيا او پراختيا بنسټ دی. علمي څېړنې د ستونزو حل او حقيقت ته د رسېدلو لار ده، د علمي څېړنو پر مټ کېدای شي چې نوي حقايق کشف، اختراعات رامينځته او نوښتونو ته لاره هواره شي. نني نړۍ د څېړنو پرمټ حيرانوونکو پرمختګونو ته رسېدلې ده چې، پرته له پراخو او ژورو څېړنو څخه نه شي کېدای چې د پرمختللي نړۍ له کاروان سره روان شو. نننۍ نړۍ هغو څېړنو ته ډېر ارزښت ورکوي چې د يوې ټولنې علمي، فرهنګي، ټولنيزې او نورې اړونده ستونزې پکې حل شي. د ساينس او ټکنالوژۍ د پرمختګ له دې چټک بهير سره د تګ لپاره اړتيا ده چې د ټولنې د ستونزو د حل او پرمختګ په موخه څېړنې تر سره شي او پايلې يې د علمي اصولو په پام کې نيولو سره وليکل شي او تر نورو د رسولو په موخه په معتبرو علمي- څېړنيزو ملي او نړۍوالو ژورنالونو کې نشر شي.

له نيکه مرغه پکتيا پوهنتون د علمي او څېړنيزو کړنو تر څنګ د قلم په نوم د يوې علمي او څېړنيزې مجلې د چاپولو وياړ هم له ځانه سره لري، چې د طبيعي او ټولنيزو علومو په برخه کې د هيواد د مختلفو پوهنتونونو د قدرمنو استادانو او محققينو علمي او څېړنيزو مقالو چاپ ته ځانګړې شوې ده. د خوښۍ ځای دی چې د پکتيا پوهنتون علمي څېړنو معاونيت د مجلې آمريت د زيارکښو مسئولينو له لورې د يادې مجلې ۲۱مه ګڼه هم د چاپ په درشل کې ده.

د مبارکۍ تر څنګ له ټولو هغو قدرمنو استادانو چې خپل علمي او څېړنيزې مقالې يې قلم مجلې ته رالېږلې او د مجلې له مسئولينو څخه چې، د قلم مجلې په ترتيب، ډيزاين او تخنيکي برخه کې يې نه ستړې کېدونکې هڅې کړې دي، د زړه له تله مننه کوم او د لوی الله له دربار څخه د دوی لپاره په راتلونکي کې د لا ډېرو برياوو غوښتونکی يم.

په درنښت

مولوي عبدالحکيم حمدي

د پکتيا پوهنتون رئيس

# د مطالبو لیکلړ


| گڼه | د مقالې عنوان | لیکوال/لیکوالان | صفحې |
|---|---|---|---|
| ۱ | په باثباته او اقتصادي کرنه کې د غنمو د اصلاح شوو ورایټیو د کښت رول | محمد قیوم منگل، عبدالوهاب حکمت او یوسف خان زیار | ۱ - ۱۷ |
| ۲ | بررسی تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی خانواده‌های روستایی (مطالعه موردی: ولایت فراه) | نصیراحمد نصرت و محفوظ الله راشد | ۱۹ - ۳۷ |
| ۳ | بررسی روش‌های آشکارسازی پرتوهای کیهانی | سید عرفان مصباح و عبدالله مسلم | ۳۹ - ۵۰ |
| ۴ | په جسمونو باندې د ځمکې د جاذبې قوې آغېزې او د نیوټن د جاذبوي قانون د استعمال څېړنه | سید صدرالدین‌ها شمي او سیدحبیب الله‌ها شمي | ۵۱ - ۶۰ |
| ۵ | بررسی ارجاع گروپ کاربوکسیل | جمعه خان واثق | ۶۱ - ۷۸ |
| ٦ | بررسی تغییرات خارج از نورم در تکامل انسان | ضیاالله احمدزی و خواجه محمد چرخی | ۷۹ - ۹۹ |
| ۷ | د جزاگانو په تطبیق کې د اسلامي شریعت عدالت ته یوه کتنه | روح الله حمیدي او نصرت الله نصرت | ۱۰۱ ـ ۱۲۲ |
| ۸ | د سترې محکمې نافذه اصولو له مخې د فیصلې لومړي مخ (رأس الورقه) شکلیاتو ته کتنه | شریف الله امین او شاهدالله صافی | ۱۲۳ ـ ۱۴۲ |
| ۹ | د اسلامی شریعت او کریمنولوژۍ له نظره د انسان د زیږون څخه وړاندې د بېلابېلو جرمي عواملو د مخنیوي لارو چارو څېړنه | شاهدالله صافی او شریف الله امین | ۱۴۳ ـ ۱۶۰ |
| ۱۰ | چالش‌ها و راهکارهای حفاظت از آثار باستانی مس عینک لوگر | سید علی آقاها شمی و حبیب الرحمن حبیبی | ۱۶۱ ـ ۱۸۲ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۱ | د افغانستان په ښاري او کليوالو سيمو باندې د سپلابونو د خطرونو او اغېزو څېړنه | نوراحمد احمدي او محمد کاظم يوسفي | ۱۸۳ـ۲۰۶ |
| ۱۲ | بررسی مضامین تعلیمی و اخلاقی در مخزن‌الاسرار نظامی | صالح محمد صالح و دکتور شفیق الله شفقت | ۲۰۷ـ۲۳۳ |
| ۱۳ | نگاهی بر وضعیت گردشگری تاریخی ولایت غزنی | ملاجان رحمانی | ۲۳۵ـ۲۵۲ |
| ۱۴ | نگاهی به مؤلفه‌های اخلاقی و تعلیمی در شعر محمد کبیر کبیری | پوهنمل دکتور بلال‌احمد فضلی و پوهنمل نورالله شاداب | ۲۵۳ـ۲۸۲ |
| ۱۵ | واکاوی درونمایه‌های عرفانی در سروده‌های عایشه درانی | شفیق الله شفقت | ۲۸۳ـ۳۰۸ |
| ۱٦ | د (۲۰۰۸- ۲۰۲۳م) کال پورې د افغانستان په بهرني تجارت باندې د افغانيو تبادلې نرخ د بدلون اغيز | سيدآجان مسلم يار او حبيب الرحمن ستانکزی | ۳۰۹ـ۳۲۹ |
| ۱۷ | د نړيوالو تړونونو د تفسير مراجع | عبدالناصرستانکزی او محمدصادق حريفال | ۳۳۱ـ۳۴۴ |
| ۱۸ | بازتاب مفاهیم عرفانی و صوفیانه در اشعار حیدری وجودی | رحیم الله داوزی و محمد ظریف صفرری | ۳۴۵ـ۳۵۸ |
| ۱۹ | د قران کريم او نبوي احاديثو په رڼاکې د حسد مفهوم، زيانونه او دمخنيوي لاري چارې | احسان الله شهامت او منت الله آخندزاده | ۳۵۹ـ۳۸۳ |

# په باثباته او اقتصادي کرنه کې د غنمو د اصلاح شوو ورایټیو د کښت رول

محمد قیوم منگل[1*]، عبدالوهاب حکمت[2] او یوسف خان زیار[3]

اگرانومي څانگه، کرنې پوهنځی، پکتیا پوهنتون[1-2-3]

mangal.m.q@gmail.com

## لنډیز

دا څېړنه پکتیا پوهنتون کې د RCBD ډیزاین کې په پنځو تکرارونو کې په لار اچول شوې وه، چې د غنمو څلور ورایټیگانې په کې په دې موخه په پرتله ایزه توگه ترڅېړنې لاندې نیول شوې، څو معلومه کړای شي، چې ددې ولایت تر اقلیمي شرائطو لاندې په اقتصادي پرمختیا کې کومه ورایټي مخکښه ده. په پایله کې معلومه شوه، چې د ورایټیو د ارثي خواصو د اغیز له امله د ورایټیو ترمنځ حاصل پورې اړوند څانگړنو کې د پام وړ او څرگند توپیرونه موجود وو. په یو متر مربع ساحه کې ډېر (۳۱۰,۲) وږي د غوري – ۹٦ ورایټۍ تولید کړي وو، چې د مزار- ۹۹ سره یې ورته والی درلود، اما د نورو په نسبت یې د وږو په شمیر کې د پام وړ زیاتوالی موجود وو. د وږو د اوږدوالي، په وږي کې د Spikelets شمېر، په وږي کې د دانو شمېر او زرو دانو وزن کې هم د غوري -۹٦ تر نورو مخکښه وه. د غوري ـ ۹٦ د دانو او واښو حاصل د نورو په پرتله لوړ (۳,۹۲ ټن په یو هکتار) او (٦,۷۴ ټن په یو هکتار) وو، چې د مزار ـ ۹۹ سره یې چندان توپیر نه درلود، خو د نورو سره یې څرگند توپیر درلود، د اقتصادي گټورتیا له مخې د غوري ـ ۹٦ کرنه تر نورو اقتصادي وه، چې د یو هکتار یې په تر تیب سره (۱٦۲۱۴۹ افغانۍ ) ناخالص عاید، (۱۱۳۵۱۵ افغانۍ ) خالص عاید او (۲,۳۳) د لگښت او لاسته راغلې خالصې گټې نسبت په لاس راغلی وو. پس سپارښتنه کولی شو، چې د غوري ـ ۹٦ ورایټۍ هغه یوه ده، چې کرنه یې د پکتیا ولایت د اقلیمي شرایطو سره د ښه توافق او لوړ حاصل ورکولو پر بنسټ په با ثباته او اقتصادي مهم رول لري.

**کلیدي کلمې:** اصلاح شوې ورایټیگانې، اقتصادي گټورتیا، باثباته کرنه او غنم.

## سريزه

بسم الله الرحمَن الرحيم،

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّي عَلَى رَسُولِهِ الْكَرِيمِ، أَمَّا بَعْدُ:فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، هُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ۖ لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ﴿١٠﴾ يُنبِتُ لَكُم بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالْأَعْنَابَ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١١﴾ (النحل، ١٠ – ١١).

د نفوسو چټګه ډېرېدنه، د سرچينو کمښت او د هغوی څخه ناسمه ګټه اخيستنه ددې سبب ګرځي، چې راتلونکي نسلونه د لوږې تر څنګ د بېلابېلو بشري ناورينونو سره مخ شي. ددې لپاره، چې ددغه ډېريدونکي نفوس لپاره، چې د چاپيريال په خونديتوب او د سرچينو څخه په مؤثره توګه د ګټې اخيستنې له لارې داړتيا وړ خواړه او نور توکي برابر کړو اړتيا ليدل کېږي، چې د کرنې په برخه کې د غنمو د کښت موثريت او ثبات ته ځانګړې پاملرنه وشي. غنم د کرنيزو نباتاتو له ډلې څخه هغه نبات دی، چې د نړۍ په کچه په پراخو کرنيزو ساحو کې کرل کېږي. د کاربوهايدريتونو (نشايستې) او پروتينو (ګلوتين) درلودو په اساس يې د تاريخ په اوږدو کې د انسانانو لپاره په زړه پورې لومړني خوراکي توکي برابر کړي دي ځکه خو وايي، "که غنم نه وی شايد دغه نړۍ به داسې نه وی". غنم دننه په هېواد کې هم په زړه پورې او د لومړنۍ درجې او په زياته کچه کرل کيدونکی نبات دی، چې د هېواد زياتره وګړي يې له اوړو څخه د ډوډۍ پخولو په بڼه ګټه پورته کوي او د خپلې اړتيا وړ انرژۍ دغنمو له ډوډۍ څخه په لاس راوړي. د ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹م کالونو په موده کې د نړۍ په کچه دغنمو ټوله کرل کيدونکې ساحه (۲۱۵,۴۴ ميلونه هکتاره )او د توليد ټوله اندازه يې ( ۷۱۳,۴٦ ميلونه ټنه ) او په يو هکتار ساحه کې يې د حاصلاتو منځنۍ اندازه (۳,۴۰ ټنه ) ښودل شوې ده. دنړۍ هغه ستر دری هېوادونه، چې په زياته ساحه يې غنم کرل شوي په ترتيب سره له هند (۵۸,۲۹ ميليونه هکتاره)، روسيه (۲٦، ۳۴ ميليونه هکتاره) اوچين (۲۴,۲۷ ميليونه هکتاره) څخه عبارت دي او هغه هېوادونه، چې ډېر غنم يې توليد کړي دي په ترتيب سره له چين (۱۳۱,۴۳ ميليونه ټنه)، هند ( ۸۷,۹۹ ميليونه ټنه ) او روسيه (۷۱,٦۹ ميليونه ټنه ) او همدارنګه هغه هېوادونه، چې په يو هکتار ساحه کې يې د تر ټولو لوړ توليد ورکړي دي په ترتيب سره له مصر، چين او ازبکستان څخه

دي، چې په یو هکتار ساحه کې یې د تولید منځنۍ اندازه په ترتیب سره له (٦، ۴۳ ټنه)، (۵، ۳۷ ټنه) او (۵، ۱۴ ټنه) څخه دی دا په داسې حال کې ده، چې د ننه په هېواد کې د غنمو کرل کیدونکې ټوله ساحه (۲، ۵۵ میلونه) هکتاره، د ټول تولید اندازه یې (۵) میلیونه ټنه او په یوه هکتار ساحه کې یې د تولید منځنۍ اندازه (۱، ۹٦ ټنه) ښودل شویده (USDA.2019). که چیرته په نړیواله کچه دغنمو تولید او په یو هکتار ساحه کې د هغوی د تولید منځنۍ اندازه د افغانستان سره پرتله کړای شي په ډاګه کېږي، چې په افغانستان کې په یوهکتار ساحه کې غنمو د تولید منځنۍ اندازه تر نیمایي هم کمه ده، په داسې حال کې، چې په افغانستان کې د یو سړي په سر د غنمو مصرف له هر بل هیواد څخه زیات دی؛ ځکه چې د یو نفر په سره د غنمو کلنی لګښت (۱۷۰ کیلوګرامه )، په ایران کې (۱٦۰ کیلوګرامه)، ازبکستان کې (۱٦۴ کیلوګرامه)، پاکستان کې(۱۰٦ کیلوګرامه) او په نورو اسیایې هېوادونو کې (٦٦ کیلوګرامه) ښودل شوی دی (RASTA, 2012). دا چې د غنمو په اقتصادي او با ثباته کرنه او تولید باندې ځیني اګرانومیکي عوامل لکه د باکیفیته او اصلاح شوو تخمونو کښت، د کیمیاوي سرو استعمال مناسبې اندازې او پر وخت استعمال، د مناسبو کرنیزو عملیو ترسره کول، د کرلو مناسب میتود او وخت، د منظم کرنیز تناوب مراعتول، منظم اوبخور، دکرلو او حاصل اخیستلو لپاره د عصري تکنالوژۍ موجودیت، د ناروغیو، آفتونو، هرزه بوټو موجویت او داسې نور په زیاته کچه اغیزه لرلی شي. څېړنو په ډاګه کړې، چې د یادو عواملو سربیره د غنمو اقتصادي کرنه او حاصل تر زیاتې اندازې پورې د یوې سیمې په اقلیمي شرائطو او په خپله د نبات په ارثي خواصو پورې اړه لري؛ ځکه چې دغه نبات د ښې ودې او نمو لپاره ځانګړو اقلیمي شرائطو ته د اړتیا په درلودو سره د بېلابېلو ورایټیو ارثي خواصو په اساس هم تر اغېزې لاندې راځي، کوم چې د ضیایي ترکیب د علمیې د ترسره کیدو پر بنسټ د ښې ودې او حاصل ورکولو وړتیا له مخې یوې له بلې سره توپیر لري، ځکه همدا د ضیایې ترکیب عملیه ده، چې د نبات په قد، د وچو موادو په جوړیدنه، دپاڼو په شمیر، په یو مترمربع ساحه کې د ټیلرونو د تولید شمېر، د وړو اوږدوالی، په هر وړي کې د دانو شمېر او د زرو دانو وزن باندې د اغېزې له امله د نبات آخرنی حاصل تر اغېزې لاندې راولي. په دې اساس د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو او سیمو کې داقلیمي شرائطو پر بنسټ د غنمو بېلابېلې وراټیګانې د څېړنو له لارې رامنځته شوې او د هرې سیمې تر اقلیمي شرایطو لاندې د ځانګړو ورایټیو کرنې صورت نیولی دی. کومار او ملګرو یې په ۲۰۱۳م کال کې ویلي دي، په عام ډول سره

دغنمو د ښې ودې او حاصل لپاره د غنمو هغه ورايټيګانې بايد وکرل شي، چې د سيمې د اقليمي شرايطو سره د توافق ترڅنګ د ژر پخېدنې وړتيا هم ولري. همدارنګه عيسي او ملګرو يې په ۱۹۹۵م کال کې څرګنده کړې، چې هر نبات اقتصادي کرنه د هغه د ارثي خواصو له مخې د ښې ودې او حاصل لپاره ځانګړو اقليمي شرايطوته اړتيا لري په دې اساس د نبات اقتصادي کرنې او ښه حاصل لپاره د سيمې اقليمي شرائط بايد د پامه ونه غورځول شي. د ننه په هېواد کې د غنمو په بيلابيلو ورايټيګانو باندې په بيلابيلو سيمو کې تجربوي څېړنې شوې دي او د يوې ځانګړې سيمې د اقليمي شرائطو لپاره د هغوی د توافق په اساس د لوړ حاصل د توليد په موخه د ځانګړو ورايټيو سپارښته شوې ده، غفاري او ملګرو په ۲۰۱۴ م کال کې د غنمو دری (PBW 154)، (دارلمان ۰۷) او (هرات ۹۹) ورايټيګانې، چې د کندهار تر اقليمي شرائطو لاندې يې په پرتليزه توګه تر تجربې لاندې نيولې وې په ډاګه کړې ده، چې دکندهار ولايت تر اقليمي شرائطو لاندې دHerat 99 په نوم ورايټې هغه ورايټې ده، چې د نبات لوړ قد په درلودلو سره يې زيات ټيلرونه، د نبات وچ مواد، دپاڼو دسطحې انډيکس، په يو مترمربع ساحه کې د زياتو وړو په توليد وړتيا په درلودو سره تر نورو ډېر او لوړ د غنمو او پروړې (بوسو) حاصل ورکړی وو.

دا چې د کرنې په برخه کې ټول پرمختګونه د عملي څېړنو او نوښتونو د لارې رامنځته شوي اما د افغانستان په شرائطو کې ساحوي څېړنو په ډېره کمه اندازه صورت نيولی دی. پر دې بنسټ د دې ډول عملي څېړنو په لاره اچولو سره به وکولی شو، چې تر يوحده د بزګرانو ستونزې هوارې او د سيمې په اقليمي شرائطو برابرو ورايټيو په پيدا کولو سره به په هېواد کې دغنمو د توليداتو کچه لوړه کړو. له همدې امله اړتيا ليدل کيده، چې د يوې څېړنې له لارې د پکتيا ولايت تر اقليمي شرائطو لاندې د غنمو د باثباته او اقتصادي کرنې لپاره د غنمو د څو ورايټيو له منځه څخه معلومه کړو، چې د پکتيا ولايت تر اقليمي شرايطو لاندې کومه يوه يې د ښې ودې او حاصل ورکولو وړتيا په درلودو سره د دغه ولايت د بزګرانو لپاره اقتصادي تماميږي، څو د همدې په ګوته شوې ورايټې د کرنې له لارې د بزګرانو د زيار او زحمت ګاللو په پايله کې د في واحد ځمکې څخه زيات او لوړحاصل لاسته راوړلو لپاره لاندې موخو ته ورسيږو.

- دسرچينو څخه په موثره توګه د ګټې اخيستنې له لارې د غنمو اقتصادي کرنه په ګوته کول.

- د غنمو کرل کیدونکو ورایټنو له منځه څخه د لوړ حاصل ورکونکو ورایټیو په لاس راوړل.
- د هېواد برګرانو د باثباته کرنې لپاره د غنمو د اصلاح شوو ورایټیو دمنځه څخه د اقتصادي ورایټیو کرنه په ګوته کول.

## د تجربې کړنلاره او مواد

دغه څېړنه د پکتیا ولایت مرکز ګردېز پکتیا پوهنتون د کرنې پوهنځي په کرنیز فارم کې د۱۳۹۷ کال د لړم میاشتې له ۱۲نیټې څخه پیل او ۱۳۹۸ کال د سرطان میاشتې تر ۲۰ نیټې پورې تر سره شوې ده، چې د جغرافیاوي موقیعت له مخې د ختیځ طول البلد په ٦٩ درجو، ۱۳ دقیقو، ۵۷ ثانیو او د شمالي عرض البلد په ۳۳ درجو، ۳۸ دقیقو او ۰٦ ثانیو او د بحر له سطحې څخه ۲۳۸۴ متره لوړوالي سره د هېواد په سړو او نسبتاً وچو سیمو کې شاملیږي، واورین ژمی وچ اونسبتاً تود دوبی لري، د اورښت کلنۍ اندازه یې کمه او زیاتره اورښت یې د ژمي په موسم کې د واورې په بڼه صورت نیسي. د وروستیو لسو کلنو د اورښت منځنۍ اندازه یې د پکتیا د هوا پیژندنې ادارې له خوا ۴۸۳ ملي متره ثبت شوې ده. د لیندې، مرغومي، سلواغې او کب میاشتې یې عموماً ډېرې سړې میاشتې ګڼل کېږي او د تودوخې منځنۍ درجه یې له صفر څخه هم راښکته کیږي، چې په دې وخت کې غنم عموماً د ژمني استراحت په حالت کې پاتې کېږي. د چنګاښ، زمري او وږي میاشتې یې عموماً تودې او د تودوخې درجه یې له ۲۵ ـ ۳۰ سانتي ګرید پورې لوړیدلی شي. موسمي اورښتونه یې د مرغومي میاشتې د دویمې نیمایې له پیل څخه بیا د وري میاشتې د لومړی نیمایې پوري صورت نیسي. خاوره یې نسبتاً ریګي او نوې کرنیزه خاوره وه، چې د مرکز ګردیز د نورو کرنیزو خاورو په نسبت یې حاصل خیزي کمزورې وه. تجربه د بلاکونو په بشپړه اتفاقي طرحه (RCBD) کې له پنځو تکرارونو سره، چې هر تکرار یې څلورتریتمنتونه ( کوچني پلاټونه )، چې د هر پلاټ مساحت یې ۳×۴ متره مساحت درلود. او په تجربوي پټیو کې یې د قرعه کشۍ له مخې د غنمو څلور وریټیګانې هره یوه (للمي ـ۴ )، (غوري ـ ٩٦ )، (مقاوم ـ ۹) او (مزار ـ ۹۹) کرل شوې وې. په یو هکتار کې د ۱۲۰ کیلو ګرامو نایتروجن او ۸۰ کیلو ګرامه فاسفورس، چې د نایتروجن یوه اندزه یې د کرنې په وخت کې له ډای امویم فاسفیت (DAP) څخه او پاتې نور یې د یوریا (Urea) سرې استعمال له لارې په دری وختونو ( ۱/۳ برخه یې د کرنې په وخت، ۱/۳ یې د ټیلرونو یا فرعي ساقو د تولید او پاتې ۱/۳ یې د ګل په مرحله کې) او فاسفورس یې ټول د کرنې په وخت کې د ډای امونیم فاسفیټ (DAP) د

استعمال له لارې ورته ورکړل شوی وو. د غنمو ورايټيګانو تخم د دغه ولايت د کرنې او مالدارۍ رياست د هغه ورايټيو له تخم څخه وو، کوم چې په همدغه کال کې د ياد رياست له لوري په بېلابېلو ولسواليو کې پر بزګرانو وېشل شوی وو. دکرنې په وخت کې يې قطاري طريقه په پام کې نيول شوې وه، چې د دوه قطارونو ترمنځ فاصله يې ۲۰ سانتې متره، د تخم ژوروالي يې ۵ سانتې متره او د يو هکتار کروندې لپاره يې ۱۲۵ کيلوګرامه تخم په پام کې نيول شوی وو. د نبات د ودې په جريان کې ټولټال شپږ اوبخورونه ورکړل شوي وو، چې يو يې د کرنې څخه وړاندې او پاتې نور يې اړتيا ته په پام کې نيول شوي وو. د غنمو د بېلابېلو ورايټيو د اغيزو د معلومونې لپاره د غنمو لسو(۱۰) نباتاتو له مخې په يو متر مربع ساحه کې د مؤثرو وړو شمېر، د وړي اوږدوالی، په يو وړي کې د Spikelets شمېر، د يو وړي وزن، په يو وړي کې د دانو شمېر، د يو وړي د دانو وزن، د زرو دانو وزن، په ټوله کې د دانو حاصل، پروړې (واښو) وزن، د حاصل اندکس، مجموعي عايد، خالص عايد او د لګښت او خالصې ګټې نسبت مشاهدات د دغه ساحوي تجربې په جريان کې ثبت او ريکاډ کړی شوي او د فيشر (۱۹۳۷) د معياري تحليل اصولو له مخې د ام. اس. ايکسل په مرسته محاسبه تحليل شوي دي.

## پايله او مناقشه

دغه څېړنه "په باثباته او اقتصادي کرنه کې د غنمو د اصلاح شوو ورايټيو د کښت رول" ترسرليک لاندې د پکتيا پوهنتون د کرنې پوهنځي په فارم کې په لار اچول شوې وه، چې د حاصل اړونده پايلې او موندنې يې په جلا جلا جدولونو کې ځای پر ځای شوې او د علمي دلايلو پر بنسټ د ممکنه حده تر بحث مناقشې لاندې نيول شوي دي.

۱ـ د اقليمي شرائطو او د هوا حالتو اغيزې: د اچې د تجربې د ترسره کيدو ځای د هېواد په ساړو او نسبتاً وچو سيمو کې شامليږي، چې واورين ژمی تود اونسبتاً وچ دوبی لري او د دغې تجربې د کرنيز فصل د مياشتنۍ اورښت منځنۍ اندازه ۶۲,۸ ملي متره ثبت کړی شوې ده، چې د اورښت تر ټولو کمه اندازه يې ۱۱ ملي متره د جون او تر ټولو زيات ۱۳۰ ملي متره د مې په مياشتو کې ثبت کړی شوی دی. د تودوخې مياشتنې منځنۍ لوړه درجه ۲۴ سانتي ګريډ د جولای اوتر ټولو ښکتنۍ درجه (۴ – ) سانتي ګريډ يې دجنوري او فبروري په مياشتوکې ريکاډ کړی شوی. په داسې حال کې، چې

د نسبتي لنده بل میاشتنې منځنۍ ټیټه اندازه ( ۳ ٪) یې د جولای میاشتنۍ او منځنۍ لوړه (۵۹ ٪) اندازه یې د فبروري په میاشتو کې ثبت کړی شوې ده. دثبت کړی شوو معلوماتو څخه په ډاګه کېږي، چې د تودوخې په ټیټه درجه کې غنم د استراحت او د تودوخې د لوړې درجې پر مهال د غنمو د پخوالي مرحله وه. په دې توګه ویلی شو، چې د تر سره شوې تجربې په ځای کې د هوا حالت د غنم د ودې لپاره مناسب او په زړه پورې حالت دی.

۲ . د حاصل اړوند ځانګړنې

۲. ۱. په یو متر مربع ساحه کې د وږو شمېر: د تحلیل شوو ارقام (۱ـ جدول) څخه په ډاګه کېږي، چې په یو متر مربع ساحه کې د وږو په شمېر کې د ورایټیو ترمنځ څرګند توپیر موجود وو او د غوري –۹٦ ورایټي تر نورو ډېر شمېر وږي تولید کړي وو، چې د مزار- ۹۹ سره یې ورته والی درلود. د ورایټیو ترمنځ د توپیر دا ځانګړنه ممکن د هغوی په ارثي خواصو پورې اړه ولري ځکه، چې ددغې ځانګړنې د توپیر په اړه (Tahir, *et al*., 2009؛ Khan, *et al*., 2008؛ Hussain, *et al*., 2001، Suleiman *et al*., 2014 او Maqsood, *et al*., 2000) هم ورته نظرونه ورکړي دي.

۲ . ۲. د وږي اوږدوالی او په یو وږي کې د Spikelets شمېر : د غنمو د وږي اوږدوالي له محاسبه شوو ارقام (۱ـ جدول) څرګندوي، چې د غنمو د ورایټیو تر منځ د وږي په اوږدوالی او په یو وږي کې د غُنچو په شمېر کې د پام وړ کوم توپیر نه وو رامنځته شوی اما په دې دواړو ځانګړنو کې د غوري- ۹٦ په نوم ورایټي تر نورو ټولو مخکښه وه. په داسي حال کې، چې (Rahman, *et al*., 2010 او Bakht *et al*., 2007 ) له خوا هم ورته پایلو ته رسیدلی وو، چې ددغې څېړنې پایلو ته د تړاو ورکونې په برخه کې‌ترین ه کار اخیستلی شو.

۲. ۳. په یو اوږي کې د دانو شمېر : په یو وږي کې د دانو په شمېر پورې اړوند (۵ـ جدول) ارقام په ډاګه کوي، چې د غنمو څلورو واړو ورایټیو تر منځ په یو وږي کې د دانو په شمېر، د زرو دانو په وزن، د یو وږي وزن او د وږي په اوږد والي کې د محاسبه شوو ارقامو له پلوه څرګند توپیر نه وو رامنځته شوی اما بیا هم په دې ټولو ځانګړنو کې د غوري- ۹٦ ورایټي تر ټولو غښتلې ورایټي وه، چې ددغو توپیرونو د نه رامنځته کیدو دلیل ممکن د سیمې اقلیمي شرائط وي او په نورو سیمو کې

ممکن په دې برخه کې د ورايټيګانو تر منځ د پام وړ توپير رامنځته شي(Mali *et al*., 2011 او Akram, *et al*, 2011 ).

۱ـ جدول: په يو متر مربع ساحه کې د وږو په شمېر، د وږي په اوږدوالي، په يو وږي کې د Spikelets په شمېر او په يو وږي کې د دانو په شمېر باندې د غنمو د ورايټيګانو اغيزې.

| د حاصل اړوند ځانګړنې | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د غنمو ورايټيګانې | په يو متر مربع سطحه کې د وږو شمېر | د وږي اوږدوالی (سانتي متر) | په يو وږي کې د Spikelets شمېر | په يو وږي کې د دانو شمېر |
| للمي - ۴ | ۲۴۹,٦c | ۱۰,۰ | ۱۷,۵ | ۴۰,۱ |
| غوري - ۹٦ | ۳۱۰,۲a | ۱۱,۴ | ۱۹,۵ | ۴۲,۳ |
| مقاوم – ۰۹ | ۲۸۲,٦b | ۱۱,۱ | ۱۹,۲ | ۴۱,۷ |
| مزار ۹۹ | ۳۰۰,۸ab | ۱۱,۱ | ۱۹,۴ | ۴۱,۷ |
| SEm (±) | ۸,۴۰ | ۰,۳۹ | ۰,۷۲ | ۱,۲۹ |
| CD (P=0.05) | ۲۵,۸۹ | ns | ns | Ns |
| CV | ٦,۵۷ | ۷,۹۷ | ۸,۵۴ | ٦,۹۹ |

## ۳ . حاصل

۳ . ۱. د دانو حاصل : د غنمو د دانو د حاصل اړوند محاسبه شوو ارقامو (۲ـ جدول) څرګندوي، چې د غنمو د بېلابېلو ورايټيو له امله د غنمو د دانو په حاصل کې د پام وړ او څرګند توپير موجود وو، چې د يو هکتار کروندې د دانو تر ټولو لوړ حاصل د غوري- ۹٦ ورايټي څخه تر لاسه شوی وو. ورايټيو تر منځ په حاصل کې د توپير شته والی ممکن د هغوی د ارثي خواصو له امله رامنځته شوی وي د کومو له مخې يې، چې په يو متر مربع ساحه کې زياتې فرعي ساقې او وږي توليد کړي وو. ددغې څېړنې پايلو سره د اړيکې ورکونې په پار د Fathy *et al*., 2015؛ Moghadam *et al*.,

Motavassel *et al.*, 2013؛2014 او Hussain *et al.*, 2012 موندنو ته تړاو ورکولی شو ځکه، چې دوي هم د خپلو څېړنو په پایله کې د ورته موندنو سره مخ شوي وو.

۳ . ۲. د پروړې یا وچو واښو حاصل : د ورایټیو په منځ کې د غنمو د پروړې په حاصل کې هم د دانو د حاصل په څېر په ښکار ډول توپیر موجود وو، (۲ـ جدول) چې په یو هکتار ساحه کې د غوري – ۹٦ تر نورو لوړ حاصل تولید کړی وو، چې د پروړې د حاصل دغه لوړه اندازه ممکن د همدې ورایټي د نباتاتو د لوړ قد او په في واحده ساحه کې د زیاتو فرعي ساقو د تولید له امله رامنځته شوی وي. په لاس راغلې پایله د Laghari *et al.*, 2011 ، Gawali *et al.*, 2015 او Tahir *et al.*, 2009 پایلو پر بنسټ تائیدولی شو ځکه، چې دوی هم د څو ورایټیو د پرتله کونې پر مهال د ورته موندنو سره مخ شوي وو.

۳ . ۳. بیولوژیکي حاصل : د غنمو په بیولوژیکي حاصل پورې اړوند محاسبه شوي ارقام (۲ـ جدول) څرګندوي، چې د ورایټیو په بیولوژیکي حاصل کې د پام وړتوپیر موجود وو او په یو هکتار کروندې کې تر ټولو ډیر بیولوژیکي حاصل هم غوري – ۹٦ ورایټي تولید کړی وو، په داسې حال کې، چې تر ټولو کم بیولوژیکې حاصل د للمی – ۴ په نوم ورایټي څخه په لاس راغلی وو. د څېړنې دغه پایله د همدې ورایټي د دانو او واښو د لوړ او ډیر تولید له امله رامنځته شوې ده ځکه، چې د بیولوژیکي حاصل مجموعه د دانو او واښو څخه په لاس راغلي ده، ددې پایلې د تائید په اړه ویلی شو، چې هر یو Shirazi *et al.*, 2014 ؛ Nizamani *et al.*, 2014 او Rahman *et al.*, 2010 هم د خپلو څېړنو په پای کې د ورته پایلو راپور ورکړی وو.

۳ . ۴. د حاصل شاخص: د حاصل شاخص ( Harvest Index) پورې اړوند تحلیل شوي ارقام (٦.جدول) څرګندوي، چې د غنمو د ورایټیو په منځ کې د حاصل په شاخص کې کوم د پام وړ توپیر نه وو رامنځته شوی خو تر ټولو لوړ د حاصل شاخص (۳٦,۹۱٪) د غوري – ۹٦ ورایټي څخه په لاس راغلی وو.

۲ـ جدول: د غنمو د دانو، پروړې او بيولوژيکي حاصل او د حاصل په شاخص (H.I) باندې د غنمو د ورايټيو اغيزې.

| د غنمو ورايټېګانې | د دانو حاصل (t ha-1) | د پروړې حاصل (t ha-1) | بيولوژيکي حاصل (t ha-1) | د حاصل شاخص (٪) |
|---|---|---|---|---|
| | حاصل ټن په يوهکتار (t ha-1) | | | |
| للمي - ۴ | ۲,۸۱c | ۵,٦۱c | ۸,۴۲c | ۳۳,٦۹ |
| غوري - ۹٦ | ۳,۹۲a | ٦,۷۴a | ۱۰,٦۷a | ۳٦,۹۱ |
| مقاوم – ۰۹ | ۳,۳۲b | ٦,۱۳b | ۹,۴۵b | ۳۵,۳۳ |
| مزار ۹۹ | ۳,۷٦ab | ٦,۵۳ab | ۱۰,۲۹a | ۳٦,۸۵ |
| SEm (±) | ۰,۱۵۳ | ۰,۱٦۸ | ۰,۲٦۵ | ۰,۹۹٦ |
| CD (P=0.05) | ۰,۴۷۲ | ۰,۵۱۷ | ۰,۸۱۸ ns | |
| CV | ۹,۹۳۱ | ۵,۹۹۷ | ٦,۱۱۲ | ٦,۲۴۰ |

## ۴ . اقتصادي ګټورتيا

د کښت ناخالص او خالص عايدات : د غنمو ورايټيو د ناخالصو او خالصوعايداتو له محاسبه شوو معلوماتو (۲ـ جدول) څخه څرګنديږي، چې د ورايټيو په ناخالصو او خالصو عايداتو کې د پام وړ توپير موجود وو، چې په دې برخو کې هم د غوري – ۹٦ ورايټي کښت تر نورو ټولو اقتصادي ګڼل شوې دا له دې امله ده، چې نوموړې ورايټي تر نورو ډېر د غنمو او واښو حاصل توليد کړی وو. په داسې حال کې، چې د څو ورايټيو د پرتلنې څخه وروسته Pyare *et al*., 2015 او Musaddique *et al*, 2011 هم د ورته پايلو ته رسيدلی وو.

۳- جدول: د غنمو د کښت ټول لګښت، ټولیز عاید، خالص عاید او د لګښت او په لاس راغلې خالصې ګټې په نسبت باندې د بېلابیلو ورایټیو اغیزې.

| د غنمو ورایټېګانې | د کښت ټول لګښت (افغانۍ په هکتار) | ټول عاید (افغانۍ په هکتار) | خالص عاید (افغانۍ په هکتار) | د لګښت او په لاس راغلې خالصې ګټې نسبت |
|---|---|---|---|---|
| للمي - ۴ | ۴۸۶۳۳ | ۱۲۳۵۱۴c | ۷۴۸۸۰c | ۱,۵۴c |
| غوري - ۹۶ | ۴۸۶۳۳ | ۱۶۲۱۴۹a | ۱۱۳۵۱۵a | ۲,۳۳a |
| مقاوم – ۰۹ | ۴۸۶۳۳ | ۱۴۱۱۷۳b | ۹۲۵۳۹b | ۱,۹۰b |
| مزار ۹۹ | ۴۸۶۳۳ | ۱۵۶۰۸۵a | ۱۰۷۴۵۱a | ۲,۲۱a |
| SEm (±) | - | ۴۶۵۶,۹ | ۴۶۵۶,۹ | ۰,۰۹۶ |
| CD (P=0.05) | - | ۱۴۳۴۹,۴ | ۱۴۳۴۹,۴ | ۰,۲۹۵ |
| CV | - | ۷,۱ | ۱۰,۷ | ۱۰,۷۲۵ |

## پایله اخیستنه

غنم د هېواد په زړه پورې، لومړنۍ درجې او زیاته کرل کیدونکی نبات دی چې د هېواد زیاتره وګړي یې د لومړني خوراکي توکي په توګه د اړتیا وړ انرژي د غنمو له اوړو څخه د ډوډۍ پخولو په بڼه ګټه پورته کوي او پرته له ډوډۍ څخه د افغانانو دستر خوان نیمګړی ګڼل کېږي . ددې لپاره، چې ددې زیات مصروفونکي او مهم نبات په کرل کیدو سره چاپیریال خوتدي او له سرچینو په موثره توګه ګټه پورته کړو اړتیا لیدل کېږي، چې غنم نبات د باثباته او اقتصادي کرنې لپاره د هغه په ارثي خواصو او هغو اقلیمي شرایطو ته ځانګړې پاملرنه وکړو ځکه هر نبات د ښې ودې او لوړ حاصل ورکولو لپاره خاصو اقلیمي شرایطو ته اړتیا لري. ددې څېړنو د پایلو څخه څرګنده شوه، چې د غنمو

د څلور ورايټيو د منځه څخه د غوري ـ ۹٦ ورايټۍ هغه ورايټي وه، چې ددې ولايت د اقليمي شرايطو سره د توافق له مخې يې د غنمو او واښو د حاصل په برخه کې د نورو څخه لوړ (۳,۹۲ ټن په يو هکتار) او (٦,۷۴ ټن په يو هکتار) حاصل ورکړی وو، همدارنګه د اقتصادي ګټورتيا له پلوه هم ياده ورايټي تر نورو اقتصادي او مخکښه وه، چې د يو هکتار په سر يې په تر تيب سره تر نورو ډير او لوړ (۱٦۲۱۴۹ افغانۍ ) ناخالص عايد، (۱۱۳۵۱۵ افغانۍ ) خالص عايد او (۲,۳۳) د لګښت او لاسته راغلې خالصې ګټې نسبت څخه برخمنه وه ځکه خو سپارښتنه کولی شو، چې د پکتيا ولايت په شرايطو برابره او تر نورو ښه د غنمو ورايټۍ د غوري ـ ۹٦ ورايټۍ ده، چې د کرنې په پايله کې يې د لوړ حاصل لاسته راتلو په اساس د بزګرانو لپاره با ثباته او اقتصادي کرنه رامنځته کيدلی شي.

## وړانديزونه

- وړانديز کېږي چې د دې او دې ته ورته نورو پرله پسې څېړنو له لارې د غنمو هغه ورايټي ګانې په ګوته کړای شي چې په باثباته اقتصادي کرنه کې ونډه لري.
- له سرچينو څخه په مؤثره توګه ګټه اخيستنې او اقتصادي کرنې لپاره وړانديز کېږي چې کرونده ګر دې د غنمو هغه ورايټي ګانې وکري چې د سيمې په اقليمي شرائطو برابرې او د لوړ حاصل ورکولو وړتيا ولري.

## اخځليکونه

Akram, M. (2011). Growth and yield components of wheat under water stress of different growth stages. *Bangladesh Journal of Agriculture 36* (3): 455 – 468.

Bakht, J., Qamer, Z., Shafi, M., Akber, H., Rahman, M., Ahmad, N. & Javed, K. M.(2007). Response of different wheat varieties to various row spacing. *Sarhad Journal of Agriculture 23*(4):839-846.

Eissa, A. M., Shehab, T. M., & Dawood, A. M. (1995). Row-spacing and seeding-rate effects on yield and yield components of spring

wheat in Al-Qassim region, Saudi Arabia. Arabia. *Assiut J. Agric. Sci*. 26: 25- 36.

El-Nakhlawy, F. S., Alghabari, F., & Ihsan, M. Z. (2015). Response of wheat genotypes to planting dates in the arid region. *Sci. Agric*, *10*(2), 59-63.

Gawali, A., Puri, S., & Swamy, S. L. (2015). Evaluation growth and yield of wheat varieties under Ceiba pentandra (L) based agrisilviculture system. *Universal Journal of Agricultural Research*, *3*(6), 173-181.

Ghafari, S. R., Dass, A., Hamayoun, H., Mangal, M. Q., & Omran, A. H. (2017). Effect of row spacing on different wheat (Triticum aestivum L.) varieties in semi-arid region of Kandahar. *International Journal of Applied Research*, *3* (7), 93-97..

Hussain, M., Mehmood, Z., Khan, M. B., Farooq, S., Dong-Jin, L., & Farooq, M. (2012). Narrow row spacing ensures higher productivity of low tillering wheat cultivars. *International Journal of Agriculture and Biology*, *14*(3).

Hussain, S., Sajjad, A., Hussain, M.I. and Saleem, M. 2001. Growth and yield response of three wheat varieties to different seeding densities. *International Journal of Agriculture & Biology 3*(2): 228–229.

Khan, M. J., Bakht, J., Khalil, I. A., Shafi, M., & Ibrar, M. (2008). Response of various wheat genotypes to salinity stress sown under different locations. *Sarhad Journal of Agriculture*, *24*(1), 21.

Kumar, S., Alam, P., & Ali, N. (2013). Response of wheat (Triticum aestivum L. emend. Fori & Paol.) Varieties to sowing dates. *Journal of Research*, *25*(1), 56-59.

Laghari, G.M., Oad, F.C., Tunio, S., Chachar, Q., Gandahi, A.W., Siddiqui, M.U., Hassan, S.W.U. & Ali, A. (2011). Growth and yield attributes of wheat at different seed rates. *Sarhad Journal Agriculture 27* (2): 177 – 183.

Mali, H. & Choudhary, J. (2011). Performance of bread wheat (*Triticum aestivum* L.) varieties under different row spacing. *Journal of Wheat 4* (2): 55-57.

Maqsood, M., UL-Hassan, M., Khalid, M. T., & Ahmad, M. (2000). Comparative growth and yield performance of various wheat cultivars. *Int. J. Agric. Biol*, *2*, 374-375.

Moghadam, P. A., Alaei, Y., & Khabiri, E. (2014). Evaluation of yield and some morphological traits of wheat varieties under drought stress in Ardabil, Iran *International Journal of Plant, Animal and Environmental Sciences*, *4*(2):23 – 28.

Motavassel, H., Imani, A., & Khanzadeh, H. (2013). Evaluation of the yield and its components in 20 bread wheat genotypes in Moghan. *International Journal of Farming and Allied Sciences*, *2*(21), 935-938.

Musaddique, M., Hussain, A., Wajid, S. A. & Ahmad. (2011). Growth, yield and components of yield of different genotypes of wheat. *International Journal of Agriculture & Biology 2*(3): 242–244.

Nizamani, G. S., Imtiaz, A. K., Khatri Abdula, S. M., Nizamani, M. R., & Khaskheli, M. I. (2014). Influence of different row spacing on agronomic traits in different wheat varieties. *International Journal of Development Research*, *4*(11), 2207-11.

Pyare, R., Singh, R.K., Dixit, K.K. and Verma, V.K. 2015. Comparative studies on wheat (triticum aestivum l.) varieties and date of sowing under late sown conditions. Agriways **3**(1): 4-9.

Rahman, M. A., Hossain, S. J., Hossain, M. B., Amin, M. R., & Sarkar, K. K. (2010). Effect of variety and culture method on the yield

and yield attributes of wheat. *Int. J. Sustain. Crop Prod*, *5*(3), 17-21.

Shirazi, M. U., Khan, M. A., Bhatti, N., Unar, A., Bozdar, H. B., Mujtaba, S. M., & Lashari, M. I. (2014). Growth and water use efficiency in wheat genotypes grown under water stress condition. *Journal of Agricultural Research and Development*, *4*(2), 023-028.

Suleiman, A. A., Nganya, J.F. & Ashraf, M. A. (2014). Effect of cultivar and sowing date on growth and yield of wheat (Triticum *aestivum* L.) in Khartoum, Sudan. *Journal of Forest Products & Industries 3*(4): 198 – 203.

Tahir, M., Ali, A., Nadeem, M. A., Hussain, A., & Khalid, F. (2009). Effect of different sowing dates on growth and yield of wheat (Triticum aestivum L.) varieties in district Jhang, Pakistan. *Pak. J. Life Soc. Sci*, *7*(1), 66-69.

# Impact of Improved Wheat Varieties on Sustainable and Economic Agriculture

[1]Mohammad Qayoum Mangal, [2] Abdul Wahab Hekmat and [3]Yousaf Khan Ziar

[1-2-3]Department of Agronomy, Faculty of Agriculture, Paktia University

mangal.m.q@gmail.com

## Abstract

The present study was carried out at Paktia University under a Randomized Complete Block Design (RCBD) with five replications, in which four wheat varieties were comparatively evaluated. The primary objective was to identify the most suitable variety for the agro-climatic conditions of Paktia Province, with particular emphasis on yield performance and economic profitability. The results demonstrated significant and consistent differences among varieties in yield-related traits attributable to their genetic characteristics. The variety Ghurai-96 produced the highest number of tillers per square meter (310.2), comparable to Mazar-99, but significantly superior to the remaining varieties. Moreover, Ghurai-96 exhibited outstanding performance in spike length, number of spikelets per spike, number of grains per spike, and thousand-grain weight. Grain yield (3.92 t $ha^{-1}$) and biomass yield (6.74 t $ha^{-1}$) of Ghurai-96 were higher than those of other varieties, showing no significant difference with Mazar-99, yet markedly surpassing the others. From an economic perspective, Ghurai-96 was the most profitable, generating a gross income of AFN 162,149 $ha^{-1}$, a net income of AFN 113,515 $ha^{-1}$, and a benefit–cost ratio of 2.33. Based on these findings, the cultivation of Ghurai-96 is strongly recommended, as its superior adaptability to the climatic conditions of Paktia Province, coupled with its high yield potential,

underlines its vital role in achieving sustainable and economically viable wheat production.

**Keywords**: Economic profitability, Improved wheat varieties, Sustainable agriculture, Yield performance

# بررسی تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی خانواده‌های روستایی

# (مطالعه موردی: ولایت فراه)

نصیراحمد نصرت[1*] و محفوظ الله راشد[2]

دیپارتمنت اگرانومی، دیپارتمنت اقتصاد و توسعه زراعتی، پوهنحی زراعت، پوهنتون فراه [1-2]

nasirahmadnasrat100@gmail.com

## خلاصه

امنیت غذایی یکی از مهم‌ترین چالش‌های جوامع روستایی در مناطق خشک و نیمه‌خشک مانند ولایت فراه افغانستان است. این مطالعه به‌منظور ارزیابی تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی خانواده‌های روستایی این ولایت انجام شده است. روش تحقیق توصیفی-تحلیلی و مبتنی بر گردآوری دیتاهای میدانی از ۱۵۰ خانواده از طریق پرسشنامه‌های معیاری و مصاحبه‌های نیمه‌ساختاریافته بود. دیتاها با استفاده از نرم‌افزار SPSS و آزمون‌های احصائیوی شامل تحلیل توصیفی، ضریب آلفای کرونباخ برای اطمینان (۰,۹۱) و آزمون KMO برای کفایت نمونه (۰,۸۷) تحلیل شد. نتایج نشان داد که عوامل کلیدی زراعت پایدار مانند حفظ منابع طبیعی، مدیریت مطلوب آب، تنوع کشت و بهره‌گیری از دانش منطقوی، به طور معنی‌داری با افزایش امنیت غذایی در خانواده‌ها مرتبط اند (سطح معناداری $p < 0.01$). همچنین، توسعه زراعت پایدار موجب بهبود درآمد و کاهش آسیب‌پذیری خانواده‌ها در برابر بحرآن‌های اقلیمی شده است. یافته‌های تحقیق حاکی از آن است که سرمایه‌گذاری در آموزش دهاقین، ارائه تسهیلات مالی و توسعه زیرساخت‌های آبیاری می‌تواند نقش مؤثری در ارتقای امنیت غذایی ایفا کند. این مطالعه توصیه می‌کند که سیاست‌گذاران و سازمآن‌های مرتبط توجه ویژه‌ای به ترویج شیوه‌های زراعت پایدار داشته و برنامه‌های حمایتی خود را بر اساس نیازهای محلی طراحی نمایند. نتایج به دست آمده می‌تواند به عنوان پایه‌ای برای تدوین راهکارهای عملی و سیاست‌های توسعه زراعتی پایدار در مناطق خشک افغانستان مورد استفاده قرار گیرد.

**کلمات کلیدی:** امنیت غذایی، خانواده‌ها، زراعت پایدار، ولایت فراه.

## مقدمه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ.

الْـحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ، وَجَعَلَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّورَ، نَحْمَدُهُ حَمْدًا كَثِيراً طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، وَنُصَلِّي وَنُسَلِّمُ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ، خَاتَمِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينَ، وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ.

امنیت غذایی یکی از بنیادی‌ترین نیازهای بشر است که به‌معنای دسترسی مستمر و کافی همه افراد جامعه به غذای سالم، مغذی و متنوع برای داشتن زندگی فعال و سالم تعریف می‌شود FAO, 2023. در مناطق روستایی، به ویژه در کشورهای در حال توسعه مانند افغانستان، تأمین امنیت غذایی خانواده‌های دهاتی با معضلات متعددی از جمله محدودیت منابع طبیعی، تغییرات اقلیمی، فقر و کمبود تکنالوژی‌های نوین زراعتی مواجه است(Jones *et al*., 2024; Smith *et al*., 2023: 4) زراعت پایدار یعنی روش، دیدگاه، راهبرد مدیریتی، حداکثر عملکرد اقتصادی، پاسخ است به مشکلات محیط‌زیستی، راه حل برای جلوگیری از مصرف بی‌رویه کودهای کیمیاوی و سموم زراعتی(غفوری، ۱۳۹٦: ۲) ویا به عبارت دیگر زراعت پایدار نظامی است که بتواند از نظر اکولوژی سازگار، از نظر اقتصادی پویا(توجیه پذیر) و از نظر اجتماعی قابل قبول باشد(جپس، ۱۹۸٤: ۲) . زراعت پایدار به‌عنوان یک رویکرد جامع، شامل اجزای متنوعی است که هر یک در تأمین نیازهای بشری و حفاظت از منابع طبیعی نقش بنیادین ایفا می‌نماید. سیستم چندکشتی ( Multiple Cropping System) با ایجاد تنوع کشت، زمینه تأمین مستمر محصولات مورد نیاز انسان را فراهم ساخته و از وابستگی به کشت یکسان می‌کاهد. در کنار آن، سیستم‌های حفاظتی ( Conservation Systems) با مدیریت خردمندانه منابع، امکان استفاده مناسب توأم با حفاظت پایدار خاک و آب را تضمین می‌نمایند. همچنان، ادغام حیوانات و نباتات (Integrated Crop-Livestock Systems) نه تنها ظرفیت کشت را گسترش داده، بلکه حاصلخیزی خاک را تقویت کرده و بهره‌وری از این دو منبع اساسی را به‌گونه‌ای مؤثرتر به همراه دارد. چنین ساختاری، زراعت پایدار را به الگویی پویا و کارآمد در راستای توسعه پایدار و امنیت غذایی مبدل می‌سازد(غفوری، ۱۳۹٦: ۲). زراعت پایدار به عنوان رویکردی جامع و چندبعدی، با هدف حفظ محیط زیست، استفاده مطلوب از منابع طبیعی، افزایش بهره‌وری و ارتقای معیشت دهقانان، به عنوان راهکاری مؤثر برای مقابله با این مشکلات

شناخته شده است (Pretty, 2023: 454; Altieri, 2023).ولایت فراه، به عنوان یکی از مناطق خشک و نیمه بیابانی افغانستان با جمعیتی حدود ۵۸۱ هزار نفر و دارای شرایط اقلیمی خاص، نقش مهمی در تولید محصولات زراعتی این کشور ایفا می‌کند (ویکی‌پدیای فارسی، ۲۰۲۳). این ولایت با داشتن منابع آبی محدود و خاک‌های حاصلخیز، نیازمند توسعه زراعت پایدار برای تضمین امنیت غذایی خانواده‌های روستایی خود است. مطالعات نشان داده‌اند که زراعت پایدار می‌تواند ضمن بهبود وضعیت محیط زیست و کاهش فشار بر منابع طبیعی، به افزایش درآمد و بهبود کیفیت زندگی دهقانان کمک کند و به این ترتیب امنیت غذایی را در جوامع روستایی ارتقا دهد (Herrero *et al*., 2024: 10-20; FAO, 2023). تحقیقات متعدد در کشورهای در حال توسعه تأکید دارند که توسعه زراعت پایدار، از جمله زراعت گلخآن‌های، زراعت دقیق و استفاده از تکنالوژی‌های نوین، می‌تواند فرصت‌های شغلی را افزایش داده، مهاجرت روستاییان به شهرها را کاهش دهد و تنوع تولیدات زراعتی را بهبود بخشد (سنایی مقدم و همکاران، ۱۳۹۶: ۵۵۶ ؛ World Bank, 2024). همچنین، پیوندهای روستایی-شهری و دسترسی به بازارهای مناسب، از عوامل مؤثر در ارتقای امنیت غذایی خانواده‌های روستایی محسوب می‌شوند (سنایی مقدم و همکاران، ۱۳۹۶: ۵۵۸). در این زمینه، حمایت‌های مالی، آموزشی و زیربناها از اهمیت ویژه‌ای برخوردار است تا زارعین بتوانند به بهره‌وری بالاتر و پایداری اقتصادی دست یابند(Herrero *et al*., 2024: 10-20).

با توجه به اهمیت موضوع، بررسی تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی خانواده‌های دهاتی در ولایت فراه، می‌تواند به درک بهتر مشکلات و فرصت‌های موجود کمک کرده و راهکارهای مناسب برای بهبود وضعیت معیشتی این خانواده‌ها ارائه نماید، این تحقیق با بهره‌گیری از منابع علمی و دیتاهای میدانی، به تحلیل نقش زراعت پایدار در تأمین نیازهای غذایی، حفظ منابع طبیعی و ارتقای کیفیت زندگی دهاقین در این منطقه خواهد پرداخت.

## پیشینه تحقیق

در زمینه بررسی تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی خانواده‌های دهاتی مطالعات متعددی داخلی و خارجی انجام شده است که در ذیل به نتایج برخی از مهم‌ترین آن‌ها اشاره می‌گردد.

مسأله امنیت غذایی یکی از مهم‌ترین چالش‌های فراروی جوامع بشری در قرن بیست‌ویکم محسوب می‌شود. با وجود پیشرفت‌های تکنالوژیکی در عرصهٔ زراعت، افزایش سریع جمعیت، کاهش منابع طبیعی، تغییرات اقلیمی و ناپایداری نظام‌های تولیدی، تهدید جدی برای دسترسی پایدار به غذا به‌ویژه در مناطق روستایی کشورهای در حال توسعه ایجاد نموده است FAO, 2023 . این وضعیت، نیاز به بازنگری در الگوهای تولیدی و اتخاذ رویکردهای پایدار در زراعت را برجسته می‌سازد.

مطالعات مختلف بر نقش زراعت پایدار در تأمین امنیت غذایی تأکید دارند. زراعت پایدار نظامی است که ضمن حفظ و بهبود منابع طبیعی، توانایی تولید غذای کافی برای نسل حاضر و آینده را دارا می‌باشد. تحقیق فراهانی و جهانسوزی در سال ۱۴۰۰ نشان می‌دهد که زراعت پایدار از طریق بهبود بهره‌وری، کاهش اتکا به نهاده‌های بیرونی و استفاده مطلوب از منابع محلی، نقش مؤثری در بهبود وضعیت تغذیه‌ای و اقتصادی خانواده‌های روستایی دارد. این تحقیق خاطرنشان می‌سازد که زراعت پایدار، نه‌تنها سبب ارتقاء کیفیت محیط زیست می‌گردد، بلکه می‌تواند به پایداری اقتصادی، اجتماعی و غذایی خانواده‌های دهاتی نیز کمک کند.

از سوی دیگر، یافته‌های محققان بین‌المللی چون Pretty (2008) و Altieri *et al.* (2012) نیز بر این نکته تأکید دارد که تقویت سیستم‌های زراعتی پایدار موجب افزایش تاب‌آوری جوامع روستایی در برابر نوسانات اقلیمی و اقتصادی شده و نقش مهمی در کاهش فقر و گرسنگی ایفا می‌نماید. همچنین چارچوب «امرار معیشت پایدار» که توسط چیمبرز و کانوی (۱۹۹۲) ارائه شده، بر تعامل بین سرمایه‌های انسانی، طبیعی، مالی، فزیکی و اجتماعی در تأمین امنیت غذایی تأکید دارد؛ و نشان می‌دهد که پایداری در بخش زراعت می‌تواند زمینه‌ساز تحقق معیشت پایدار در مناطق روستایی گردد(Chambers & Conway, 1992: 296).

در مجموع، مرور ادبیات نشان می‌دهد که زراعت پایدار از جنبه‌های مختلف اقتصادی، اجتماعی و بوم‌شناختی می‌تواند راهکاری مؤثر در راستای تأمین امنیت غذایی خانواده‌های دهاتی باشد. با این حال، شرایط خاص کشورهای در حال توسعه مانند افغانستان، ایجاب می‌نماید که

تحقیقاتی بومی‌شده در این زمینه انجام پذیرد تا عوامل مؤثر و محدودیت‌های موجود به‌درستی شناسایی گردد.

## روش تحقیق

روش تحقیق به‌صورت کمی-توصیفی و تحلیلی انجام شده است. دیتاها با استفاده از پرسشنامه‌های ساختاریافته و از طریق نمونه‌گیری تصادفی ساده از خانواده‌های روستایی ولایت فراه جمع‌آوری گردید. علاوه بر دیتاهای میدانی، منابع کتابخانه‌یی نیز برای تکمیل مبانی نظری مورد استفاده قرار گرفت. دیتاهای جمع‌آوری شده با نرم‌افزار SPSS و با بهره‌گیری از روش‌های احصائیوی توصیفی و استنباطی مانند تحلیل همبستگی و رگرسیون تحلیل شدند تا تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی خانواده‌های روستایی بررسی شود.

جدول ـ۱:آلفای کرونباخ برای مؤلفه‌های پرسشنامه

| مولفه‌ها | تعداد سوالات | پایایی(الفای کرونباخ) | وضعیت پایایی |
|---|---|---|---|
| حفظ منابع طبیعی | 5 | 0.83 | پایایی خوب |
| بهره‌وری مناسب منابع | 5 | 0.79 | پایایی قابل قبول |
| تنوع کشت و سلامت خاک | 5 | 0.81 | پایایی خوب |
| مشارکت و دانش محلی | 5 | 0.85 | پایایی عالی |
| دسترسی به غذای کافی | 5 | 0.78 | پایایی قابل قبول |
| کیفیت تغذیه | 5 | 0.80 | پایایی خوب |
| ثبات غذایی | 5 | 0.82 | پایایی خوب |
| امنیت اقتصادی در تأمین غذا | 5 | 0.84 | پایایی عالی |
| 8 | 40 | 0.89 | پایایی بسیار عالی (مجموع ابزار) |

منبع: نتایج تجزیه و تحلیل توسط نرم افزاری SPSS

نتایج جدول شماره ۱ نشان می‌دهد که تمامی مؤلفه‌های پرسشنامه از سطح مناسبی از پایایی برخوردار اند، به‌گونه‌ای که مقدار آلفای کرونباخ برای هیچ‌یک از مؤلفه‌ها کم‌تر از 0.70 نیست که این خود بیانگر اعتبار مطلوب ابزار سنجش می‌باشد. مؤلفه «مشارکت و دانش محلی» با مقدار آلفای ۰,۸۵ و مؤلفه «امنیت اقتصادی در تأمین غذا» با آلفای 0.84 دارای بالاترین میزان پایایی اند که نشان‌دهنده انسجام درونی بسیار مطلوب پرسش‌های مربوط به این ابعاد است. همچنین مؤلفه‌های «حفظ منابع طبیعی» (0.83)، «تنوع کشت و سلامت خاک» (0.81)، «ثبات غذایی» (0.82) و «کیفیت تغذیه» (0.80) نیز از پایایی خوب برخوردارند. از سوی دیگر، مؤلفه‌های «بهره‌وری مناسب منابع» (0.79) و «دسترسی به غذای کافی» (0.78) نیز با وجود آلفای پایین‌تر، همچنان در محدوده پایایی قابل قبول قرار می‌گیرند. در مجموع، مقدار آلفای کرونباخ کل پرسشنامه برابر با 0.89به‌دست آمده است که حاکی از پایایی بسیار عالی ابزار تحقیق بوده و نشان می‌دهد که پرسش‌های پرسشنامه از هماهنگی و انسجام لازم برای سنجش مفاهیم مربوط به زراعت پایدار و امنیت غذایی خانواده‌های روستایی برخوردار اند (جدول شماره ۱).

جدول۲: آزمون کفایت نمونه‌گیری KMO و کرویت بارتلت

| شاخص آماری | مقدار | توضیح مختصر |
|---|---|---|
| شاخص کفایت‌نمونه‌گیری(KMO) | 0.874 | کفایت بسیار خوب نمونه‌گیری برای تحلیل عاملی؛ بالاتر از ۰,۸ نشان‌دهنده کفایت بالا است. |
| آزمون کرویت بارتلت(تقریب کای‌دو) | 2985.22 | تفاوت معنادار بین ماتریس همبستگی و ماتریس همانی را نشان می‌دهد. |
| درجه آزادی(df) | 780 | مربوط به محاسبه آماره کای‌دو در آزمون بارتلت است. |
| سطح معناداری(sig) | 0.000 | معناداری آماری بسیار بالا؛ دیتاها برای تحلیل عاملی مناسب اند. |

منبع: نتایج تجزیه و تحلیل توسط نرم افزاری SPSS

بر اساس نتایج حاصل از آزمون کفایت نمونه‌گیری KMO و آزمون کرویت بارتلت، مقدار KMO برابر با 0.874 بوده که بیانگر کفایت بسیار مطلوب دیتاها برای انجام تحلیل عاملی است. این مقدار نشان می‌دهد که حجم نمونه انتخاب‌شده (385 نفر) برای کشف ساختارهای زیربنایی بین متغیرهای پرسشنامه، کاملاً مناسب می‌باشد. از سوی دیگر، آماره آزمون بارتلت با مقدار 2985.22 و درجه آزادی 780 در سطح معناداری 0.000 تأیید می‌کند که ماتریس همبستگی بین متغیرها به‌طور معناداری با ماتریس همانی تفاوت دارد؛ به این معنا که بین متغیرها همبستگی کافی برای تحلیل عاملی وجود دارد. در مجموع، نتایج این آزمون‌ها به‌روشنی نشان می‌دهند که دیتاهای گردآوری‌شده از نظر احصائیوی از کیفیت لازم برای انجام تحلیل عاملی برخوردار بوده و ساختار مفهومی ابزار تحقیق از پشتوانه تجربی مناسبی برخوردار است.

## نتایج تحقیق

در این بخش، یافته‌های اصلی تحقیق پیرامون تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی خانواده‌های روستایی ولایت فراه ارائه می‌گردد. دیتاهای جمع‌آوری شده از طریق پرسشنامه‌ها پس از تجزیه و تحلیل با نرم‌افزار SPSS و تحلیل‌های احصائیوی مختلف، تصویری روشن از وضعیت کنونی و نقش زراعت پایدار در بهبود امنیت غذایی را فراهم ساخته‌اند. آزمون‌های اطمینان و کفایت نمونه، صحت و اعتبار ابزارهای تحقیق را تضمین می‌کنند و نتایج تحلیل‌های احصائیوی، ارتباط معنادار بین مولفه‌های زراعت پایدار و شاخص‌های امنیت غذایی را نشان می‌دهند. در این بخش، نتایج مرتبط با مؤلفه‌هایی مانند حفظ منابع طبیعی، بهره‌وری مناسب منابع، تنوع کشت، دانش محلی و دسترسی به غذای کافی به تفصیل بررسی شده است. همچنین، تأثیر این عوامل بر ارتقای کیفیت تغذیه، ثبات غذایی و امنیت اقتصادی در خانواده‌های روستایی مورد ارزیابی قرار گرفته است. این یافته‌ها علاوه بر نشان دادن وضعیت موجود، پایه‌ای برای توصیه‌های سیاست‌گذاری و برنامه‌ریزی‌های عملی در جهت توسعه زراعت پایدار و ارتقای معیشت خانواده‌های روستایی فراهم می‌نماید.

جدول۳: ضرایب همبستگی پیرسون بین زراعت پایدار و امنیت غذایی روستایی ولایت فراه(سطح معنی‌داری دو طرفه ۰,۰۱)

| مؤلفه‌ها | همبستگی | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حفظ منابع طبیعی | ضریب همبستگی پیرسون | 1 | 0.45** | 0.38** | 0.42** | 0.40** | 0.44** | 0.47** | 0.43** |
| بهره‌وری مناسب منابع | سطح معناداری | — | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 |
| | ضریب همبستگی پیرسون | 0.45** | 1 | 0.36** | 0.40** | 0.48** | 0.50** | 0.52** | 0.49** |
| تنوع کشت و حفظ سلامت خاک | سطح معناداری | 0.000 | — | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 |
| | ضریب همبستگی پیرسون | 0.38** | 0.36** | 1 | 0.35** | 0.33** | 0.37** | 0.40** | 0.36** |
| | سطح معناداری | 0.000 | 0.000 | — | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 |
| مشارکت و دانش محلی | ضریب همبستگی پیرسون | 0.42** | 0.40** | 0.35** | 1 | 0.44** | 0.46** | 0.48** | 0.45** |
| دسترسی به غذای کافی | سطح معناداری | 0.000 | 0.000 | 0.000 | — | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 |
| | ضریب همبستگی پیرسون | 0.40** | 0.48** | 0.33** | 0.44** | 1 | 0.53** | 0.55** | 0.50** |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کیفیت تغذیه | سطح معناداری | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | — | 0.000 | 0.000 |
| سطح معناداری | ضریب همبستگی پیرسون | 0.44** | 0.50** | 0.37** | 0.46** | 0.53** | 1 | 0.60** | 0.55** |
| | سطح معناداری | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | — | 0.000 | 0.000 |
| ثبات تامین غذا | ضریب همبستگی پیرسون | 0.47** | 0.52** | 0.40** | 0.48** | 0.55** | 0.60** | 1 | 0.58** |
| | سطح معناداری | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | — | 0.000 |
| استفاده پایدار از منابع غذایی | ضریب همبستگی پیرسون | 0.43** | 0.49** | 0.36** | 0.45** | 0.50** | 0.55** | 0.58** | 1 |
| | سطح معناداری | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | — |

منبع: نتایج تجزیه و تحلیل توسط نرم افزاری SPSS

نتایج ارائه شده در جدول شماره ۳، نشان‌دهنده وجود روابط همبستگی مثبت و معنادار در سطح بسیار بالا($p < 0.01$) میان مؤلفه‌های کلیدی متغیر مستقل «زراعت پایدار» و مؤلفه‌های متغیر وابسته امنیت غذایی روستایی است. زراعت پایدار به‌عنوان متغیری متغیر شامل چهار مولفه اصلی حفظ منابع طبیعی، بهره‌وری مناسب منابع، تنوع کشت و حفظ سلامت خاک و مشارکت و دانش

محلی می‌باشد، در حالی که امنیت غذایی روستایی نیز به چهار بعد مهم دسترسی به غذای کافی، کیفیت تغذیه، ثبات تأمین غذا و استفاده پایدار از منابع غذایی تقسیم شده است. بررسی همبستگی‌های متقابل نشان می‌دهد که مؤلفه بهره‌وری مناسب منابع بیشترین ارتباط مثبت و معنادار را با ثبات تأمین غذا (r = 0.52**) دارد که این امر به‌وضوح تأکید می‌کند افزایش کارایی و بهره‌وری منابع زراعتی عامل کلیدی در تضمین استمرار تأمین غذا در جوامع روستایی است. همچنین، مشارکت و دانش محلی با کیفیت تغذیه رابطه‌ای قوی (r = 0.53**) دارد که اهمیت انتقال دانش بومی و مشارکت فعال جامعه محلی را در بهبود شاخص‌های تغذیه‌ای برجسته می‌سازد؛ این یافته‌ها با نظریه‌های توسعه پایدار و زراعتی جامعه مطابقت دارد. علاوه بر این، مؤلفه «تنوع کشت و حفظ سلامت خاک نیز با دسترسی به غذای کافی (r = 0.42**) و استفاده پایدار از منابع غذایی (r = 0.45**) روابط مثبت و معناداری نشان می‌دهد، که بیانگر نقش حیاتی حفظ تنوع زیستی و سلامت خاک در تأمین امنیت غذایی پایدار است. به طور کلی، این نتایج تأیید می‌کند که تقویت مؤلفه‌های زراعت پایدار می‌تواند به‌صورت چشمگیری کیفیت و پایداری امنیت غذایی روستایی را ارتقاء دهد و لذا سیاست‌های توسعه زراعت باید بر افزایش بهره‌وری منابع، ترویج تنوع کشت، حفظ سلامت خاک و گسترش دانش محلی تمرکز نمایند(جدول ۳).

جدول۴: تحلیل رگرسیون چندگانه تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی روستایی

| شاخص / متغیر | مقدار | توضیح تخصصی و علمی |
|---|---|---|
| ضریب همبستگی چندگانه(R) | 0.894 | نشان‌دهنده همبستگی بسیار قوی و مثبت بین مؤلفه‌های زراعت پایدار و امنیت غذایی روستایی است؛ این مقدار بیانگر ارتباط ساختاری معنادار بین دو متغیر اصلی مدل است. |
| ضریب تعیین($R^2$) | 0.800 | حدود ۸۰٪ از تغییرات در امنیت غذایی روستایی توسط مؤلفه‌های زراعت پایدار قابل پیش‌بینی است؛ قدرت تبیین بسیار بالای مدل را نشان می‌دهد. |
| ضریب تعیین تعدیل‌شده (Adjusted $R^2$) | 0.797 | پس از تعدیل براساس تعداد متغیرهای مستقل، مدل همچنان دقت و اعتبار خود را حفظ کرده که نشانگر برازندگی قوی مدل است. |
| انحراف معیار برآورد (Std. Error of the Estimate) | 3.95 | این شاخص میزان پراکندگی خطاها را مشخص می‌کند؛ مقدار پایین آن دقت پیش‌بینی بالای مدل را تأیید می‌نماید. |

منبع: نتایج تجزیه و تحلیل توسط نرم افزاری SPSS

دا چې نن ورځ نړیوال د بشري حقوقو، ازادۍ او پرمختګ تر نامه لاندې د الهي شریعت له حدودو تښتي او اسلامي جزاګانې د ظلم، تندلارۍ او شاتګ سمبول بولي. په داسې شرایطو کې دا مقاله خورا ارزښت لري؛ ځکه د اسلامي جزایي نظام عدلي، انساني او ټولنیز اړخونه په واضحو دلیلونو او ژورو تحلیلونو سره بیانوي. دا لیکنه دا راښیي چې اسلامي جزاګانې د انتقام لپاره نه؛ بلکې د جرم د مخنیوي، د مجرم اصلاح او د ټولنې د خوندیتوب لپاره دي. دا مقاله له یوې خوا له شرعي نصوصو ملاتړ اخلي او له بلې خوا د معترضینو شبهاتو ته منطقي او فطري ځوابونه وړاندې کوي. له همدې امله، دا مقاله اوسنیو ځوانانو لپاره یو مهم علمي متن دی، چې د شریعت عدالت روښانه کوي او د امت د فکري دفاع لپاره یوه مستنده سرچینه ګڼل کېږي.

نن ورځ چې مدنی فعالان د جزاء ګانو په برخه کې په اسلام ناوړه تور لګوي، چې نړۍ ته وګوره چې د پرمختګ په دنګ منار یې پل کېښود سپوږمۍ او مریخ ته ورسېدل او مسلمانان لا هم د حدودو او جزاګانو د تطبیق په تیاره کې تیندکونه خوري، یاده څېړنه ددې لپاره ترسره شوې، ترڅو ثابته کړي چې اسلامي شریعت د چا مال عزت او نفس ته تږی نه دی، چې په انسانانو ډول ډول جزاګانې تطبیق کړي، الله تعالی ته تر هر چا زیات محترم انسان دی، جزاګانې ددې لپاره مجرم ته ورکوي چې انسان په دې نړۍ کې آرام ژوند وکړي، نفس، مال او عزت یې خوندي وي. مدني فعالان دې ته نه ګوري چې ددغو جزاګانو نشتوالی دی، چې نننۍ نړۍ یې له دومره پراخې سره پر بشریت تنګه کړېده، له مادي اړخه یې ودانه کړې، خو معنوي سکون او د آرام ځای پکې نه ترسترګو کېږي.

په یاده موضوع کې دغه اصلي او فرعي پوښتنې مطرح کېدونکي دي، چې آیا په جزاګانو کې اسلامي شریعت له اعتدال څخه کار اخیستی؟

جزا څه ته ویل کېږي؟ اسلامي شریعت ولې جزاګانې ټاکلې؟ د جزاګانو تطبیق کومې ګټې لري؟ له جرمونو سره جزاګانې کوم مناسبت لري؟

د اسلامي جزاګانو، حدودو او تعزیراتو په اړه د علمي څېړنې بنسټ له لومړیو اسلامي پېړیو سره تړاو لري. له هغه وخته چې اسلامي شریعت د ټولنیز نظم، عدالت او اصلاح لپاره جامع احکام راوړل، مسلمان علماوو د جزایي نظام د وضاحت، تفصیل، او تطبیق اړوند پراخ آثار ولیکل. د لومړي نسل فقهاءو لکه امام ابو حنیفه، امام مالک، امام شافعي، او امام احمد بن حنبل رحمهم الله په خپلو فقهي متونو کې د حدودو، قصاصو او تعزیراتو احکام په تفصیلي توګه ذکر کړل. ددې مسایلو پراخه بحث

په کتابونو لکه: مبسوط کتاب د امام سرخسي، بدائع الصنائع د امام کاساني، مغني د ابن قدامه، الحدود والتعزيرات د ابن قيم، احکام السلطانيه د امام ماوردي او بيا په معاصر وخت کې احکام الجنائية مقارنا بالقانون الوضعي د شهيد عبدالقادر عوده، الفقه الاسلامي و ادلته د دکتور وهبة الزحيلي کتابونه د يادوونې وړ دي.

## د څېړنې ميتودولوژي

په ياده څېړنه کې له کتابتوني ميتود څخه کار اخيستل شوی، اړوندې موضوع په اړه له مختلفو کتابونو څخه مهم معلومات راټول شوي او په نوي سبک د يوې مقالې په بڼه تنظيم شوي دي. په دې معنا چې مقاله له کتاب څخه پيل او په کتاب پای ته رسېدلې ده.

## اصلي موضوع

### د حدودو او جزاګانو پېژندنه او له جزاګانو سره يې مناسبت او اعتدال

د حد پيژندنه: په جرمونو باندې هغه ټاکل شوو جزاګانو ته ويل کېږي، چې د الله تعالی د حق په خاطر تطبيقيږي (العوده، ۱۴۰٦: ۳۴۳/۲).

د جزاء پيژندنه: جزاء هغه څه دي چې د ټولنې د مصلحت لپاره د شارع د حکم په سر غړاوي باندې مقرره شوې وي (العوده، ۱۴۰٦: ٦۰۹/۱).

### دجزاګانو د تطبيق ګټې

اسلام ددغه درې امورو لپاره جزاګانې ټاکلې دي:

الف : د امت اصلاح لپاره، چې نور عام خلک ترې پند واخلي.

ب : مجرم ته جزاء ورکول ترڅو داسې جرم بيا تکرار نه کړي.

ج : د جزاګانو بدني ټاکنه: که جزاګانې مالي يا بل څه وای کېدای شي په ډېرو خلکو سختې نه وای تمامې شوې، دا چې بدني دي او دتطبيق په وړاندې ټول سره برابر دي، نو په مجرم ډېرې سختې تمامېږي(خضري بک، ۱۴۲۰: ۸۵).

الله تعالی دغه جزاګانې په پوره ډول ايښې دي، چې د ټولنې مصلحت پکې دی، نه پکې تېری او نه څه پکې له پامه غورځول شوي دي.

الله تعالی جل جلاله په دروغو باندې د ژبې غوڅولو او نه يې د وژنې امر کړی، نه يې په زنا باندې د خصي والي پرېکړه کړې، نه يې په غلا کې د اعدام حد تعئن کړی دی، الله تعالی په هغه څه امر کوي، چې د هغه خوښه وي حکمت، عدل، مهرباني او احسان پکې مراعت شوی وي(الزحيلي، ١٩٨٩: ١٤/٦).

ټول هغه منعه کړل شوي جرمونه چې اسلامي شريعت ورته جزاګانې ټاکلې او يا يې قاضي ته د جزاء ورکولو اختيار وکړی، په دې ډول دي: د زنا حد، لواطت، د قذف حد، د شرابو څښلو حد، د غلا حد، د قطاع الطريق حد، ارتداد، بغاوت، قتل او تعزير چې د هر يو تفصيل په لاندې ډول دی:

**١ ـ د زنا حد**

د زنا جزا: د زنا لپاره اسلامي شريعت د زاني د حالت په اعتبار سره دوه ډوله جزاګانې ټاکلې دي، که زاني واده کړی وو/ وي او دغه اوه شرطونه پکې موجود وي چې: عقل، بلوغ، حريت، اسلام، صحيحه نکاح، داچې خاوند او مېرمن دواړه په دې صفتونو سنبال وي، له دې ټولو صفتونو وروسته صحيح دخول شوی وي، نو بيا داسې زاني لپاره اسلامي شريعت د رجم جزاء ټاکلې ده، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: لاَ يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ، يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، إِلاَّ بِإِحْدَى ثَلاَثٍ: النَّفْسُ بِالنَّفْسِ، وَالثَّيِّبُ الزَّانِي، وَالمَارِقُ مِنَ الدِّينِ التَّارِكُ لِلْجَمَاعَةِ) (البخاري، ١٤٢٢: ٥/٩، حديث نمبر:٦٨٧٨).

اما که په زناکار کې له دغو (٧) شرطونو څخه يو يې هم کم شي، بيا نو زاني نه رجم کېږي؛ بلکې حاکم به يې سل دورې د خلکو پر وړاندې ووهي، ځکه په خپله زنا باندې واجب حد دورې وهل دي، چې په آيت باندې ثابت دي؛ اما هغه چا چې واده نه وي کړی د زنا د قباحت اخري اندازې ته نه رسېږي، نو بايد جزاء يې هم آخري اندازې ته ونه رسېږي، نو په دورو باندې کفايت کېږي الله تعالی فرمايلي دي: (الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلاَ تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ) ( د النور سورت ٢ آيت).

رسول الله صلی الله عليه وسلم هم په دې اړه فرمايلي دي:( وَالْبِكْرُ جَلْدُ مِائَةٍ، ثُمَّ نَفْيُ سَنَةٍ) ( النيسابوري، ب.ت: ٣ /١٣١٦ـ حديث نمبر: ١٣ - ١٦٩٠).

د رحمت سبب يې: د زنا ګناه داسې ګناه ده چې د ټولنې له اشرافو، درميانه وو او کمزورو خلکو لخوا ترسره کېږي او په نفسونو کې د زنا لپاره قوي جاذبه ځواک موجود دی، د جانبينو په خوښه

ترسره کېږي، د ظلم او زور له لارې يې امکان کم وي، شريکان هم پکې زيات وي، لکه نفس، شيطان او محيط، لوی سبب يې عشق دی او زړونه په عاشق باندې زيات مهربانه وي، نو ډېر خلک ورسره مرسته کوي. په نفسونو کې په دې اړه غالب شهوتونه شته دي، چې د حد تطبيق منع کوي نو دا ټول د ايمان کمزوري او ضعف دی.

الله تعالی جل جلاله امر کړی دی، چې د حد تطبيق بايد د مسلمانانو پر وړاندې او د هغوی په حضور کې وشي(الجوزي، ۱۴۱۵:۱۱۷).

**د زنا په حد نيوکه او د هغې ځواب**

معترضين وايې: د زنا جرم لپاره داسې جزاء تعئن شوې ده چې دې ډول جرم ته په ورته جزاګانو کې نه په سترګو کېږي، نو په دې اړه ولې شريعت بېله پرېکړه کړې ده؟ په غلا کې ولې شارع په غله د لاس د قطعې حکم کړی او په زاني باندې يې د تناسلي غړي د پرېکولو حکم نه دی کړی؟ په داسې حال کې چې تناسلي غړی هماغه غړی دی چې د زنا جرم يې په مباشره توګه ترسره کړی دی، لکه لاس چې ددې لپاره قطع کېږي چې په لاس باندې مجرم غلا کړې ده، نو بايد دلته هم همداسې پرېکړه شوی وای چې تناسلي غړی يې ورته پرې کړی وای.

علامه ابن قيم ددې نيوکې ځواب په لاندې څو دليلونو کړی دی:

الف ـ تناسلي غړی يو پټ غړی دی چې څوک يې نه ويني، نو په قطع کولو باندې يې هغه مقصود چې نورو ته عبرت دی نه حاصليږي.

ب ـ د تناسلي غړي په پرېکولو باندې د دې شخص نسل ختميږي او دا د بشري نسل د هلاکت په مانا دی .

ج ـ د زنا لذت ټول بدن ته رسيدلی دی، نو غوره داده چې جزاء يې هم ټول بدن ته ورسيږي .

د ـ د غله لاس چې پرې کېږي، د هغه بل لاس شته دی، چې خپلې ستونزې پرې حلولای شي؛ اما تناسلي غړی يو دی بل بديل يې نه شته.

ه ـ د تناسلي غړي په پرې کولو انسان له هلاکت سره مخ کوي او نا واده کړل شوی زناکار د هلاکت وړ نه دې(الجوزي، ۱۴۱۵:۹۸).

**۲ـ لواطت**

تعریف یې: لواطت دې ته وایي چې نارینه خپل تناسلي غړی د بل نارینه په شا طرف کې داخل کړي (هیئة کبار العلماء، ۱۴۲۷: ۲۴ /۱۹).

**د لواطت جزاء**

د لواطت د جزاء په اړه د علماوو ترمنځ اختلاف دی، چې عموما درې نظرونه یې په اړه شتون لري:

۱ـ امام مالک، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله وایي: لواطت حد واجبوي؛ ځکه قرآن کریم د تیرو امتونو جزاء چې لواطت یې کاوه سخته ښودلې ده، نو په لواطت کوونکي باندې باید د زنا حد تطبیق شي؛ ځکه په لواطت کې هم د زنا معنا پرته ده، که واده شوی وي باید رجم شي او که واده شوی نه وي، په دورو باید ووهل شي او یو کال باید جلا وطنی شي؛ ځکه په دواړو کې د حرام تناسلي غړي داخلول دي په حرام غړي کې.

۲ـ مالکیه، حنابله او یو روایت د امام احمد رحمهم الله دی، چې د لواطت کوونکي لپاره جزاء رجم دی، که واده شوی وي او که ناواده شوی؛ ځکه په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «مَنْ وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ» (الترمذي، ۱۹۹۸: ۴ / ۵۷ حدیث نمبر: ۱۴۵٦).

۳ـ امام ابو حنیفه رحمه الله وایي لوطي باید تعزیر شي، ځکه لواطت کې په بشپړه توګه د زنا معنا شتون نه لري او د نسبونو ګډوالی هم پکې نه راځي او نه داسې غټې شخړې ترې پیدا کېدای شي، چې د لواطت کوونکي قتل ته پکې خبره ورسیږي (الزحیلي، ب.ت: ٦٦/٦).

**د لواطت په جزاء کې عدالت**

لواطت ستر عیب او لوی شرم دی، ترسره کوونکی یې هم د یو ډیر ناوړه چارې مرتکب دی، که فاعل او مفعول له یوی شریفې کورنۍ څخه وي، نو دهغوی عزت له خاورو سره خاورې کېږي، د لواطت کوونکي عذاب به د قیامت په ورځ هم ډېر سخت وي، په دنیا کې به د خلکو په نظر کې سپک وي، نو یو ازاد او هوښیار او با وقاره سړی هیڅکله نه غواړي چې د بل سړي د شهوت سړولو وسیله شي او یا دا چې خپل تناسلي غړی دې داسې ځای کې داخل کړي چې چټل او بد بویه وي، نو څوک چې داسې یوه ګناه وکړي، که فاعل وي او که مفعول د خلکو په نظر کې سپک کېږي،

شخصيت يې ذليل کېږي، نو ځکه خو الله تعالی دداسې مجرم لپاره سخته جزاء وټاکله، ترڅو ټولنه له داسې پليتي څخه په امن کې پاتې شي(الجرجاوي، ۱۴۲۳: ۲ / ۱۹۱).

**۳ـ د قذف حد**

د قذف پېژندنه: يوانسان ته د زنا نسبت کول دي او يا د يو مسلمان د نسب له خپل نسب څخه بيلول دي .

د قذف کوونکي جزاګانې: د جرم په نظر کې نيولو سره اسلامي شريعت ورته درې ډوله جزاګانې په لاندې ډول ټاکلي دي:

۱ـ په اتيا دورو وهل . ۲ ـ د هغه د شهادت نه قبلول . ۳ ـ په هغه د فسق حکم .

**د قذف د حد په تطبيق کې عدالت**

د بل چا په زنا باندې تورنول يو بد نوم دی، چې په هغه پورې نښلي، خو که دغه سړی په خپله خبره کې ريښتينی وي، د قذف کړل شوی ارزښت په انساني ټولنه کې له منځه ځي، له دې امله اسلامي شريعت پرې اتيا دورې د حد په ډول ټاکلې دي، کله چې د قذف کوونکي خبره دروغ وخيژي شهادت يې هم نه منل کېږي؛ ترڅو توبه ونه باسي، دا يواځې له دې امله نه دی چې قذف کوونکي دروغ ويلي دي؛ بلکې دا د يو بل علت لپاره دی؛ چې يو پاک انسان په زنا تورن شوی، ډېر ځلي د هغه دروغ لا نه وي ثابت شوي، خو خلک د قذف کوونکي په خبره باور کوي، قذف کړل شوی په خلکو کې سپک کېږي په زناکار باندې په خلکو کې شهرت پيدا کوي، په دې کې خو شک نه شته، چې دا د قذف کړل شوي لپاره ستونزه ده، مصلحت يې له منځه ځي، په ځانګړي ډول هغه قذف کړل شوی شخص چې کسبګر وي، په کسبګرو کې خلک هغه کس ته ورځي چې هغه امين او له جرمونو څخه پاک وي، که په زنا شهرت پيدا کړي بيا خو هيڅوک يې خوا ته نه ورځي.

حکمت په دې کې چې د قذف کوونکي جزاګانې يې درې ډوله ټاکلې چې دا دي:

الف ـ د زنا کوونکي حد سل دورې دی، نو د قذف کوونکي ګناه له زنا کوونکي څخه کمه ده؛ ځکه خو حد يې هم اتای دوری وټاکه، چې دا يو معقول کموالی دی، چې په عدل ولاړ دی.

ب ـ قذف په دروغو ولاړ يو خبر دی، ځکه خو شريعت د هغه د شهادت د نه قبلولو حکم وکړ، ترڅو چې توبه ونه باسي؛ ځکه که هغه توبه ونه باسي، په دروغو متهم ګرځي، شهادت خو د هغه

چا منل کېږي چې په ريښتينولۍ مشهور وي، له دې اړخه معلومېږي چې جزاء د عمل له جنسه ټاکل شوې ده او جزاء ګانې يې هم ورته دوه ډوله وټاکلې، ترڅو قذف کوونکی دا ډول جرم بيا تکرار نه کړي (الجرجاوي، ۱۴۲۳: ۲ / ۱۹۹).

الله تعالی(ج) فرمايلي دي: (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٤﴾ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥﴾)( سورة النور، ۴ آيت).

**۴ـ د شرابو او نشه يي توکي**

د امام ابوحنيفه رحمه الله مذهب شرابو او مسکراتو لپاره دوه ډوله حد معتبر بولي، چې يو يې د شرابو حد دی او بل يې د نشې حد دی.

د شرابو حد: هغه حد دی چې يوازې د شرابو په څکلو واجبېږي، هغه که لږ وي او که ډېر، که انسان پرې نشه شي او که نه نو حد پرې واجبېږي.

د نشې حد: هغه دی چې په نشې باندې واجبېږي، چې له شرابو پرته يې بل څه خوړلي وي؛ اما جمهورعلماء د شرابو او نيشه يي توکو ترمنځ توپير نه کوي.

**د شرابو حد**

جمهور علماء د شرابو څکونکي لپاره ۸۰دورې حد بولي، دليل د علي رضی الله عنه دغه قول نيسي چې وايي: ( اذا شرب سکر، واذا سکر هذي، واذا هذي افتری وحد المفتري ثمانون )

هيچا پر علي رضي الله عنه ددې حد په ټاکنې نيوکه ونه کړه، دغه د نيوکې نه کول د صحابه وو د اجماع په معنا ده.

امام شافعي رحمه الله وايي د شرابو لپاره حد څلويښت دورې دی، دليل د انس رضي الله عنه دغه قول نيسي چې وايي: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَدَ فِي الْخَمْرِ بِالْجَرِيدِ وَالنِّعَالِ أَرْبَعِينَ» (الطبراني، ۱۴۱۵: ۱۸ / ۱۷۳ـ حديث نمبر: ۳۹۴).

### د شرابو د څکونکي د حد په تطبيق کې عدالت

دا چې شراب، وژونکي زهر دي، زيان يې مال او نفس ته رسېږي، نو څکه خو د نورو جرمونو مور بلل کېږي، رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه فرمايلي دي( الخمر ام الخبائث) او شراب خلک د الله تعالى له ذکر او له لمانځه څخه منع کوي، هغه چې د دين ستن ده او دغه شراب دي، چې زړه د حکمت له وړانګو پټ ساتي، دا د شيطان داسې کړنه ده چې انسان په لويو ننګونو کې اچوي، شتمني او جسم يې له منځه وړي، همدا شراب دي، چې په خلکو کې دښمني، کرکه او حسد پيدا کوي، څکه د شرابو څکونکی قتل کوي، غلا کوي او زنا هم، هر حرام کار ترسره کوي که هغه عمل وي او که وينا، نو څکه خو شريعت د هغه حد اتيا دورې وټاکلې(الجرجاوي، ۱۴۲۳: ۲ / ۱۷۹).

### ۵ ـ د غلا حد

پېژندنه يې: د يو مکلف بالغ او عاقل انسان له بل څخه د لسو درهمو په اندازه مال په پټه توګه اخيستلو ته غلا وايي( الکاساني، ۱۴۰۵: ۹/ ۲۷۵ ).

### د غلا جزا

کله چې يو څوک غلا وکړي، او پرې ثابته شي، نو د غله لاس به د وخت حاکم په مړوند کې پرې کړي، الله تعالى جل جلاله يې حکم داسې توګه بيان کړی چې: (وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۳۸﴾ )(سورة المائده، ۳۸).

او رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه داسې فرمايلي دي: (إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ ,بِأَنَّهُ إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ ,وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ قَطَعُوهُ) (الصنعاني، ۱۴۰۳: ۱۰ / ۲۰۱، حديث نمبر: ۱۸۸۳۰).

### دغله په لاس پريکولو کې د شارع حکمت او له جرم سره يې عدالت

د ژوند له ضرورتونو څخه يو يې امن، سوکالي او د شتمنيو د ساتلو لپاره د قوي بنسټونو ايجاد دی، الله تعالى جل جلاله له حکمتونو او رحمتونو څخه يويي دادې، چې په داسې غله چې په خلکو يې ژوند ګډوډ کړی، امنيت يې له ګواښ سره مخامخ کړی، جزاء ټاکلې ده چې هغه د لاس پرې کول دي: (وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۳۸﴾)( سورة المائده، ۳۸). په دغه آيت کې يې حکمت په خپله بيان کړی دی چې:( جَزَاءً بِمَا كَسَبَا

نَكَالاً مِنَ اللَّهِ) نو د لاس پرې کول له جرم سره برابري او مطابقت لري، کمی او زياتی پکې نه شته، دلته د جرم جزاء يې دورې ونه ټاکلې، که دورې يې ټاکلې وای، نو هغه به د جرم په وړاندې نيمګړې جزاء وه، اعدام هم ونه ټاکل شو، که اعدام يې ټاکلی وای هغه به په جرم زياته وه، نو د غله لاس پرې کول له دورو او قتل څخه ډېر غوره دی، ترڅو هماغه غړی چې د خلکو د زورولو او د مالونو د اخيستلو وسيله يې وه، ترې بېل شي، د لاس له پرې کولو څخه موخه داده چې مجرم جزاء ووينې، په راتلونکي کې بيا دغه جرم ترسره نه کړي، نور خلک ترېنه پند واخلي، کله چې غل درد وڅکي بيا توبه باسي او د آخرت عذاب ورته يادېږي، لاسونه خو انسان ته دومره ارزښتمن دي لکه الوتونکي ته چې وزرونه مهم دي، نو که يو څوک غلا وکړي او يو وزر يې پرې کړل شي، او بيا سم الوتل او غلا نه شي کولای، که بيا غلا وکړي نو چپه پښه يې پرې شي، غل نور هم کمزوری کېږي، بيا نو چاته په اسانه تکليف نه شي رسولی او که بيا غلا وکړي بل لاس يې پرې شي، نور هم کمزوری کېږي او که بيا غلا وکړي نو بله پښه يې پرې کېږي، نور نو سړی يو بوټی غوښه ګرځي، چې خپله هم آراميږي او نوره ټولنه هم ترې آرام مومي (الجوزي، ۱۴۱۵: ۳۵۲).

د غلا په حد کې هم اسلام عدالت مراعت کړی دی؛ ځکه مال د لاس په څير دی چې يو انسان پرې په ژوندانه کې اسوده وي، په مال باندې ژوند دوام مومي، همدغه مال دی چې انسان پرې پرمختګ کوي، د هغه اخيستل داسې دي لکه لاس يې چې ترېنه اخيستی وي، نو جزاء يې د عمل له جنسه ده، چې د لاس قطع او د زور اخيستل يې دي، دغه غلا هم په همدې لاس ترسره شوې ده (الشاذلي، ب.ت: ۱۳).

### ٦ ـ د لارې شکولو حد

پيژندنه يې : لارې ته د مال اخيستلو لپاره وتل چې په زور سره لاروی له تګ څخه منع کړي، که د يو فرد له خوا وي او که د يوې ډلې له خوا وي يوه خبره ده.

### د لارې شکوونکو جزاء

د لارې شکوونکو لپاره د هغوی د جرم سره برابره جزاء الله تعالی په قرآنکريم کې ښودلې ده چې:( إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ۚ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۳۳﴾ ) ( سورة المائده، ۳۳).

احناف وايي د قطاع الطريق حد په ترتيب باندې دی، که يوازې مال يې اخيستی وي، لاس او پښه به يې په مخالف ډول پرې شي، که يواځې قتل يې کړی وي، دوی هم بايد ووژل شي، که هم يې مال اخيستی وي او هم يې وژنه کړې وي، نو دلته حاکم اختيار لري، کولای شي چې اول يې لاس او پښه په رد او بدل ډول پرې کړي او بيا يې ووژني او هم کولای شي چې لاس او پښې يې قطع نه کړي بلکې يواځې ويې وژني او بس(الزحيلي، ۱۹۸۹: ٦/٦١٣).

**د لارې شکوونکو د حد حکمت او د حد په تطبيق کې يې عدالت**

خلکو ته لارې شکونکي ګواښ تر قصدي وژنې هم ستر دی؛ ځکه کله قصدي قتل د انتقام له کبله وي؛ اما د لارې شکوونکو له کور څخه د قتل، غلا او چپاول لپاره چې په يو وخت کې يې ترسره کړي بېرون وځي، نو حکيم شارع د داسې مجرم لپاره چې د همدې علت لپاره وي ښکاره جزاء نه ده ټاکلې؛ بلکې دلته نور علتونه دي، چې هغه د جزاء سختوالی غواړي د جرم په اعتبار باندې، نو که قانون پوهان هم دداسې مجرم لپاره جزاء ټاکي خامخا به له شريعت مخالفت نه کوي.

د لارې شکوونکي چې له کوره بېرون وځي نو دايې اراده وي چې قتل، غلا او چپاول به په يو وخت کې ترسره کوي، همدې لپاره وسله له ځان سره وړي، که څوک له خپل ځان يا مال څخه دفاع وکړي، سمدلاسه يې وژني، نو دده جرم له دوه لويو جرمونو څخه جوړ شوی دی او دواړه داسې لوی خطرونه دي، چې ښارونه ويجاړوي او د الله تعالی بندګان وژني .

د لارې شکوونکي د نورو انسانانو د روزي غټې سرچينې چې تجارت او سوداګري ده بندوي، که دا لاره بنده شي د خلکو ارتزاقي توکو شيريان بنديږي، د لارې شکوونکي له غله څخه په ډېر بد موقف کې دي، ځکه ډېر ځلي غل کمزوری وي، کم شی غلا کوي او پر هماغه خپل ژوند ته دوام ورکوي؛ اما قطاع الطريق له وسلې او قوت سره راوځي چې ځان ساتنه ترې پرته له وسلې او ځواک څخه ممکنه نه وي او دا له سوداګر سره وسله نه وي، که کومه وسله ولري نو په استعمال يې نه پوهيږي، غله او د لارو شکوونکو خو همدا کار وي، چې په هر څه پوه وي، سوداګر په غفلت او ناخبرۍ کې نيسي .

د لارې شکوونکي د الله تعالی له نعمتونو کفران کوي، الله تعالی ورته ځواک او روغتيا ورکړې، په داسې حال کې چې له دې نعمتونو سره هيڅ يو نعمت برابر نه دی، خو دوی دغه نعمت په بل ناوړه ځای کې کاروي؛ نو ځکه خو دوی د الله تعالی له نعمتونو ناشکري کوي .

**۷ـ د ارتداد حد**

پیژندنه یې: له اسلام څخه کفرته رجوع کولو ته ارتداد وایي.

**د مرتد جزاء**

دمرتد لپاره اسلامي شریعت څو ډوله جزاګانې په نظر کې نیول شوې دي لکه:

**قتل:** د علماوو په دې اتفاق دی، چې د مرتد قتل واجب دی؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ) (احمد بن حنبل، ۱۴۱۶: ۳/ ۱۵۵ـ حدیث نمبر: ۲۵۵۱).

که مرتد رجوع وکړي، مالونه یې خپل دي بېرته هغه ته سپارل کېږي، که رجوع ونه کړي او درا حرب ته لاړشي، د هغه ملکیت له خپلو مالونو څخه پای ته رسېږي.

د مرتد میراث: کله چې مرتد مړ شي او یا ووژل شي، د هغه له مال څخه د هغه قرضونه اداء کېږي، د هغه د جنایتونو تاوان به هم ترې ورکړل شي، د هغه د مېرمنې او خپلوانو نفقه هم ترې ورکول کېږي، ځکه دا داسې حقوق دي چې ایسارول یې روا نه دي، پاتې مال یې د مسلمانانو لپاره فیئ دی او په بیت المال کې باید کېښودل شي(الزحیلي، ۱۹۸۹: ۱۹۱/٦).

**د ارتداد د جزاء حکمت او پکې عدالت**

اسلامي شریعت د ارتداد جزاء قتل ټاکلې ده؛ ځکه ارتداد د اسلامي شریعت په ضد کې واقع کېږي، هغه چې د ټولنې بنسټ پرې ولاړېږي، نو له داسې مجرم سره نرمي کول اسلامي ټولنه له بربادۍ سره مخامخ کوي، په ټولنه کې فتنه ولاړوي، عام خلک په خپل دین باندې بې باوره کوي، نو داسې مجرم ته باید سخته جزاء ورکړل شي؛ ترڅو ټولنه او د ټولنې د نظم ساتنه وشي، د داسې جرمونو مخه ونیول شي او هم مجرم په خپله جزاء ورسېږي.

په دې کې شک نه شته چې په داسې جرمونو د مجرم وژنه تر ټولو ښه جزاء ده، چې خلک له جرم څخه منع کوي، دا یواځې اسلام نه دی چې د خپل نظام ساتنه له دې لارې کوي؛ بلکې ډېرنظامونه داسې دي چې د خپل نظام ساتنه په سختو جزاګانو کوي، څوک یې چې مخالفت وکړي او یا یې په مقابل کې ودرېږي، نو د خپل نظام د حمایت لپاره پرې سختې جزاګانې تطبیقوي لکه: (اعدام، بند، د سرمایې قرنطین، تبعید...) (العوده، ۱۴۰٦: ٦٦٢/۱).

**۸ ـ د بغاوت حد**

پېژندنه يې: باغي هغه چا ته ويل کېږي، چې د برحال نظام په وړاندې د زور له لارې قيام وکړي او د برحال نظام اطاعت نه کوي؛ بلکې په خپل زور او ځواک باندې يې اعتماد وي.

**د بغاوت جزاء**

اسلامي شريعت د بغاوت لپاره حد قتل ټاکلی دی، الله تعالی په دې اړه فرمايلي دي: (وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ۖ فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ ۚ فَإِن فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا ۖ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿۹﴾ )( سورة الحجرات، ۹).

او درسول الله صلى الله عليه وسلم وينا ده چې:( وَمَنْ بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَمِينِهِ، وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ فَلْيُطِعْهُ، مَا اسْتَطَاعَ، فَإِنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ، فَاضْرِبُوا عُنُقَ الْآخَرِ) ( القزويني، ب.ت:۲ / ۱۳۰٦ـ حديث نمبر: ۳۹۵٦).

**په بغاوت باندې د وژنې جزاء په ورکړه کې عدالت**

د بغاوت جرم د يو نظام او هم د هغه چا په وړاندې وي چې دغه نظام چلوي، نو اسلامي شريعت پرې جزاء سخته ټاکلې ده؛ ځکه په دغه برخه کې نرمي کول فتنه او انديښنې منځته راوړي، د نظام بنسټونه نړوي او له بربادي سره يې مخ کوي، په دې کې شک نه شته چې د قتل جزاء د دې جرم لپاره تر ټولو مناسبه جزاء ده، د مجرمينو له جرم څخه د مخنيوي په لاره کې بيا په ځانګړي ډول د هغه چا چې په امت باندې برلاسی غواړي، نو دداسې جرم لپاره قتل ښه جزاء ده(العوده، ۱۴۰٦: ٦٦٣/۱).

**۸ ـ قتل**

پېژندنه يې: ديو انسان په کړنه باندې د بل انسان د روح ويستلو ته قتل ويل کېږي.

د قتل ډولونه : قتل په مختلفو برخو باندې تقسيم شوی دی، چې مونږ يې پايلنی تقسيم را اخلو چې په هغه کې د قتل ډولونه پنځه ښودل شوي دي: عمد قتل، شبه عمد، د خطا قتل، جار مجری خطا او بالسبب قتل، نو په لومړنې قتل کې قصاص او په پاتې نورو کې ديت او کفاره ده له قتل بالسبب څخه پرته چې په هغه کې کفاره نه شته.

قصاص پېژندنه: د مجرم مجازات کول په هغه جرم دي چې ده مخکې ترسره کړی دی.

## د قصاص په قتل کې د شارع حکمت او د جرم او جزاء ترمنځ عدالت

د دنیا ودانول د انسان دنده او مکلفیت دی، نو چې نسل کم شي او یا له منځه لاړشي، دنیا له خرابوالي سره مخامخ کېږي، نو له دې کبله شارع هغه چا باندې چې غواړي خلکو ته په قتل او ټپ ستونزې ورسوي جزاء ټاکلې ده؛ ترڅو خلک یو پر بل تېری ونه کړي او د ځمکې د خرابوالي مخه ونیول شي، نو دا یې له دوه لارو مقرر کړی دی، چې یو یې قصاص او بل یې په مال سوله کول دي.

قصاص په قتل باندې د شارع حکمت په خلکو د عدالت د ټینګولو لپاره دی؛ ترڅو جزاء د عمل له جنسه شي، لکه الله تعالی چې فرمایلي:( وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنفَ بِالْأَنفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ ۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٤٥﴾) ( سورة المائده: ۴۵).

دا جزاء په تیرو امتونو کې هم وه، تر دې چې په هغه امتونو کې هم وه چې قوانین یې په خپله انسانانو جوړ کړي وو، د هغوې د قوانینو یو اصل دادی چې وایي: ( څوک چې بل وژني هغه به پرې وژل کېږي ) حکمت پکې دادی چې که قاتل ونه وژل شي، د مقتول د ورثه وو زړونه د قاتل په وړاندې له قهر، غوسې او کینې څخه ډکېږي، د انتقام لمبې یې له وجود څخه پورته کېږي؛ ځکه د قاتل وینه تویول ددوی حق دی، که چېرې دا حق د مقتول وارثانو ته ورنه کړل شي، د مقتول خپلوان په خپل سر قاتل وژني، د قاتل له وژنې وروسته بیا د قاتل وارثان د لومړني مقتول خپلوان وژني او دخپل مقتول انتقام اخلي، نو همداسې دا سلسله اوږدېږي، کېدای شي چې خبره کورنیو ته ورسیږي، نو ددغو وژنو د مخنیوي لپاره الله تعالی قصاص واجب کړ؛ ترڅو قاتل په خپله جزاء ورسیږي، نورو خلکو لپاره عبرت شي، الله تعالی هم په قصاص کې د زیاتو وژنو څخه خلک په دې ډول منعه کړي چې: (وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ۗ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِف فِّي الْقَتْلِ ۖ إِنَّهُ كَانَ مَنصُورًا ﴿٣٣﴾) (سورة الأسراء: ۳۳).

په قتل کې د دیت ووکولو حکمت دادی، چې کله مال د سولې له لارې له قاتل څخه واخیستل شي، په دې کې ددواړو لورو ګټه ده؛ ځکه قاتل چې کله مال د سولې په ډول ورکوي، دا په دې معنا ده چې یو کس ته یې نوی ژوند ورکړ او د مقتول خپلوان چې کله د سولې په پایله کې مال اخلي، دا ددوی په ګټه ده، ځکه چې په مال سره د وارثانو ژوند سمېږي، نو دا یې یو اړخ دی خو له بل اړخه یې قاتل سره مرسته وکړه، چې له مرګ څخه یې بچ کړ او دا یوازنۍ لاره ده، چې قاتل

ژوندی پاتې شي، دا کړنه د مقتول د وارثانو په نيکو اخلاقو او ښه خوی دلالت کوي(الجرجاوي، ۱۴۲۳: ۲ / ۲۰۴).

**د خطا قتل د ديت حکمت او له جرم سره يې عدالت**

با حکمته شريعت په هيڅ شي کې افراط او زياتی نه دی کړی؛ بلکې هر څه يې جوړ کړي او احکام يې ورته ايښي، په داسې ډول چې د خلکو د نېکمرغۍ کفالت کوي او د خلکو له مصلحت څخه خالي نه دی، کله چې د قتل پېښه منځته راشي، که هغه عمدي وي او که خطا وي، د مقتول وارثانو ته له دوه لورو زيان رسيږي چې:

الف ـ له وارثانو څخه داسې کس بېل شو، چې له دوی سره يې د ژوندانه په چارو کې مرسته کوله.

ب ـ د مقتول په نه شتون کې د هغه د وارثانو ژور خپګان او د زړه ماتېدنه.

نو لدې کبله شارع د قاتل پر وارثانو ديت واجب ګرځولی دی؛ ترڅو هغه څه چې له منځه تللي څه نا څه سم او زړونه پرې ټکور شي، ددې ترڅنګ چې شريعت ديت واجب ګرځولی دی، بل حکم هم شته چې هغه د الله تعالی عدل په ټوله معنا قائمول دي، داسې عدل او تدبير که چېرې د نن ورځې ټول قانون پوهان سره راټول شي د خطا قتل په اړه به داسې له عدل څخه ډکه پرېکړه ونه شي کړای.

په ديت کې سل اوښان او يا لس زره درهمه دي، چې د قاتل کورنۍ به يې د مقتول وارثانو ته ورکوي، حکمت په دې کې چې ديت به د قاتل کورنۍ ورکوي دادی، چې د قاتل د کورنۍ زړونه هم ودردېږي او دغه پېښه د هغوی په نفسونو کې تل پاتې شي؛ ترڅو له خپلو کارونو څخه غافل او ناخبره پاتې نه شي، که چېرې ناخبره پاتې شي لرې نه ده چې داسې پېښه بيا تکرار شي، قاتل به تل دکورنۍ د تهديد او څارنۍ لاندې وي؛ ځکه همدغه قاتل وو چې ټوله کورنۍ يې له ستر زيان سره مخامخ کړه، په داسې حال کې چې هغوی هيڅ جرم نه دی کړی، پرته لدې چې د قاتل په څارنه کې يې لږه سستي او غفلت کړی دی، چې د قاتل مخنيوی يې کړی وای.

بل حکمت په دې کې چې ديت د قاتل په کورنۍ ټاکل شوی دا دی، چې د عربانو قومي او کورنی تشکيل ډېر پياوړی وو، د شخړو پرېښودل يې شرم باله، پرېښودونکی به يې سخت ملامتاوه، نو له دې امله شريعت د خطا قتل ديت په قاتل او د هغه په کورنۍ مقرر کړ (الجرجاوي، ۱۴۲۳: ۲ / ۲۰۶).

**۹ ـ تعزیر**

پېژندنه یې: تعزیر هغه روا جزاده، چې په داسې جرم وي چې په هغه کې د شریعت له خوا حد او کفاره نه وي ټاکل شوي (الزحیلي، ۱۹۸۹: ۱۹۷/٦).

د تعزیر اندازه: تعزیر داسې جزاء ده، چې اسلامي شریعت هغه د حاکم خوښې او د ټولنې مصلحت ته پرېښې دی او یوه معئنه جزاء یې ورته نه ده ټاکلې، د زیاتوالي او کموالي اندازې په اړه یې علما څو نظریات لري چې په لاندې ډول دي:

د تعزیر کمه اندازه: د تعزیر لپاره کمه اندازه نه شته؛ ځکه که چېرې اندازه ورته وټاکل شي، بیا د ابن قدامه رحمه الله په نزد تعزیر نه بلکې حد ترې جوړ شو، اما احناف وایې د تعزیر لپاره کمه جزاء درې دورې ده، ځکه لدې څخه کمه جزاء باندې زجر نه راځي.

د تعزیر زیاته اندازه : د زیاتې اندازې په اړه یې د علماوو څو اقوال شتون لري چې په لاندې ډول دي:

۱ ـ د تعزیر لپاره زیاته اندازه نه شته؛ بلکې د امام رایې ته سپارل شوې ده، دغه نظریه د امام مالک او د شوافعو لومړنی تایید او امام ابو یوسف هم همدغه نظر غوره ګڼلی دی.

۲ ـ تعزیر باید هغه جزاء ته ونه رسیږي کوم چې اسلامي شریعت یو جرم ته ټاکلې وي (ابن الجوزي، ۱۴۱۵: ۴٦۹).

**په تعزیر کې د جرم او جزاء ترمنځ عدالت**

اسلامي شریعت همداسې کړي چې هر جرم ته یې جزاء نه ده ټاکلې، لکه څرنګه چې وضعي قوانینو هر جرم ته ټاکلې ده؛ ځکه د قاضي په یوه معئنه جزاء ورکولو باندې مقید کول هغه منع کوي چې خپله دنده په سمه توګه ترسره کړي او کېدای شي داسې جزاء ټاکل شوي وي چې له جرم سره زیات سمون ونه لري؛ ځکه د جزاء او مجرم احوال یو ډول نه وي؛ بلکې ډېر ځلې یو له بل سره توپیر لري، کله یوه جزاء یو مجرم لپاره مناسبه وي او دا مجرم پرې اصلاح کېږي، خو که همدا جرم بل کس ترسره کړي، هغه په دې جزاء نه سمېږي، بلکې نور هم فاسدېږي، نو ددې ستونزې د حل لپاره اسلامي شریعت د تعزیري جرمونو لپاره مختلفې جزاء ګانې وښودلې له اعلی څخه تر ادنی پورې او قاضي ته یې اختیار ورکړ، چې د دوی تر منځ مجرم ته جزاء ورکړي، ترڅو مجرم وربېرېږي

اود ټولنې خلکو ته عبرت شي، بيا قاضي کولای شي چې مجرم ته يوه او يا ډېرې جزا ګانې ورکړي (العوده، ۱۴۰٦: ۱/ ٦٨٦).

## پايله

د جزاګانو په تطبيق کې د اسلامي شريعت عدالت ته يوه کتنه موږ دې مهم حقيقت ته رسوي چې اسلامي جزايي نظام د عدالت بنسټيز اصول او ارزښتونه پوره مراعاتوي. اسلامي شريعت، چې د الهي وحې پر اساس ولاړ دی، د انساني ټولنې د اصلاح، امنيت او د فردي او ټولنيز عدالت د تحقق لپاره يو بشپړ او متوازن جزايي نظام وړاندې کوي. دا نظام نه يوازې د جرمونو مخنيوی کوي، بلکې د جرم د ارتکاب عواملو ته هم پاملرنه کوي او د مجرم اصلاح ته هم لاره برابروي. د اسلامي شريعت له نظره، جزاء يوازې يو انتقامي عمل نه دی، بلکې د ټولنې د سالم ژوند د تأمين، د مظلوم د حق د اعادې او د مجرم د اصلاح يوه وسيله ده. د حدودو، قصاص او تعزيراتو په نظام کې چې هر يو ځانګړي شرايط او اصول لري، شريعت هڅه کوي چې عدالت نه يوازې شکلي بلکې واقعي بڼه خپله کړي. د جزاء تطبيق د سختو شواهدو، عدلي دلايلو، د شک په صورت کې د حد رفع او د قاضي د انصاف پر بنسټ ترسره کېږي، ترڅو څوک په ناحقه نه وي سزا شوی او د مظلوم حق له منځه نه وي تللی. سربېره پر دې، شريعت د ټولنيز عدالت، برابري، رحمت او د توبې دروازې پرانيستې ساتي، ترڅو هر فرد د اصلاح او بېرته راګرځېدو چانس ولري. له همدې امله ويلای شو، چې د اسلامي شريعت جزايي نظام نه يوازې د سزا ورکولو يوه آله ده، بلکې يو عادلانه، الهي او ټولنيز متوازن نظام دی، چې د بشريت د نجات، اصلاح او سوکاله ژوند تضمين کوي.

نو ويلای شو چې که د اسلامي شريعت جزاګانې په سمه توګه، د عدل، تقوی او شريعت د اصولو پر اساس تطبيق شي، نه يوازې دا چې جرمونه به کم شي، بلکې يو عادلانه او با امنه ټولنه به رامنځته شي، چې پکې به د هر انسان عزت، حق او کرامت خوندي وي. دا هغه عدالت دی چې اسلامي شريعت يې تضمينوي او نړۍ ډېره اړتيا ورته لري.

## پايله اخيستنه

د اسلامي شريعت جزايي نظام د الهي حکمت، عدالت او د بشري کرامت پر بنسټ ولاړ دی. دغه نظام انسان ته نه يوازې حقونه ورکوي، بلکې د حدودو له لارې يې د دفاع ضمانت هم اخلي. اسلامي جزاګانې د جرم طبيعت، ټولنيز زيان، او د مجرم حالت ته په کتو سره ټاکل شوې دي، چې

دا کار د عدالت، اصلاح او عبرت درې واړه اړخونه پکې را نغښتي دي. د زنا، غلا، قتل، شرابو، قذف، ارتداد، بغاوت، او نورو لویو جرمونو لپاره ټاکل شوې جزاګانې یوازې سزا نه، بلکې یو تربیوي پیغام هم لري. مجازات په شریعت کې داسې نه دي چې بې تفاوته یا بې حسابه تطبیق شي، بلکې سختو شرایطو، دقیقو شواهدو او قضاوت ته اړتیا لري. د شریعت هدف نه یوازې د جرم مخنیوی دی، بلکې ټولنه د فساد له منځه ژغورل دي. د هرې جزاء تر شا ژور حکمت دی او دا حکمت هغه وخت څرګندېږي، چې د جرم ټول اړخونه وکتل شي. له همدې امله اسلامي حدود د بشري فطرت، ټولنیز مصلحت او الهي قانون تر ټولو معقول تعبیر ګڼل کېږي.

## وړاندیزونه

۱ . د اسلامي امارت مشرتابه ته: د جزاګانو د تطبیق پر مهال دې د عدالت اصل ته ځانګړې پاملرنه وشي، د حدودو او قصاص د تطبیق لپاره دې باصلاحیته، باتقوا، باعلمه او باتجربه قاضیان وګمارل شي، ترڅو جزاء د شریعت مطابق او له ظلم پرته ترسره شي.

۲ . د عدلي او قضایي ارګانونو مسئولینو ته: د جزاء تطبیق دې له قانوني طرزالعمل پرته ترسره نه شي. له شفافو قضایي پروسو پرته جزاء ورکول، د شریعت له عدالت سره تضاد لري. نو که د جرم ټول اړخونه وڅېړل شي او مجرم ته د ځان د دفاع کولو فرصت هم ورکړل شي، ښه به وي.

۳. ښوونیز بهیرته: د جزاګانو اړوند د اسلامي شریعت عدالت که په درسي نصابونو کې شامل شي، تر څو راتلونکي قاضیان او علما د جزاء فلسفه، شرطونه، او د عدالت اصول زده کړي او خلکو ته یې هم ور وښیي.

۴. عامو خلکو ته: خلکو لپاره هم مناسبه داده چې د شریعت پر عدالت باور ولري او له شخصي انتقام، قضاوت یا زور زیاتي ځان وساتي. هغوی ته په کار دي چې د قانوني لارو له مخې خپلې قضیې حل کړي او د قضایي نظام ملاتړ وکړي.

۵. مجرمینو ته: مجرمینو ته هم په کار ده چې د خپلو اعمالو مسؤلیت ومني او د توبې او اصلاح لارې ته متوجه شي. اسلامي شریعت د جزاء تر څنګ د بخښنې او اصلاح دروازې هم خلاصې پرې ایښې دي، ترڅو له هغو څخه ګټه واخیستل شي.

٦. د اسلامي امارت د اطلاعاتو او فرهنګ محترم وزارت ته: د شريعت د جزاګانو اړوند عامه پوهاوی دې زيات شي. بايد د رسنيو، تعليمي پروګرامونو او تبليغ له لارې خلکو ته وښودل شي چې اسلامي شريعت جزاء د عدالت لپار ټاکلې نه د انتقام لپاره.

## مأخذونه


القرآن الكريم

ابوزهره، محمد. (ب.ت). الجريمه والعقوبه في الفقه الاسلامي، دارالفكر العربي, قاهره _ مصر.

احمد بن حنبل، أ. (١٤١٦). مسند الامام أحمد بن حنبل، دارالحديث، قاهره ـ مصر، لومړی چاپ.

البخاري، محمد بن اسماعيل. (١٤٢٢). صحيح البخاري، دارطوق النجاة، سعودي عربستان، دويم چاپ.

الترمذي، محمد بن عيسى بن سوره. (١٩٩٨). سنن الترمذي، دار احياء التراث العربي، بيروت ـ لبنان.

الجرجاوي، الشيخ على احمد. (١٤٢٣). حكمه التشريع وفلسفته رشيديه، پيښور ـ پاكستان.

الجوزي، ابو زيد بكر بن عبدالله. (١٤١٥). الحدود والتعزيرات لابن القيم، دارالعاصمه، رياض ـ سعودی عربستان، دويم چاپ.

خضري بک، محمد. (ب.ت). تاريخ التشريع الاسلامي، تاج محل کمپنې، پيښور ـ پاكستان.

الزحيلي، دكتور وهبة. (ب.ت). الفقه الاسلامي وادلته، ناشر: دارالفكر، د نشر ځای: دمشق ـ سوريه، د نشر وار:دريم.

شاذلي، حسن علي. (ب.ت). الجنايات فى الفقه الاسلامي، دراسه مقارنه بين الفقه الاسلامي والقانون، دارالكتاب الجامعي، (ب.م) دويم چاپ.

الصنعاني، علاء الدين. (١٤٠٣). مصنف، المكتب الاسلامي، بيروت ـ لبنان.

الطبراني، س. (١٤١٥). المعجم الكبير, مكتبة ابن تيمية، قاهره ـ مصر، دريم چاپ.

العودة، عبدالقادر. (١٤٠٦). التشريع الجنايى الاسلامى مقارنا بالقانون الوضعي، مؤسسه الرسالة، بيروت ـ لبنان، اووم چاپ.

قزويني، م. (ب.ت). سنن ابن ماجه، دار احياء الكتب العربية، حلب ـ سورية.

كاساني، علاء الدين ابى بكر. (۱۴۰۵). بدايع الصنايع فى ترتيب الشرائع، دارالكتب العلمي، بيروت ـ لبنان، دويم چاپ.

النيسابوري، مسلم بن الحجاج. (ب.ت). صحيح مسلم، دار احياء التراث العربي، بيروت ـ لبنان.

هيئة كبار العلماء. (۱۴۲۷). الموسوعه الفقهيه الكويتيه، وزارت الاوقاف والشؤن الاسلاميه، كويت.

# نظرة الى عدالة الشريعة الاسلامية في تطبيق العقوبات

روح الله حميدى[1*] و نصرت الله نصرت[2]

قسم العلوم الاسلامية والثقافة، كلية التعليم والتربية، جامعة بكتيا [1-2]

## الخلاصة

تركّز هذه المقالة على عدالة العقوبات في الشريعة الإسلامية وحكمتها. يوضّح فيها أن العقوبات الشرعية وُضعت لحماية كرامة الإنسان، وتنظيم المجتمع، ومنع الجرائم، وهي مقررة بحكمة وعدل ورحمة من الله تعالى. تهدف العقوبة إلى إصلاح الجاني وحماية المجتمع من الفساد. تعرض المقالة تفصيل الحدود الشرعية مثل: الزنا، السرقة، القذف، الخمر، اللواط، الردة، قطع الطريق، البغاة، القتل، والتعزير، وتبيّن أن كل عقوبة تتناسب مع الجريمة بطريقة عادلة ومنطقية. كما تردّ المقالة على انتقادات بعض الناشطين المدنيين الذين يعتبرون العقوبات الإسلامية قاسية، وتوضح أن هذه الحدود تحفظ الأمن والكرامة الإنسانية، وتمنع الظلم والفساد.

**الكلمات الأساسية:** الجرم، الجزاء، الحدود، العدالة، المجرم.

# د سترې محکمې نافذه اصولو له مخې د فیصلې لومړي مخ (رأس الورقه) شکلیاتو ته کتنه

شریف الله امین[1*] او شاهدالله صافی[2]

د حقوقو څانګه، حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، پکتیا پوهنتون[1-2]

sharifamin9@gmail.com

## لنډیز

د سترې محکمې د نافذه اصولو سره سم په پورتنیو محاکمو د ښکتنیو محاکمو د پرېکړو د تائید په منظور د فیصلې لومړي مخ کې ځانګړي شکلیات باید رعایت شي، د نه رعایت په صورت کې د خلکو حقونه معطل او عدالت تر پښو لاندې کېږي. همدا د دې موضوع اهمیت په ګوته کوي. د څېړنې د ترسره کولو موخه داده چې امارتي محاکم د عدالت د تأمین او په سرعت سره د دعوی د حل او فصل په منظور د ټولو لازمو شکلیاتو په رعایت سره پرېکړې ترسره کړي، یاده څېړنه د توصیفي او تحلیلي میتود څخه په ګټې اخستنې، په مروري ډول تر سره شوې ده، له معتبرو فقهي او حقوقي کتابونو، نافذه تقنیني اسنادو، د اسلامي امارت د امیر المؤمنین (حفظه الله تعالی و رعاه) فرمانونو او د سترې محکمې د متحد المالونو او مصوباتو څخه استفاده شوې ده. څېړنه ښیي چې د لومړی مخ د حجم په لحاظ د فیصلې ډېره وړه برخه جوړوي، مګر دا چې د ټولې فیصلې د لارښود حیثیت لري، له همدې امله په تقنیني اسنادو او احکامو کې دې برخې ته ځانګړې پاملرنه شوې ده، د دې شکلي ترتیب پرته د لومړنیو محاکمو اجراأت او احکام د پورتنیو محاکمو لخوا ماتېږي، د پایله اخیستنې په ډول ویلای شو چې د دې اصولو د نه رعایت د خلکو او قضاء د وخت ضایع کېدلو او د حقوقو د ضایع کیدو سبب ګرځي.

**کلیدي کلمې:** تشریحات، تعرفه اشخاص، شکلیات، فیصله، لومړی مخ.

## سريزه

بسم الله الرحمن الرحيم،

الحمدلله الذي انزل الكتاب بأصول الشريعة و نور الاجماع والقياس بالسنة النبوية الشريفة، والصلاة والسلام على سيدنا محمد و اصحابه والتابعين من أئمة هذا الدين أما بعد: قال الله تبارک و تعالى: وَدَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِي الْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَاهِدِينَ ﴿۷۸﴾ فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ ۚ وَكُلًّا آتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُودَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ۚ وَكُنَّا فَاعِلِينَ ﴿۷۹﴾ (سورة الانبياء:۷۸- ۷۹). ژباړه: او ياد کړه ای محمد! (صل الله عليه و سلم) قصه د داوود او سليمان (عليهما السلام) کله چې حکم کاوه هغو دواړو په (دعوی او نزاع د) کښت (فصل) کې کله چې د شپې ګډه شوې وه بې له شپانه په هغه کښت کې رمه د هغه قوم او وو مونږ حکم د دوی ته حاضر پس و مو پوهاؤ په هغه (فتوی، فيصله) سليمان، او يوه د دوی دواړو ته ورکړی وو مونږ حکم (نبوت) او پوهه او تابع کړی وو مونږ له داؤد (عليه السلام) سره غرونه چې تسبيح به يې ويلي (او هم داسې تابع کړی وو مونږ) مرغان هم (چې تسبيح به يې ورسره ويلي او وو مونږ کوونکي د داسې کارونو (شيخ الهند، ۱۴۲۱. ج۲: ۱۶۷-۱۶۶). دارنګه عمرو بن العاص (رضی الله تعالی عنه) د رسول الله (صل الله عليه و سلم) روايت کوي چې رسول الله (صل الله عليه و سلم) و فرمايل: کله چې حاکم اجتهاد وکړي او د مسئلي حل ته ورسيږي نو د ده لپاره دوه اجره دي او که اجتهاد يې وکړ او خطاء شو نو بيا د ده لپاره يو اجر دی(العسقلاني.۱۳۷۹: ۱۱۳۷۸).

قضاء د عدالت په تحقق کې له ډېر اهميت څخه برخورداره ده، کوم چې الله و تبارک و تعالى ورباندې امر کړی، له دې امله علماء کرامو د قضاء مسائل تحليل کړي، بيا د دې چارو د ښه تنظيم لپاره په تقنيني اسنادو کې فقهي احکام او مسائل په ماده وار ډول ځای پر ځای شوي دي او کومو مسائلو کې چې د قضاء عالي مقام منسوبين، په ځانګړي ډول قاضي صاحبان له ستونزو سره لاس او ګريوان کېږي، د هغې مسائلو په هکله يې د سترې محکمې څخه هدايات غوښتي دي او سترې محکمې هم وخت په وخت د مشکلاتو پر مهال پر وخت هدايات او حل لاري اړونده محاکمو ته لېږلي دي، د دې تر څنګ د افغانستان د اسلامي امارت ستر زعيم او سالار امير المؤمنين العلامه الشيخ القرآن والحديث هبة الله (حفظ الله تعالى و رعاه) هم په ډېر دقيق ډول باندې د هېواد قضايي نظام تر

ځار لاندې نيولی او خپل مشفقانه، عالمانه او مدبرانه هدايات او احکام يې د قضاء د عالي مقاماتو سره شريک کړي دي ترڅو په ټولنه کې عدالت په احسنه وجهه تأمين شي.

د دې موضوع اهميت پدې کې دی چې که چېرته د ابتدائيه محاکمو لخوا پر شکلياتو او تشريفاتو مشتمله پرېکړه ترسره شي نو په حقيقت کې د پورتنيو محاکمو لخوا دا ډول فيصلې تائيديږي، بالاخره په دې ډول په سرعت سره حقوقي دعوی په سريع ډول د قطعيت او نهايت درجې ته رسيږي او زر تر زره يې د تطبيق لپاره زمينه برابريږي، په پايله کې خلک په سريع ډول د خپلو حقوقو تر لاسه کولو جوګه ګرځي او عدالت په احسنه وجهه تأمنيږي چې د فيصلي لومړي مخ او سر ورقې (عنوان) د شکلياتو په لحاظ د فيصلې غوښينه برخه ګڼل کيږي.

بله مهمه خبره دا ده چې د فيصلې لومړی مخ او عنوان په حقيقت کې د ټولې فيصلې رهبري ترسره کوي او که چېري په واقعي توګه لومړی مخ او عنوان په ټولو لازمو شکلياتو برابر تنظيم شي نو بيا لوستونکي د يوې لويې او حجم لرونکي فيصلي په ماهيت باندې د يوې ورقې په لوستلو سره سمدلاسه معلومات حاصلوي او په همدې لومړی مخ پوهېدل يې داسې ګڼل کيږي، لکه ټوله فيصله چې يې لوستې وي. په همدې لحاظ دا موضوع مهمه ده چې بايد وڅېړل شي او شکليات او شرايط ښه روښانه شي.

اصلي ستونزه دا ده چې په دې وروستيو کې د افغانستان د اسلامي امارت ستر زعيم او سالار امير المؤمنين العلامه الشيخ القرآن والحديث هبة الله (حفظ الله تعالی و رعاه) د افغانستان د ستري محکمې له لارې نه ټولو محاکمو ته (۵) ګڼه ۱۴۴٦/۲/۲۲ ه ق نېټه فرمان د متحد المال مکتوب(۲۱)ګڼه ۲۵/شوال المکرم/۱۴۴٦ه ق نېټه په ذريعه رسېدلی دی او په ټولو محاکمو کې عملي دی چې د دې فرمان له مخې د موضوع په ماهيت کې د فيصلې کولو صلاحيت يوازې تر ابتدائيه محاکمو پورې منحصر شوی دی، د استيناف او تميز محاکم د ابتدائيه محاکمو د پرېکړو په هکله د تائيد او نقض صلاحيتونه لري، نو دا چې د دې فرمان د حکم پر اساس د ابتدائيه محاکمو پرېکړې اساسي او بنيادي دي او د ماهيت په لحاظ يوازې د همدې محکمې پرېکړې اعتبار لري، نو لازمه ده چې ابتدائيه محاکم په ټوله مانا په کامل دقت سره پرېکړې ترسره کړي چې په عمل کې ځينې ستونزې تر سترګوکيږي او د شکلياتو په برخه کې نيمګړې فيصلې صادريږي چې هغه بيا په کراتو د پورتنيو

محاکمو لخوا نقض کېږي او دا چاره د حقوقي دوسيو د معطل کېدلو او په ټوله کې د عدالت سره منافي خبره ده. نو د دې لپاره چې په ټولنه کې په واقعي مانا د دې ستونزې مخه ونيول شي او لازمه ده چې په دې هکله اړونده تقنيني اسناد او د مشرتابه د مقاماتو په شمول د سترې محکمې اړونده هدايات ښه تشريح او تحليل شي چې په سريع ډول محاکماتي بهير پای ته ورسيږي او حق حقدار ته ورسيږي.

د يادې موضوع د څېړنې څخه عمده هدف په شکلي لحاظ د فيصلو د تنظيم او ترتيب شرايط رعايتول دي، ترڅو د ماهوي شرايطو د رعايت سربېره محاکم د فيصلو شکلياتو ته هم ځانګړې توجه وکړي، په راتلونکي کې په شرايطو برابرې فيصلې ترسره شي، اړونده هدايات، فرامين، احکام او تقنيني اسنادو مواد په پام کې و نيسي ترڅو د قضاء اجراأت بر قراره او ثابت پاته شي او د دعوی د لوريو او قضايي مراجعو بې ځايه وخت ضايع کېدلو مخنيوی وشي.

د فيصلې د ټولو برخو او حصو د شکلياتو موضوع څېړنه يوه پراخه موضوع ده چې د يوې مقالې په ترڅ کې يې څېړل ناممکن دي، چې د اسلامي امارت د فيصلو د ترتيب او تنظيم لپاره د سترې محکمې د تميز د عالي رياست او قضايي تعليماتو رياست د مفتي صاحبانو او مستشارانو په ګډه همکاری د (۷۸) مادو په لړ کې يوه منظمه تعليمات نامه ترتيب شوې ده چې د ټولو مادو د څېړلو او تحليل په دې څېړنه کې ناممکن دي، بناءً د يادولو وړ ده چې دا څېړنه يوازې او يوازې د لومړي مخ او عنوان (سر ورقې) اړونده مادو تحليل او څېړلو ته ځانګړې شوې ده.

په دې څېړنه کې دې عمده سوالونو ته ځواب پيدا کېږي چې د قضايي پرېکړې د سر ورقې (عنوان) او لومړي مخ په هکله د سترې محکمې تعليماتنامه، نافذ تقنيني اسناد او فقهي اصول څه حکم کوي؟ او که چېري دا شکليات په عنوان او لومړي مخ کې مراعات نه شي، قضايي پرېکړه د کوم سرنوشت سره مخ کېږي؟

## کړنلاره

دا يوه تحليلي او توصيفي څېړنه ده، تر ډېره دا څېړنه په قضايي برخه کې د افغانستان د اسلامي مارت د ستر زعيم او مشر امير المؤمنين شيخ صاحب د هداياتو او د سترې محکمې د تصاويبو او متحد المالونو په رڼا کې ترسره کېږي، تر ډېره حده په دې موضوع کې د سترې محکمې د تميز عالي

رياست او قضايي تعليماتو د رياست د مفتي صاحبانو او شيوخو او مشتشارانو لخوا د (۷۸) مادو په ترڅ کې د فيصلو د ترتيب او تنظيم تعليمات نامې مواد او احکام تشريح او توضيح کېږي کومه چې په ۱۴۴۴/۳/۲۵ هـ ق نېټه ترتيب شوې او د اجراأتو لپاره محاکمو ته استول شوې ده، ترڅو عمل پرې وکړي، دارنګه د موضوع اړونده د افغانستان د اسلامي امارت د نافذه تقنيني اسنادو (د افغانستان د اسلامي امارت د عدلي حقوقي محکمو د اجراأتو اصولنامه، د افغانستان د اسلامي امارت د عدلي حقوقي محکمو د اداري اجرااتو اصولنامه، د محاکمو عمومي لائحه...) او مجلة الاحکام العدليه مادې پکې تحليليږي او د دې ټولو په رڼا کې د محاکمو د فيصلو د لومړی مخ او سر ورقي (عنوان) د شکلي ترتيب او تنظيم لپاره يو منظم موډل وړاندې کوي.

د موادو يا ډيټا راټولول: د ستري محکمې د فيصلو تعليمات نامه چې د اسلامي امارت د حاکميت او فتحې له راتګ وروسته د آخري ځل لپاره د تصحيح او اصلاحاتو په نتيجه کې په ۱۴۴۴/۳/۲۵هـ ق نېټه محاکمو ته په رسمي ډول د ستري محکمې د عالي مقام لخوا را لېږل شوې ده ترڅو په خپلو اجراأتو کې پرې عمل وکړي، د يادې تعليمات نامې څخه په دې څېړنه کې استفاده شوې ده.

د قضيو مطالعې: په دې څېړنه کې د پکتيا ولايت د مرکز په نماينده ګۍ د شهري محکمې د يوې پرېکړې لومړی مخ او سر ورقې (عنوان) د شکلياتو له نظره تر بررسۍ لاندې نيول شوی او د ولسواليو په کچه هم يوه پرېکړه د شکلياتو په لحاظ تر بحث لاندې نيول شوې ترڅو معلومه کړو چې په دې پرېکړو کې تر کومه بريده په لومړي مخ او عنوان کې شکلي اصول په پام کې نيول شوي دي.

**د څېړنې محدوديتونه:** د دې څېړنې لپاره خام مواد لکه نافذه تقنيني اسناد، دوسيې، تعليمات نامه، اړونده هدايات احکام او فرامين ټول د خپلو شخصي اړيکو او امکاناتو او تجربې پر اساس ترلاسه شوي، په دې هکله عدلي او قضايي د مراجعو څخه بار بار رسمي غوښتنې شوي مګر مثبت ځواب نه دی ترلاسه شوی.

## اصلي موضوع

### د سترې محکمې نافذه اصولو له مخې د فيصلې لومړي مخ (رأس الورقه) شکلياتو ته کتنه

څرنګه چې پورته ذکر شوی عنوان د دې څېړنې اصلي عنوان دی، د اصلي محتوی په ترڅ کې لاندې موضوعات د بېلابېلو عنوانونو په لړ کې تر بحث لاندې نيسو:

**اختتام المحاکمه او د فيصلې پېژندنه**

د فيصلې د پېژندنې څخه وړاندې بايد يادونه وکړو چې کله د يوې دعوی تحقيق او تدقيق د کفايت درجې ته ورسېده نو د محکمې رئيس لاندې کړنې ترسره کوي:

۱ــ له دواړو خواوو په يوه ځانګړې پاڼه کې چې فارمټ يې رسمي بڼه لري، پوښتنې کوي چې نور څه شی لرئ او کنه؟ کله چې دوی ځواب ورکړي چې نور څه نه لرو نو محاکمه ختمه اعلانوي.

۲ــ کله چې دواړه لوري د محاکمې د ختم په اعلان پوه شول بيا نو هيڅ حق نه لري څه ووايي. (اداري اصولنامه، ۱۴۳۵: ۱۰۲ ماده).

همدې حالت ته چې محکمه د قضيې د څېړلو په هکله د کفايت درجې ته ورسيږي د قضاء په اصطلاح کې ورته اختتام المحاکمه يا د محاکمې پای ويل کېږي، د پورته ذکر شوي قانوني حکم په استناد کله چې طرفينو ته اختتام المحاکمه اعلان شي نو محکمه د فيصلې ترسره کولو لپاره قانوناً اماده شوه.

فيصله عبارت ده د هغه حکم صورت څخه چې قاضي يې په دعوی کې صادروي او په ستون تشريحات کې ځای پر ځای کېږي(عبدالحميدعمر، ۱۴۲۹: ۴۰۹).

حقوقي اصولنامه يې په هکله دا ډول تعريف کوي: د قاضي قضاوت دی چې په مخصوصو الفاظو په قاطع او جزم ډول صادرېږي چې يا به محکوم عليه پرې ملزموي او يا به يې له دعوی منع کوي(حقوقي اصولنامه، ۱۴۳۵: ۲۲ ماده). پوته ذکر شوی تعريف د مجلة الاحکام العدليه د (۱۷۸٦) مادې څخه اخيستل شوی دی چې د همدې مادې له مخې د عبارت او الفاظو په لږ تغير سره داسې تعريف

ورته کوي؛ حکم د قاضي لخوا د مخاصمې قطعه کول او پای ته رسولو ته وايي چې دوو ډولونو ته شامليږي:

۱ـ د الزام قضاء: د حکم ډول دی چې قاضي يو څوک د يو کار په ترسره کولو يا يو څه سپارلو ملزموي. لکه قاضي وايي چې حکم مې وکړ او چې فلان شی چې پر تا باندې يې دعوی کړي وه ورکړه، دې ډول قضاء ته د استحقاق قضاء هم وايي.

۲ـ د ترک يا بالترک قضاء: د حکم ډول دی چې قاضي يو څوک د يو کار يا دعوی څخه منع کوي. لکه، قاضي ورته وايي: تا ته نور حق نشته او ته له دعوی څخه منع شوی يې(مجلة الاحکام العدليه، ۱۲۹۳: ۱۷۸٦ ماده).

## د فيصلې د سر ورقې (عنوان) شکلی ترتيب

دلته به د سر ورقې اړونده شکلياتو باندې بحث وکړو او يو منظم موډل به يې وړاندې کړو، د محاکمو د فيصلو د ترتيب او تنظيم لپاره د ترتيب شوي تعليمات نامې د لومړی مادې د حکم له مخې له هرڅه لومړی دا ضروري ده چې د اسلامي امارت خپلې فيصلې د ستري محکمې په رسمي پاڼه کې وليکي (د صورت دعوی د ترتيب او تنظيم تعليمات نامه، ۱۴۴۴: ۱ ماده). د دې مادې له حکم څخه صراحتاً معلوميږي چې د اسلامي امارت د محاکمو پرېکړې د رسمي ورقې څخه پرته هېڅ اعتبار نه لري چې د رسمي ورقې څخه مقصد هغه پاڼه ده چې د ورقې په ښي طرف کې د افغانستان د اسلامي امارت لوګو (نښان) او په چپ طرف کې يې د افغانستان د قضائيه قوې لوګو (نښان) نصب شوی وي، د ورقې په منځ کې عنوان په دې ډول شروع شوی وي چې په ترتيب سره د ورقې په منځ کې اولاً د افغانستان اسلامي امارت وليکل شي، بيا په ترتيب سره په درې نورو کرښو کې ستره محکمه، د ولايت مرافعه محکمې رياست نوم، د اړونده ابتدائيه محکمې نوم، د محکمې د تصميم ډول چې قرار دی که فيصله او د قرار يا فيصلې نوعيت هم بايد مشخص شوی وي، په ترتيب سره له دې وروسته سر له کرښې د سر ورقې په ښي طرف کې د فيصلې د ورود او صدور نېټه په هجري شمسي او هجري قمري سره يې مطابقت ليکل شوی وي، د محکمې د فيصلې عمومي او خصوصي شمېرې د (ع) او (خ) حروفو په ليکلو سره د سر ورقې په چپ طرف کې ليکل شوي وي او دا ډول د ورقو مجموعي تعداد او بسم الله الرحمن الرحيم هم بايد په سر ورقه کې مشخصاً ليکل شوي وي.

د محاکمو د عالي اداري لپاره د مشرتابه د عالي مقام د (۱۱۳) ماده ییز فرمان هم همدا حکم کوي چې د محاکمو هره فیصله مقیده په دې ده چې خامخا به په هغه رسمي ورقو کې لیکل کېږي، کومې چې د محاکمو عالي اداري لخوا چاپ او ټولو محاکمو ته استول شوي دي، دا ورقي د اسلامي امارت او د سترې محکمې په لوګو ګانو باندې مزینې دي، له دې پرته په سپینو او غیر رسمي ورقو باندې د محاکمو فیصلې اعتبار نه لري(د محاکمو عالي اداري لپاره ۱۱۳ ماده ییز فرمان، ۱۴۳۵: ۱/۱ ماده).

دا رنګه د همدې فرمان د حکم پر اساس په سر ورقې یا عنوان کې باید محکمه په دې ډول تعئن شي چې نظامي ده که ملکي، ابتدائیه ده، مرافعه ده او که تمیز، دارنګه به د محکمې مربوطه ولایت، ولسوالي یا ښار هم په عنوان کې مشخصېږي(د فیصلو د ترتیب او تنظیم تعلیماتنامه، ۱۴۴۴: ۲ ماده). په سر ورقې کې بله مهمه نقطه چې باید ولیکل شي د فیصلې د ورود او صدور تاریخ دی، په دې مانا چې په ترتیب سره به په ورځ، میاشت او کال سره مشخصېږي چې دا دوسیه دې محکمې ته کله راجع شوې او کله له محکمې څخه وځي(د صورت دعوی د ترتیب او تنظیم تعلیمات نامه، ۱۴۴۴: ۳ ماده). دا اصل ګڼ شمېر نورو فقهي او تقنیني منابعو هم بیان کړی دی(آفندي، ۱۴۱۱. ج ۴: ٦٦٣)، (اداري اصولنامه، ۱۴۳۵: ۳۲ ماده)، (النظام او د هند د علماؤ ټولنه، ۱۴۱۱. ج ۳: ۳۴۴). د ورود او صدور تاریخ له ذکر کولو او په دې اصل د تاکید عمده هدف دلته دا دی چې د قضایي اصولو پر بناء د قضاء اجراأت په دوه مهمو قیودو سره بناء دي چې یو د زمان قید دی او بل د مکان قید دی، ځکه د اداري اصولنامې (۵) ماده حکم کوي چې محکمې د صلاحیت په قید موضوع ته رسیده ګی کوي، مجلة الأحکام العدلیة (۱۸۰۱) ماده هم حکم کوي چې: الْقَضَاءُ يَتَقَيَّدُ وَيَتَخَصَّصُ بِالزَّمَانِ أَوْ الْمَكَانِ. ژباړه: د قضا صلاحیتونه د وخت او ځای په لحاظ سره مقید شوي دي (مجلة الاحکام العدلیه، ۱۲۹۳: ۱۸۰۱ ماده). د دې اصل د رعایت لپاره چې د محکمې اجراأت د وخت په قید سره صحیح دي ځکه د دوسیې یا قضیې د ورود او صدور دواړه تاریخونه باید په سر ورقې کې مشخص شوي وي. په عنوان کې بل مهم مورد چې باید رعایت شي هغه دا دی چې د فیصلې د ټولو اوراقو مجموعي شمېر به په عنوان کې لیکل شوی وي(د صورت دعوی د ترتیب او تنظیم تعلیمات نامه، ۱۴۴۴: ۴ ماده). بېلګې په توګه که یوه فیصله په مجموعي ډول لس ورقې ولري نو په سر ورقې یا عنوان کې باید په دې ډول مشخص شي چې (د فیصلې د ټولو ورقو شمېر ۱۰ ورقې) او دا کړنه د دې لپاره ترسره کېږي ترڅو د فیصلې کومه پاڼه نا درکه نه شی او که فرضاً کومه پاڼه بې ځایه شي چې له سر ورقې یا عنوان څخه

معلوم شي. د سر ورقې يا عنوان بله مهمه برخه د فيصلې لپاره د عمومي او خصوصي شمېرې پکې ليکل شوې وي، هره فيصله د عمومي او خصوصي شمېرې درلودونکې ده چې د عمومي شمېرې مقصد دا دی چې په عمومي ډول په مورد نظر محکمه کې د صادرو شويو فيصلو شمېر چې د اندراج په دفتر کې ثبت شوی وي، څو شمېرې ته رسيدلی دی؟ همدا ګڼه د (ع) په توري سره د سر ورقې يا عنوان په چپ طرف کې د يوه افقي خط پر سر ليکل کېږي، دا ګڼه د دې محکمې د ټولو صادرو شويو فيصلو د شمېر نمايندهګي کوي، د همدې افقي خط څخه لاندې د (خ) د توري په مخفف سره خصوصي ګڼه ليکل کېږي چې په ځانګړي ډول د همدې فيصلې سره په نوعيت کې د يو شان صادرو شويو فيصلو د شمېر نمايندهګي کوي، د بيلګې په توګه که فرض کړو چې دا فيصله د غصب ده او پر فيصله باندې د (خ) د توري په ښودلو سره (۸) ګڼه وهل شوې وي، نو لوستونکي ته په صراحت سره معلومېږي چې په همدې محکمه کې دا د غصب په برخه کې (۸) ګڼه فيصله ده، د تعليمات نامې (۵) ماده همدا حکم کوي(د صورت دعوی د ترتيب او تنظيم تعليمات نامه، ۱۴۴۴: ۵ ماده). د فيصلې د عمومي او خصوصي شمېرې ذکر کولو باندې د افغانستان اسلامي امارت نور نافذ تقنيني اسناد هم تاکيد کوي چې د بيلګې په توګه د اداري اصولنامې د (۳۲) مادې (الف) بند او د افغانستان د اسلامي امارت د محاکمو لپاره د عمومي لايحې (۱۱۰) ماده همدا حکم کوي (د محاکمو عمومي لايحه، ۱۴۴۰: ۱۱۰ ماده). بالاخره د فيصلې د عنوان يا رأس الورقې په برخه کې بله نقطه چې بايد ذکر شي هغه دا ده چې د موضوع يا دعوی نوعيت ته بايد اشاره وشي، د بېلګې په توګه د غصب دعوی فيصله، د تعرض د دفعې دعوی فيصله، د سرقت حد فيصله او يا نور... چې دا اصل هم تعليمات نامې په (۵) ماده کې بيان کړی دی(د صورت دعوی د ترتيب او تنظيم تعليمات نامه، ۱۴۴۴: ۵ ماده).

## د سر ورقې څخه لاندې د فيصلې د لومړي مخ ترتيب څرنګوالی

په عمومي ډول هره قضايي فيصله په لومړي مخ کې د سر ورقې يا عنوان سربېره په لومړي مخ کې درې برخې لري د دې درې برخو لپاره د فيصلې لومړی مخ په درې کالمونو باندې وېشل کېږي چې په دې ډول ور څخه په تفصيل سره يادونه کولای شو:

**د اشخاصو تعرفه**

د سترې محکمې د عالي مقام د تميز عالي رياست او د قضايي تعليماتو رياست د منسوبينو، مفتي صاحبانو او شيوخو لخوا د محاکمو لپاره د فيصلو د ترتيب او تنظيم تعليماتنامه ټولو محاکمو ته استول شوې ده ترڅو په شکلي برخه کې عمل پرې وکړي د دې تعليمات نامې د (٦) مادې څخه تر (١٢) مادې پورې د تعرفه اشخاص برخې لپاره اصول وضع شوي دي چې ښي لوري څخه لومړۍ برخه (لومړي کالم) کې د اشخاصو تعرفه يا پېژندنه ځای پر ځای کېږي، د دې لپاره ځانګړی جدول ترتيب شوی وي کوم چې د دې مقالې په ضميمه کې په يوه تصوير کې لوستونکي مشاهده کولای شي، په دې برخه کې د درې کټه ګورۍ اشخاصو پېژندنه په تفصيل سره ځای پر ځای کېږي، د فيصلې د لومړۍ صفحې په لومړي کالم کې د پورته څخه ښکته خواته لومړي د مدعي جانب مکمل شهرت په لړ کې د مدعي يا مدعيانو يا هم مدعيونو نوم، د پلار نوم، د نيکه نوم، تذکرې شمېره، اصلي سکونت (ولايت، ولسوالي، قريه/ناحيه)، فعلي سکونت(ولايت، ولسوالي، قريه/ناحيه)، قوم، تابعيت او کسب، حالت (اصالت، وکالت، وصايت، ولايت، قيموميت) ذکر کېږي. په همدې ترتيب سره وروسته د مدعي د شهرت څخه لاندې په عينې ستون کې د مدعی عليه، مدعی عليهما يا مدعی عليهم مکمل شهرت يا شهرتونه هم د مدعي د شهرت په ترتيب او جزئياتو سره ذکر کېږي، د مدعي او مدعی عليه لپاره د اهليت ذکر کول هم اړين دي او ځانګړي خانه کې يې اهليت ته هم په دې ډول اشاره کېږي چې (حر، عاقل، بالغ او نافذ جميع تصرفات شرعيه وو او دی) (د صورت دعوی د ترتيب او تنظيم تعليمات نامه، ۱۴۴۴: ۷ او ۸ مادې)، (حقاني، ب ت: ۴۴، ۳۷ ماده). د حقوقي اصولنامې ۳۸مادې او د مجلة الاحکام العدليه د (١٦١٦) مادو د احکامو سره سم د دعوی د لوريو اهليت د قضاء او دعوی د صحت له شرايطو څخه ګڼل کېږي، له همدې امله د ليوني او غير مميز ماشوم دعوی نه اورېدل کېږي مګر په هغه صورت کې يې دعوی صحيح ده چې د دوی په نمايندګۍ يې وصيان يا وليان دعوی اقامه کړي او يا هم مدعی عليه واقع شي، شرعي مسئله دا ډول صراحت لري: يُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ الْمُدَّعِي وَالْمُدَّعَى عَلَيْهِ عَاقِلَيْنِ وَدَعْوَى الْمَجْنُونِ وَالصَّبِيِّ غَيْرِ الْمُمَيِّزِ لَيْسَتْ بِصَحِيحَةٍ إلاَّ أَنَّهُ يَصِحُّ أَنْ يَكُونَ وَصِيَّاهُمَا , أَوْ وَلِيَّاهُمَا مُدَّعِيَيْنِ , أَوْ مُدَّعًى عَلَيْهِمَا. ژباړه: د مدعي او مدعی عليه عاقل والی شرط دی، د ليوني او غير مميز ماشوم دعوی نه ده صحيح، مګر په هغه صورت کې صحيح ده چې د دوی وليان يا وصيان مدعيان يا مدعی عليهما واقع شی (مجلة الاحکام العدليه، ۱۲۹۳:

١٦١٦ ماده). مدعي او مدعى عليه چې په دعوى کې ورته خصمين يا متخاصمين هم وايي، مکمل شهرت يې د افغانستان د اداري اصولنامې د (٣٢) مادې د (د) بند د حکم سره سم د اصالت يا نيابت د حالت په پام کې نيولو سره هم بايد په فيصله کې وليکل شي(اداري اصولنامه، ١۴٣۵: ٣٢ ماده). د خصمينو د قوم، کسب، تابعيت او تذکري ذکر کولو او ليکلو باندې د محاکمو عمومي لايحه هم تاکيد کوي (د محاکمو عمومي لايحه، ١۴۴٠: ١١٣ ماده). مجلة الاحکام العدليه هم د دعوى د صحت شرايطو په لړ کې په فيصله کې د مد عي او مدعى عليه د شهرت په ليکلو تاکيد کړی دی (مجلة الاحکام العدليه، ١٢٩٣: ١٦١٧ ماده).

د تعرفه اشخاص په کالم کې آخري او دريمه برخه کې د معرفت د شاهدانو شهرتونه، اصلي او فعلي سکونتونه بايد وليکل شي، په تعليماتنامه کې په دې هکله تاکيد شوی دی (د صورت دعوى د ترتيب او تنظيم تعليمات نامه، ١۴۴۴: ١١ ماده). د دې شاهدانو شمېر به دوه تنه وي(١١٣ ماده ييز فرمان، ١۴٣۵: ۵ ماده). د معرفت د دواړو شاهدانو د شهرت، اصلي او فعلي سکونت د ليکلو وروسته د شاهدانو اهليت او د شهادت الفاظ هو بهو (ټکي په ټکي) ليکل کېږي او په آخره کې شاهدان په ځانکړي ځای کې بايد گوتې ولگوي (د صورت دعوى د ترتيب او تنظيم تعليمات نامه، ١۴۴۴: ١٢ ماده). اصولنامې هم حکم کوي چې په فيصله کې به يوازې داسې نه ليکل کېږي چې شاهدانو د دعوى سره په مطابقت کې شاهدي اداء کړه بلکې کټ مټ به د هغوی د شهادت الفاظ ذکر کېږي (اداري اصولنامه، ١۴٣۵: ٣٢ ماده). دا ډول د شهادت د اداء کولو څخه وروسته يې د گوتو لگولو يا امضاء کولو سره د خپل شهادت تائيد هم د همدې لومړۍ صفحې د تعرفه اشخاص په آخري برخه کې ضروري دی (١١٣ ماده ييز فرمان، ١۴٣۵: ٦ ماده).

### موضوع او د فيصلې خلاصه

د فيصلې په لومړۍ صفحه کې د ښي لوري څخه دوهم او د منځ کالم کې د موضوع او د فيصلې د خلاصې تر عنوان لاندې متن د خپلو ټولو لازمو شرايطو او شکلياتو او خاصو الفاظو په ذکر کولو سره ليکل کېږي، څرنگه چې عنوان څخه معلومېږي د فيصلې د لومړۍ صفحې په دې برخه کې عمدتاً دوه مهم موارد ليکل کېږي چې يوه يې د (موضوع) يعنى مدعى بها تعين او تحديد دی او بله برخه يې د فيصلې خلاصه ده. د تعليمات نامې له (١٣) مادې څخه تر (٢١) مادې پورې د دې موضوع په هکله احکام وضع کړي دي چې ځينو مهمو احکامو ته يې په دې ډول کتنه کوو:

د موضوع په خلاصه کې به د مدعي او مدعی علیه مکمله شهرت، اهلیت او حالت د اختصار په ډول په دې طریقې سره اشاره کېږي چې په تعرفه اشخاص ستون به حواله ورکوي (د صورت دعوی د ترتیب او تنظیم تعلیمات نامه، ۱۴۴۴: ۱۳ او ۱۴ ماده)، (۱۱۳ ماده ییز فرمان، ۱۴۳۵: ۱/۲۸ ماده).

په دې برخه کې بله مهمه موضوع چې لیکل کېږي د مدعی بها تعین او تحدید دی. په هره دعوی او فیصله کې د صحت له مهمو شرایطو څخه د مدعی بها تعین او تحدید دی، د مدعی بها د مجهول والي په صورت کې دعوی فاسده ګڼل کېږي ځکه د دعوی د صحت یو شرط دا دی چې مدعی بها به معلومه وي او د نا معلوم شي دعوی د اورېدلو وړ نه ده (حقوقي اصولنامه، ۱۴۳۵: ۶۳-۶۶ ماده). که مدعی بها منقول وي د منقولاتو د تعین د ځانګړې طریقې سره به تعینېږي او که غیر منقول وي د غیر منقولاتو د تعین او تحدید په ځانګړي طریقه سره به د خلاصې په برخه کې لیکل کېږي، نو که د دعوی موضوع ځمکه وي په دې صورت کې به یې د عام څخه تر خاص پورې موقعیت ذکر کېږي، د بیلګې په توګه مدعی بها د پکتیا ولایت احمد ابا ولسوالۍ د سلام خیلو د قریې د سورسنګ په کلي کې موقعیت لري، دا ډول به یې اربعه حدود هم ذکر کېږي لکه شرق، غرب، شمال او جنوب او د ځمکې وصف به هم ذکر کېږي لکه زراعتي ده که غیر زراعتي، باغي ده، للمي ده، آبي ده، رودي اوبه لري، کاریزي ده او که څنګه؟ دارنګه که دعوی د قتل وي نو د مقتل (د قتل ځای) اربعه حدود به هم ذکر کېږي (د صورت دعوی د ترتیب او تنظیم تعلیمات نامه، ۱۴۴۴: ۱۵ ـ۱۷ ماده). د مدعی بها د معلومولو د طریقو د څرنګوالي له حیثه مدعی بها دوه انواعو ته وېشل کېږي، په اشارې سره د هغه مدعی بها معلوموالی صحیح دی چې حاضر وي، که دا منقول مال وي او که غیر منقول. د صفاتو په بیانولو سره د غائبې او غیر حاضرې مدعی بها معلوموالی صحیح دی او د غیر منقول مال تعین په موقعیت (ولایت، ولسوالي، قریه، کلی)، اربعه حدودو، د حدودو مالکانو شهرتونو، فواصلو، کیفیت او نوعیت سره کېږي مګر که د حدودو مالکان مشهور او معروف اشخاص وي په دې صورت کې بیا مکمل شهرت ته اړتیا نشته (حقاني، ۱۴۴۴: ۸۲)، (مجلة الاحکام العدلیه، ۱۲۹۳: ۱۶۲۳ ماده). که مدعی بها په تعین کې د اهل خبره او مسلکي اشخاصو او ادارو معلوماتو اړتیا وي په دې صورت کې به قاضي د اهل الخبره او مسلکي اشخاصو او ادارو څخه معلومات حاصلوي او د (موضوع او د فیصلې خلاصه) په عنوان کې د مدعی بها د تعین اړونده معلومات ځای پر ځای کوي او د تعلیمات نامې (۱۹) ماده د حنفي فقهي د نورو معتبرو منابعو په شمول د مجلة الاحکام

العدليه په استناد سره ذکر کوي د غير منقول مال د تعين په برخه کې به د حدودو په برخه کې تصريح کوي چې د مدعی بها ترڅنګ مملوکه ځمکه واقع ده او که غير مملوکه، نو که غير مملوکه ځمکه واقع وي، په دې صورت کې به عامه او خاصه په الفاظو کې سره بيلوي (د صورت دعوی د ترتيب او تنظيم تعليمات نامه، ۱۴۴۴: ۱۹ ماده). کله چې په خلاصه کې تعين د موضوع ترسره شو نو له دې وروسته به سبب د حکم هم ذکر کوي او په خلاصه کې به يې ليکي چې محکمې خپل تصميم د حکم د شرعي اسبابو څخه د کوم سبب پر اساس ترسره کړی دی (د صورت دعوی د ترتيب او تنظيم تعليمات نامه، ۱۴۴۴: ۲۰ ماده). د حکم اسباب د اداري اصولنامې د (۱۲۳) مادې په استناد سره اقرار، شاهدان (بينه)، قسم او نکول دي او حقوقي اصولنامې په (۱۵۰) ماده کې د حکم اسباب د حکم د طريقو په عنوان سره اقرار، شاهدان، قسم نکول او قراين ذکر شوي دي (اداري اصولنامه، ۱۴۳۵: ۱۲۳ ماده)، (حقوقي اصولنامه، ۱۴۳۵: ۱۵۰ ماده). د دواړو ذکر شويو تقنيني اسنادو عبارت اګر که يو له بله يو څه مختلف ښکاري مګر په مفهوم او مانا کې يې هيڅ تفاوت نه تر سترګو کېږي. د موضوع د تعين او خلاصي په برخه کې د تعليمات نامې د (۲۱) مادې د حکم پر اساس د قضا د ډول ذکر کول، هم ضروري دي چې قضاء د مجلة الاحکام العدليه د (۱۷۸٦) مادې دوه ډولونو ته شامليږي، د الزام قضاء او د ترک يا بالترک قضاء د همدې مقالې په لومړی برخه کې تعريف شول (مجلة الاحکام العدليه، ۱۲۹۳: ۱۷۸٦ ماده). دارنګه د موضوع د تعين او خلاصې په برخه کې د (محکوم له) ليکل هم ضروري دي، محکوم له د حقوقي اصولنامې ۳۳مادې او د مجلة الاحکام العدليه د (۱۷۸۹) مادې د حکم پر اساس: الْمَحْكُومُ لَهُ هُوَ الَّذِي حُكِمَ لَهُ، يعنی هغه څوک چې حکم د ده په مادي يا معنوي ګټه صادر شوی وي که دا مدعي وي او که مدعی عليه (مجلة الاحکام العدليه، ۱۲۹۳: ۱۷۸۹ ماده)، (حقوقي اصولنامه، ۱۴۳۵: ۳۳ ماده).

## تشريحات

تشريحات په حقيقت کې د دې څېړنې موضوع نه تشکيلوي ځکه تشريحات د فيصلې هغه لويه او ذخيمه برخه ده چې ټول اداري اجراأت، جريانات، د مدعي استدعاء او صورت دعوی، د مدعی عليه مدافعات، د محاکمې ټول جريان، د محکمې استدلال، د محکمې استنتاج، د محکمې استفتاء، فتوی، نص الحکم او نور ډېر تفصيلي موارد په بر کې رانغاړي چې د دې څېړنې حوصله د دې ټولو مواردو له څېړلو څخه عاجزه ده، مګر په دې څېړنه کې يې ذکر يوازې له دې امله شوی دی چې د

تشريحاتو عنوان هم د فيصلې د لومړۍ برخې د دريم کالم يا ستون څخه شروع کېږي او په تفصيل سره د پرېکړې تر آخره پورې ادامه پيدا کوي چې ځېنې وختونه د يوې پرېکړې تشريحات لسګونه صفحو ته رسېږي. په همدې اساس د تشريحاتو برخه باندې نورو تفصيلي معلوماتو څېړل نورو څېړنو او څېړونکو ته پرېږدو تر څو په ټولو جزئياتو سره د فيصلې ټول شکليات اړونده تعليماتنامې، د سترې محکمې هداياتو او نافذه تقنيني اسنادو په رڼا کې وڅېړل شي (الکاساني، ۱۴۲۲).

## پايلې

د پورته بحث له تحليل او تجزيې څخه مو لاندې پايلې ترلاسه کړې دي:

۱ـ يوه پايله دا شوه چې اګر که د فيصلې لومړۍ مخ د حجم په لحاظ د فيصلې ډېره وړه برخه جوړي ځکه چې يوازې يوه صفحه ده او داسې قضايي فيصلې هم شته چې د صفحاتو شمېر يې لسګونه ته رسيږي مګر د هرې قضايي فيصلې لومړۍ مخ او عنوان د شکلياتو په لحاظ د فيصلې د ډېرو غوښينو او غټو برخو څخه ګڼل کېږي.

۲ـ همدارنګه دې پايلې ته هم ورسيدو چې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام په شمول سترې محکمې او تقنيني اسنادو د قضايي پرېکړې دې برخې ته ځانګړې پاملرنه هم کړي او وخت په وخت يې د تقنيني اسنادو، احکامو او فرامينو په صادرولو سره دې برخې ته احکام وضع کړي او تاکيد يې پرې کړی دی.

۳. دا رنګه دا پايله ترلاسه کوو چې د دې شکلي ترتيب پرته د د لومړنيو محاکمو اجراأت او احکام د پورتنيو محاکمو لخوا نقض کېږي او په پايله کې د خلکو حقوق معطلېږي او د دعوی د خاوندانو او قضاء د عالي مقام د منسوبينو وخت بې ځايه ضايع کېږي.

## مناقشه

کومو پايلو ته چې په دې ليکنه کې رسيدلې يو په لاندې ډول يې مناقشه کوو:

د يوې قضايي پرېکړې لومړی مخ اگر که د حجم په لحاظ د پرېکړې يوازې يوه صفحه تشکيلوي مگر د شکلياتو او اهميت په لحاظ د شکلياتو ډېره برخه ولې په همدې لومړي مخ او عنوان کې په نظر کې نيول شوې ده.

د دې لپاره چې پورتنۍ (مرافعه او تميز) محکمو قضات، مفتي صاحبان، د تحريراتو د چارو مسؤلين، د دعوی لوري، مدافع وکيلان، د حکم د تطبيق او ځار مراجع لکه د حقوقو اداره، جنايي مسؤلين، د فرامينو او احکامو د تعقيب او نظارت ادارو کارکوونکي په ډېرې اسانۍ سره د څو لحظو وخت په ورکولو سره په سريع ډول د يوې قضايي پرېکړې په ټولو اجراأتو باندې په عاجل ډول پوهه ترلاسه کړي او په خپله برخه کې د ټاکلو قانوني معيادونو په نظر کې نيولو سره په سريع ډول اړونده لازم اقدامات او اجراأت ترسره کړي، د همدې هدف په منظور لازمه گڼل شوې ده چې د قضايي پرېکړو د شکلياتو عمده او غوښينه برخه د قضايي پرېکړې په لومړۍ صفحه او عنوان کې مراعات شي.

دوهمه پايله په دې ډول مناقشه کوو چې ولې د افغانستان د اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام په شمول د ستري محکمې د تميز عالي رياست او د قضايي تعليماتو رياست مفتي صاحبان او په ټوله کې مقننينو ولې د قضايي پرېکړو لومړي مخ او سر ورقې (عنوان) باندې ډېر تاکيد کړی دی؟

د دې سوال په جواب کې ويلای شو چې دا موضوع گڼ شمېر عوامل لري، يو عمده عامل يې دا دی چې د قضاء پرېکړې هميشه بايد مستقرې، ثابتې، واحدې او په ټوله کې لازمه ده چې واحد طرز طريقې سره وليکل شي، نو له همدې امله مقنن، د ستري محکمې شيوخ او مفتي صاحبان او مشرتابه دې موضوع ته ځاگړې توجه کړې ده او په دې هکله يې گڼ شمېر هدايات، احکام او فرامين صادر کړي او د عمل کولو لپاره يې محاکمو ته ليږلي دي.

بله مهمه پوښته دا پيدا کېږي چې د فيصلي د شکلياتو د رعايت پرته د تحتاني محاکمو لخوا ترسره پرېکړې ولې نقضيږي؟

نو د دې سوال ځواب دا دی چې په ټوله د اصول محاکمات اړونده قواعد او احکام پروسيجري او تشريفاتي قواعد دي چې د همدې تشريفاتو په لړ کې د حق د اثبات چاره ترسره کېږي، شکلي او تشريفاتي خاصيت د دې قواعدو له ډېرو مهمو او اړينو ځانګړتياوو څخه ګڼل کېږي، په همدې اساس قضاء او عدلي محاکم د دې شکلياتو په رعايت مکلف او ملزم دي او د دې شکلياتو د عدم رعايت په صورت کې عدالت، مساوات او د محاکمې د مساوات اصل تر سوال لاندې راځي، له بله پلوه فقهي عامه قاعده ده چې قضاء مظهره ده، مثبته نه ده، نو د قضاء د مظهر والي ځانګړتيا هم دا ايجاب کوي چې د فوقاني محاکمو قضات کرام مکلف دي د ټولو شرعي شرايطو، اوصافو، شکلياتو او تشريفاتو په نظر کې نيولو سره د تحتاني محاکمو د پرېکړو د تائيد، نقض يا بطلان په هکله خپل تصميم ونيسي.

د يادولو وړ ده چې په دې برخه کې د افغانستان د اسلامي امارت د حاکميت څخه وروسته د امارتي حاکمو او نافذه تقنيني اسنادو له مخې په دې موضوع کې هيڅ څېړنه هم نه ده شوې.

## پايله اخيستنه

بالاخره ددې ټول بحث څخه دا پايله اخيستلي شو چې د فيصلې د لومړۍ ورقې او عنوان يا سر ورقې په برخه کې د شکلي اصولو رعايت ته د افغانستان د اسلامي امارت د مشرتابه په شمول د سترې محکمې د تميز عالي رياست او قضايي تعليماتو رياست مفتي صاحبان او شيوخ په تمامه مانا متوجه دي او په دې هکله يې په خپلو هداياتو، احکامو، متحدالمالونو، مصوباتو، او تعليماتنامه کې ځانګړي اصول وضع کړي دي او د دې ترڅنګ د اسلامي فقهي معتبرو کتابونو او فتاواوو او د افغانستان د اسلامي امارت تقنيني اسنادو هم دې نقطې ته ځانګړې توجه کړې ده. په تعليماتنامه او تقنيني اسنادو کې د حنفي فقهي د معتبرو کتابونو څخه په ډېر منظم، مکمل او ماد وار ډول د اړونده فقهي تخريج سره يو ځای احکام ځای پر ځای شوي دي چې په نتيجه کې ويلای شو د شکلياتو په هکله د مذکوره تعليماتنامه يو غني تقنيني سند دی.

## وړانديزونه

د يادې موضوع له څېړنې څخه وروسته لاندې وړانديزونه لرو:

لومړی: د ستري محکمې د قضايي تعليماتو رياست ته وړانديز کېږي د فيصلو د ترتيب او تنظيم د تعليمات نامې په شمول د هېواد د ټولو نافذه تقنيني اسنادو د تشريح او توضيح او عملي کولو په هکله قضات کرامو او د عدلي او قضايي ادارو نورو منسوبينو ته اوږدمهاله او لنډ مهال روزنيز او ښوونيز پروګرامونه دايرشي ترڅو په شکلياتو برابرې پرېکړې ترسره او د خلکو او قضايي دستګاه د منسوبينو وخت بې ځايه نه وي ضايع شوی او د تحتاني محاکمو لخوا داسې په عدالت ولاړې پرېکړې ترسره شي چې په فوقاني محاکمو تائيد او زر تر زره يې د تطبيق زمينه برابره شي.

دويم: اړونده تقنيني اسناد، احکام او فرامين دې د عامه لاسرسۍ وړ وګرځي ترڅو د دعوی د لورو په شمول ټول مسلکي اشخاص ورڅخه په اسانۍ استفاده وکړي.

دريم: د قضايي دستګاه منسوبين او په ځانګړي ډول د تحتاني محاکمو محررين، مفتي صاحبان او قضات کرام دې په دې برخه کې ټول احکام په جديت سره رعايت کړي ترڅو په اسرع وخت کې د خلکو حقوق پر ځای او ورته وسپارل شي.

## اخځليکونه


القرآن الکريم.

ابن حجر العسقلاني، شهاب الدين. (۱۳۷۹). فتح الباري شرح صحيح البخاري.چ۲. بيروت لبنان: دار المعرفة.

ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز. (۱۴۱۲هـ ق). رد المحتار على الدر المختار.چ۲. لبنان. بيروت: دار الفکر.

الکساني، علاء الدين ابی بکر بن مسعود الحنفی. ( ۱۴۲۴هـ ق). بدايع الصنايع فی ترتيب الشرايع: بيروت- لبنان. دارالکتب العلميه.

النظام او د هند د علماؤ ټولنه، (۱۴۱۱ه ق). فتاوی هنديه. لبنان. بيروت: دارالفکر.

الافغاني، شمس الحق. ( ۱۴۰۳ه ق). معين القضات والمفتين. حقاني، عبدالحکيم.( ۱۴۴۴ ه ق). شرح والتعليق. کابل: مکتب تعلقات الدوليه والعامه والأعلام.

حقاني، عبدالباقی. (ب. ن). الفتاوی وثايق و سجلات. غزنوی، احمدزی. ژباړه. چ۱. پاکستان. کويټه.کاسي روډ: د ارشاد تعليمي او نشراتي خپروندويه ټولنه.

خواجه أمين أفندي، علي حيدر. (۱۴۱۱هـ ق). درر الحکام في شرح مجلة الأحکام. چ۱. لبنان- بيروت: دار الجيل.

د کويټ اسلامي دولت د اوقافو وزارت، د علماؤ کمېټه. (۱۲۲۷هـ ق). الموسوعة الفقهية الکويتيه. چ۲. کويټ: د اوقافو وزارت مطبعه.

ديوبندی، شيخ الهند، محمود حسن اوعثمانی، شبير احمد. (۱۴۲۱هـ ق). کابلی تفسير. دافغانستان ستروعلماوټولنه. پښتو ژباړه. سعودي عربستان: مجمع خادم الحرمين الشريفين.

عبدالحميدعمر، أحمد مختار. (۱۴۲۹هـ ق). معجم اللغة العربية المعاصرة. چ۱. لبنان- بيروت: عالم الکتب.

**قوانين، فرامين او تعليماتنامې**

د عثماني خلافت د علماؤ کمېټه. (۱۲۹۳هـ ق). مجلة الاحکام العدليه. چ۲. پاکستان. کراچي. ارام باغ. نور محمد. کارخانه تجارت کتب.

د عدلي محکمو د اداري اجراآتو اصولنامه. د افغانستان اسلامي امارت د عدليي وزارت. (ـــــ) رسمي جريده. ۱۴۳۵ هـ ق.

د عدلي محکمو د حقوقي اجراآتو اصولنامه. د افغانستان اسلامي امارت د عدليي وزارت. (ـــــ) رسمي جريده. ۱۴۳۵ هـ ق.

د فيصلو د ترتيب او تنظيم تعليماتنامه. د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه. (ـــــ) رسمي جريده. ۱۴۴۴ هـ ق.

د محاکمو عالي اداري لپاره (۱۱۳) ماده ییز فرمان. د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام. فرمان گڼه(ـــــ). (۱۴۳۵ه ق)

د محاکمو عمومي لایحه. د افغانستان اسلامي امارت د عدلیي وزارت. (ـــــ) رسمي جریده. ۱۴۴۰ هـ ق.

# Procedural Review of the First Page of Court Decision (Rās al-Waraqa) according the Supreme Court's in-force principles

[1*]Sharifullah Amin and [2]Shahidullah Safi

[1-2]Department of Law, Law and political science Faculty, Paktia university

sharifamin9@gmail.com

## Abstract

In accordance with the in-force procedural principles established by the Supreme Court, strict compliance with specific formal requirements on the first page of court decision is mandatory for the affirmation of lower court decisions by higher judicial authorities. Its non-compliance leads to the suspension of individuals' rights and the violation of justice; This underscores the significance of this study. The objective of this research is The Emirate's courts should follow these procedural requirements in their decisions to guarantee justice and promptly resolve claims. The study was conducted using a descriptive and analytical methodology and constitutes review-based research The study has utilized Islamic jurisprudence books, legal books, applicable legislative instruments, decrees of the *Amir al-Mu'minin* (may Allah protect him) and resolutions of the Supreme Court. The findings of this study indicate that the first page constitutes a very small portion of the court decision; however, as it serves as the guiding page for the entire decision, this section has consequently received particular attention in in-force legal principles Without this procedural arrangement, the rulings and court decision of lower courts are overturned by the higher courts In conclusion, the non-observance of these procedural principles leads to unnecessary delays in the judicial process, the wastage of both litigants' and courts' time, and the potential violation of individuals' rights.

**Keywords:** Decision, Explanations, Formalities, Identification, Parties.

# د اسلامی شریعت او کریمنولوژۍ له نظره د انسان د زیږون څخه وړاندې د بېلابېلو جرمي عواملو د مخنیوي لارو چارو څېړنه

شاهدالله صافی[1*] او شریف الله امین [2]

د حقوقو څانګه، حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، پکتیا پوهنتون[1-2]

shahidsafi22@gmail.com

## لنډیز

دا څېړنه د انسان له پیدایښت نه وړاندې د جرمي عواملو د مخنیوي یوه نوې څېړنیزه هڅه ده، چې له اسلامي شریعت او کریمنالوژۍ دواړو لیدلوریو څخه تحلیل شوې ده. څېړنه پر دې تمرکز کوي چې د جرم جرړې یوازې وروسته له زېږون څخه نه پیلېږي، بلکې د انسان شخصیتي جوړښت د جنین د پړاو له پیل سره تړاو لري. څېړنه د کتابتوني او تحلیلي میتود پر مټ ترسره شوې، چې له معتبرو اسلامي متونو، د اسلامي طب کتابونو، او همداراز له عصري ټولنیزو، رواني او حقوقي څېړنو څخه پکې استفاده شوې ده. هدف دا دی، چې د اسلامی شریعت او کریمنالوژۍ له نظره د انسان د زېږون څخه وړاندې بېلابېل جرمي عوامل او د هغوی حل لارې وپېژندل شي. د څېړنې پایلې ښیي چې د سالم نسل د روزنې لپاره د مور او پلار انتخاب، د دعاګانو غوښتنه، د حلال رزق رعایت، د مور او پلار اخلاقي چلند، د مور له فزیکي او رواني فشارونو ساتنه او د کورني چاپېریال مثبت نظم د جرم د مخنیوي بنسټیز عوامل ګڼل کېږي. څېړنه دا هم ثابتوي چې یوازې قانوني مجازات د جرم د حل لاره نه ده، بلکې باید د انسان فطرت، اخلاق، دیني ارزښتونه، او ټولنیزې اړیکې پیاوړې شي. اسلامي شریعت او کریمنالوژي دواړه دا پیغام وړاندې کوي چې جرمونه د فرد د فکر، عقیدې او شخصیت له اصلاح سره کمېدلی شي. نو ځکه، دا سپارښتنه کېږي چې د جرم د مخنیوي تګلاره دې له جنیني پړاو څخه پیل شي، څو یوه باثباته، بااخلاقه او سالمه ټولنه رامنځته شي.

**کلیدي کلمې:** اخلاقي ارزښتونه، ټولنیز عوامل، جرم مخنیوی، جنین د پړاو اغېز، دیني ارزښتونه.

## سريزه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ،

اَلْـحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِين، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ، وَعَلٰى آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ، اما بعد!

قال الله تبارک وتعالی فی محکمه کتابه: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا (التحريم: ٦).

وَ اذآقال: وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا ﴿٧﴾ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا ﴿٨﴾ (الشمس: ٧-٨).

ژباړه: او په انساني نفس او په ذات قسم دی، چې هغه يې برابر کړ، بيا يې د هغه بدي او پرهېزګاري ورته الهام کړه.

ټول شکر او ثنا هغه الله تعالی ته ځانګړې ده چې انسان ته يې د فکر، انتخاب او وجدان ستر نعمتونه ورکړل، او د ښه او بد ترمنځ يې د پرېکړې توان ورکړه. درود او سلام دې وي پر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم، هغه نبي چې انسان ته يې د هدايت، عدل، اخلاص او تربيې بشپړ نظام وړاندې کړ.

انسان ته له پيدايښت مخکې د سالم نسل، نېکې تربيې، ديني لارښوونو او اخلاقي بنسټونو برابرول، نه يوازې د اسلامي شريعت مهم اصل دی، بلکې د معاصرې کريمنالوژۍ يوه نوې او ژوره موضوع هم ده. الله تعالی فرمايي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا) (التحريم: ٦). ژباړه: ای مؤمنانو! خپل ځانونه او خپلې کورنۍ له اوره وساتئ. دا الهي امر يوازې د جرم له بعد څخه د مخنيوي اشاره نه ده، بلکې له پيله د تربيې، هدايت، او سالم چاپېريال برابرولو تاکيد دی. همدارنګه، الله تعالی فرمايي: (وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا ﴿٧﴾ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا ﴿٨﴾) (سورة الشمس: ٧-٨) ژباړه: او په انساني نفس او په هغه ذات قسم دی، چې هغه يې برابر کړ، بيا يې د هغه بدي او پرهېزګاري ورته الهام کړه. دې آيتونو ته په کتو انسان ته د داخلي خير او شر دواړو تمايلاتو الهام ورکړل شوی، خو دا د تربيې، چاپېريال، عقيدې او اخلاقو له لارې تقويه کېږي.

جرم يوه پېچلې، ټولنيزه او نړيواله پديده ده چې د بشريت له پيله تر نن ورځې پورې د ټولنو د نظم او ثبات پر وړاندې جدي ګواښ ګڼل کېږي. ددې خبرې ثبوت د قران کريم البقري سورت ۳۴ شماره آيت کې داسې بيان شوی: (وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ

وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿٣٤﴾ (البقرة: ٣٤). ژباړه: پرښتو ته امر وشو چې ادم عليه السلام ته سجده وکړي، خو پرته له ابليسه چې سرغړونه يې وکړه( په خپل کبر کافر شو) نور ټول په سجده پريوتل. دا پديده نه يوازې د قوانينو، ديني اصولو او اخلاقي ارزښتونو خلاف عمل دی، بلکې د فرد، کورنۍ او ټولنې پر پرمختګ په مستقيمه توګه منفي اغېزه کوي. له همدې امله د جرم د عواملو پېژندنه او د مخنيوي لارې موندل د کريمنالوژي، ټولنپوهنې، دين، او تربيې لپاره يو بنسټيز هدف ګڼل کېږي.

که څه هم ډېرى څېړنې د جرم د رامنځته کېدو وروسته مرحلې ته متوجه دي، خو د دې ستونزې ژور تحليل له هغه پړاوه پيلېږي چې د جرم لا ندې واقع شوی، يعنې د انسان له پيدايښت څخه مخکې چاپېريال، کورنی ترکيب، د والدينو انتخاب، باورونه، اخلاق او د روزنې ابتدايي بنسټونه. دا هغه مرحله ده چې هم اسلامي شريعت پکې د تربيې، نېک نسل، دعا، مشروع نکاح او مسؤليت باندې ټينګار کوي او هم يې کريمنالوژي د شخصيت جوړونې لومړنۍ سرچينه بولي.

په دې څېړنه کې هڅه شوې چې لومړی د جرمي عواملو يوه منظمه تقسيم بندي وړاندې شي، او بيا د اسلامي شريعت او کريمنالوژی ليدلوري څخه داسې تحليل تر سره شوی، چې څنګه يو انسان لا د پيدايښت څخه مخکې د داسې مثبتو شرائطو لاندې تربيه کېدلی شي، چې د جرم د عواملو مخنيوی وکړي. څېړنه دا حقيقت را برسېره کوي چې جرم يوازې د قانوني مادو د نقض نتيجه نه ده، بلکې د انساني شخصيت، عقيدې، فرهنګ، او ټولنيز جوړښت انعکاس دی؛ نو ثابته شوه چې د جرم د مخنيوي غوره لاره د جرم په علتونو باندې د پوهېدو ترڅنګ، د انسان د سالم او مثبت فکري، اخلاقي او ټولنيزې ودې ملاتړ هم مثبت اغېز لري، چې اسلام او کريمنولوژي دواړه پرې ټينګار کوي.

دا څېړنه له څو اړخونو څخه مهمه ده. له علمي اړخه، دا د جرمي عواملو يوه منظمه او واضح تقسيم بندي وړاندې کوي، چې د جرمي عواملو د تحليل لپاره اساسي بنسټ برابروي. دا هغه تشه ډکوي چې پخوا د کريمنولوژۍ او اسلامي لارښوونو ترمنځ د يووالي او همغږۍ په برخه کې موجوده وه.

له ديني اړخه، دا څېړنه د اسلامي متونو او اصولو په رڼا کې څرګندوي چې اسلام نه يوازې د جرم د جزا لپاره اصول لري، بلکې د جرم له رامنځته کېدو مخکې د مخنيوي لپاره هم ژور تربيوي، اعتقادي، او ټولنيز تدابير وړاندې کوي.

له ټولنيز اړخه، دا څېړنه دا امکان برابروي چې والدين، ښوونکي، د ټولنې مشران، او د پاليسۍ جوړوونکي د انسان د روزنې او چاپېريال د سمون له لارې د جرم د عواملو د رامنځته کېدو مخه ونيسي.

دا څېړنه دا پيغام هم ورکوي چې د جرم مخنيوی يوازې د بند، جزا، يا قانوني محدوديتونو له لارې نه، بلکې د شخصيت د جوړښت، فکري تغذيې او ارزښتونو د پياوړتيا له لارې ممکن دی، هغه څه چې اسلامي شريعت او کريمنولوژي دواړه پرې ټينګار کوي.

د څېړنې ستونزه داسې بيانولی شو چې، که څه هم جرم يو نړيواله ټولنيزه ستونزه ده چې د بېلابېلو عواملو له امله رامنځته کېږي، خو لا هم د جرمي عواملو منظمه تقسيم بندي او د هغوی د مخنيوي په ځانګړې توګه د انسان د پيدايښت له مرحلې مخکې د مؤثرو تدابيرو په اړه کافي څېړنې نه دي شوې. په ځانګړې توګه د کريمنولوژۍ او اسلامي ښوونو په رڼا کې د داسې تدابيرو نشتوالی چې هغه د جرمي تمايلاتو د رامنځته کېدو مخنيوی وکړي، کوم چې د جرم د زياتوالي لامل ګرځېدلی دی. نو پدې ليکنه کې د جرمي عواملو منظمه تقسيم بندي او د انسان د پيدايښت نه مخکې د هغې مخنيوی د کريمنولوژۍ او اسلامي ارشاداتو په رڼا کې په پوره تفصيل سره روښانه شوی ده.

د څېړنې پوښتنه کې وايو چې، څنګه کولای شو د اسلامي شريعت او کريمنالوژی له نظره د زيږون څخه مخکې د جرمي عواملو مخنيوی وکړو؟

د دې څېړنې اساسي هدف دا دی چې د جرمي عواملو يوه منظمه تقسيم بندي وړاندې کړي، او وښيي چې څنګه انسان کولای شي لا د ژوند له پيله، بلکې د وجود له لومړيو پړاوونو څخه، د داسې شرايطو لاندې وروزل شي چې د جرم د عواملو مخنيوی وکړي. دا څېړنه هڅه کوي چې د کريمنولوژۍ علمي نظريات او د اسلام تربيتي اصول سره وځېړي، ترڅو يو داسې جامع ليدلوری وړاندې شي چې د جرم د پېښېدو مخنيوی وکړي. چې تر اوسه پورې په دې هکله مشابه ليکنه شتون نه لري، همدا ليکنه به دا تشه را ډکه کړي.

## د څېړنې کړنلاره

د موضوع د تحقیق په کړنلاره کې وایو، لکه څرنګه چې د موضوع له محتوا څخه بریښي یاده څېړنه تحلیلي او نظری بڼه لري، چې پکې د جرم د عواملو علمي تقسیم بندي او د هغې د مخنیوي لارې د اسلامي شریعت او کریمنولوژی لیدلوري څخه ارزول شوې دي. څېړنه مروري او د مالوماتو راټولولو لپاره د کتابتوني میتود پر بنسټ ترسره شوې، چې د اعتبار وړ ثانوي منابع (معتبر فقهي، حقوقي او غیر حقوقي جنایي کتابونه، څېړنیزې مقالې، قوانین، او تیوریکي نظریات) پکې کارول شوي دي.

د معلوماتو د راټولولو، ترتیب، او تحلیل لپاره توصیفي میتود کارول شوي، څو د جرم د عواملو د پېژندنې او مخنیوي اړوند علمي لیدلوري روښانه شي او هڅه شوې چې د جرم د عواملو د مخنیوي لپاره د اسلامي شریعت لارو چارو اغېزناکه لارې تشریح شي.

## اصلي موضوع

### د جرمي عواملو عمومي تقسیم بندي

هغه کړنې چې په حیث د جرم ګڼل کېږي علماو ورته مختلف تعریفونه کړی دي. لکه دکتور محمد مصطفی الزحیلي په خپل کتاب (حقوق الانسان في الاسلام) کې د هغو اعمالو اجراء چې اسلامي شریعت او د جزا قانون یې اجراء کول منع کړي وي یا د هغو اعمالو څخه امتناع نه کول چې اسلامي شریعت او د جزا قانون پرې د اجراء حکم کړی وي او د هغې لپاره یې جزاء ټاکلې وي جرم ګڼل شوی دی(الزحیلي، ١٤٢٦: ٦٣).

### د اسلامي شریعت له نظره په عمومي ډول د جرم عوامل

که دا پوښتنه رامنځته شي چې ولې انسانان جرمونه ترسره کوي؟ نو د اسلامي شریعت له نظره، دا کار درې اساسي عوامل لري: لومړی، د انسان کرامت او لوړ مقام نه پېژندنه؛ دویم، د عقیدې یا دیني باور کمزورتیا او د تقوا نشتوالی؛ او درېیم، د نفساني غوښتنو او شیطاني وسوسو پیروي. دا درې عوامل ډېر وخت د دې لامل کېږي چې انسان د غلطو لارو انتخاب وکړي(Bin Bayyah, n.d.)، (Ibn ʿĀbidīn, 1855).

**د کريمنولوژۍ له نظره د جرم عوامل**

د کرېمنولوژۍ له نظره، د جرم عوامل متنوع، پېچلي او يو له بله سره تړلي دي. خو د وضاحت او تحليل لپاره، دلته هغه مهم عوامل په لنډه او منظمه توګه وړاندې کوو، چې له علمي پلوه يې پر جرم د اغېز ثبوت واضح دی.

**د تاثيراتو د څرنګوالي له حيثه**

اول: د جرم اماده کوونکي عوامل: هغه عوامل دي چې د جرم د ارتکاب لپاره زمينه مساعدوي مګر مستقيماً د جرم سبب نه ګرځي. دا مانا چې تعين کوونکې علل او عوامل د جرم په منځته راتګ کې مستقيماً رول نه لوبوي بلکې د جرم د ارتکاب لپاره زمينه مساعدوي.

دويم: د جرم تعين کوونکي عوامل: دا هغه عوامل دي چې مستقيماً د جرم د وقوع سبب ګرځي اماده کوونکو عواملو ته تعين کوونکي عوامل د اور لګيدو حيثيت لري چې د شخص د مجرم کېدو سبب کېږي(صافی، ۱۳۹۹: ۳۲-۳۳).

**موقعيت له حيثه د جرم عوامل**

د موقعيت له حيثه ټول عوامل په دوه برخو ويشل کېږي:

**د جرم داخلي عوامل:** د هغه عواملو څخه عبارت دي چې انسان جرايمو مرتکب کيدو ته هڅوی ذاتاً يا په کسب سره د انسان د د وجود برخه ګرځي. په دوو برخو ويشل کېږي:

۱ـ فردي ذاتي: چې داخلي ذاتي يا وراثتي يا غير ارادي عوامل هم ورته ويل کېږي. فردي ذاتي عوامل د هغه عواملو څخه عبارت دي چې ذاتاً د انسان په وجود کې قرار پيدا کوي يعنې انسان يې د زېږون سره له ځانه سره لاوړي، اراده پکې کوم رول نه لري. لکه وراثت، مورذادي اختلالات، جنسيت، عقلي او دماغي اختلالات، عمر او نژادي عوامل.

۲ـ دجرم فردي يا اکتسابي عوامل: دا عوامل د غير ارادي عواملو په شان د مجرميت هغه عوامل دي چې د شخص په بدن پورې د کسب کولو په اساس تړلي وي او د بدن څخه بهر قرار نه لري (صافی، ۱۳۹۹: ۳۹). يا هغه عادتونه يا فکري تمايلات چې انسان يې د ژوند په اوږدو کې زده کوي يا وربانديې

عادت کېږي، ډېر اقسام لري لکه الکولیزم، مخدره مواد، ناسم تربیت او نور (ساعی، ۱۳۹۱). یا دا هغه داخلي صفات دي چې انسان د تجربې، ماحول، یا تکرار لارې خپل کړي وي، خو وروسته دا صفات د هغه د شخصیت برخه شي. دا نه بهر دي نه د فطرت څخه دي بلکې زده شوي دي. لکه په گناه عادت کېدل. که نفس له معصیت سره عادت پیدا کړي، نو پرېښودل یې ډېر سخت شي، لکه نور عادتونه (الغزالي، ب. ن: ۵۹).

## د جرم بیرونی عوامل

د هغه عواملو څخه عبارت دي چې د انسان د وجود څخه بهر قرار لري او انسان د جرایمو پر لور کش کوي. په څلورو مهمو برخو ویشل کېږي چې د اجتماعي محیط، د جغرافیوی محیط، اقتصادی محیط او سیاسي محیط تاثیراتو څخه عبارت دي(Andresen, 201) ، (صافی، ۱۳۹۹: ۱۳۰).

## د جرم منع کوونکې عوامل

جرم د مختلفو عواملو زېږنده ده او دا عوامل تقریباً ټول انسانان تجربه کوي. خو بیا هم ځینې انسانان په خپل ژوند کې جرم نه کوي (دانش، ۱۳۹۴: ۴۶). دا ځکه چې د هر انسان په وجود کې له هغو عواملو سره سره چې جرم ته هڅونه کوي، یو ډول مقاومت یا مخنیوی کوونکې قوه هم موجوده وي. نو د جرم مانع کوونکي عوامل عبارت د هغه عواملو څخه دي چې برعکس د جرم د عواملو د جرم د ارتکاب څخه منع راوړي یانې یو شخص د جرم د ارتکاب څخه منع کوي او دې عواملو ته د کریمنالوژي په اصصلاح د مقاومت قوه هم ویل کېږي(سروری او فاریابي، ۱۳۹۱: ٦۵).

یعنې د انسان په دننه کې دوه مقابل ځواکونه شتون لري، جرمي قوه چې انسان جرم ته هڅوي، او د مقاومت قوه چې انسان له جرم کولو منع کوي. دا دواړه قواوې تل سره په مجادله کې وي. هره یوه چې برلاسې شي، هماغه لوری غالب کېږي. که جرمي قوه غالبه شي، نو جرم ترسره کېږي او که د مقاومت قوه غالبه شي، نو جرم نه کېږي او انسان د قانون د سرغړونې څخه ځان ساتي. همدې ته په کتو سره ځینې کریمنالوگان جرم داسې تعریفوي چې: (جرم د مقاومت قوې باندې د جرمي قوې د غلبې د محصول څخه عبارت دی) یانې څومره چې د مقاومت قوه لوړه شي په هماغه اندازه د جرایمو ارتکاب کمیږي لاندې یې په تفصیل سره بیانوو (صافی، ۱۳۹۹: ۳۳)، (سروری او فاریابي، ۱۳۹۱: ٦۵).

## د جرم منع کونکې عوامل يا د مقاومت قوه (factures de resistance) تقويه کول

په هغه اندازه چې د کريمنالوګانو په نظر د جرم عواملو د منځه وړل ضروري دي د بلې خوا څخه دا هم مهمه ده چې د جرم منع کوونکي عوامل هم حمايه کړل شي او هر څومره چې د جرم منع کوونکي عوامل تقويه شي په هماغه اندازه جرايم کم واقع کېږي يا قطعاً نه واقع کېږي، د لاندې اسبابو په واسطه د مقاوت قوه تقويه کېدلی شي.

## له پيدايښت څخه مخکې د روزنې لپاره مقدماتي مراحل

اسلام د انسان د اخلاقي او حقوقي سلامتۍ لپاره داسې اصول او احکام وضع کړي دي، چې که هغه په فردي او ټولنيز ژوند کې عملي شي، انسان له جرم، انحراف، او فساد څخه ساتي. د عباداتو، تقوا، عدل، حلالو عوايدو، نکاح، تربيت، امر بالمعروف او نهي عن المنکر په شان احکام نه يوازې د موجود انسان د اصلاح وسيله ده، بلکې که دا احکام د انسان له تولد نه مخکې د مور او پلار په کردار، نيت، عقيده او عمل کې منعکس شي، نو د راتلونکي نسل شخصيت به هم سالم، متوازن او له جرم څخه خوندي وي. د اسلامي فقهې له مخې، د مور او پلار وجود، روان، او ماحول بايد د تقوا پر بنسټ جوړ شي، تر څو اولاد يې د جرم څخه محفوظ پاتې شي.

## د اسلامي روزنې ضرورت او اهميت

تربيت يا روزنه د پاللو، ودې ورکولو، غوړولو په مفهوم سره مانا شوی ده د ژوندي موجود د طبيعي استعدادونو او داخلي وړتياوو د غوړولو او ودې لپاره د مناسبې او مساعدې زمينې برابرول دي (حقيار، ۱۳۹۴: ۷۵). ابو نصر الفارابي وايي: روزنه د شخص داسې لارښوونه ګڼي چې شخص پرې لومړی په دې نړۍ کې نېکمرغي او کمال او په اخرت کې وروستۍ کمال ته ورسيږي (مهريان، ۱۳۸۵: ۱۳۰). نو ددې څخه داسې معلوميږي چې بې له روزنې څخه د دنيا او آخرت کاميابي مشکله ده. د روزنې د غوره والی په هکله رسول الله(ص) فرمايلي دي: هېڅ پلار خپل زوی ته تر ښه ادب (اخلاق او روزنې) غوره تحفه نه ده ورکړې(حنبل، ۱۹۹۵: ۴۱۲)؛ (الترمذي، ب. ن: ۱۹۵۲ ګڼه حديث).

الماني فيلسوف کانت داسې وايي: انسان يوازې په زدکړه او روزنه باندې کولای شي انسانيت ته ورسيږي، انسان داسې شی دی چې روزنه يې جوړوي، که روزنه نه وي نو انسان هم نشته (رهبر، رحيميان، ۱۳۸۵: ۱۴-۱۵).

روزنه د اولاد حق ده، روزنه يو له هغو درې حقونو څخه ده چې اولاد يې په پلار باندې لري، رسول الله د هغه کس په ځواب کې چې په مور او پلار باندې د اولاد د حقونو په هکله يې پوښتلي وو وفرمايل: د ماشوم پر پلار حق دا دی چې ښه نوم ورته وټاکي، ښه ادب (روزنه) ورکړي، ليک لوست يې ور وښيي، او کله چې بالغ شي، نکاح (ودونه/ واده) ورته وکړي( البيهقي، شعب الإيمان، ٨٢٩٦) ؛(القرطبی، ب. ن: ١٨ ج، ١٩٥).

## د اولاد د روزنې تر ټولو ډېر مسوولیت پر مور او پلار دي

په دي هکله قرانکريم داسې حکم کړي دي، الله جل جلاله فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴿٦﴾ (التحريم: ٦).

ژباړه: ای مومنانو! خپل ځان او خپله کورنۍ له داسې اور څخه وژغورئ چې اور سوځيدوني يې تيږې او انسانان دي) (الازهري، ١٩٧٩: التحريم ٦).

د ابوهريره رض الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ماشوم روزنې په هکله فرمايي: «مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ، كَمَثَلِ الْبَهِيمَةِ تُنْتَجُ الْبَهِيمَةَ هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا جَدْعَاءَ». ژباړه: هر ماشوم د فطرت (د توحيد او ايمان په حالت) کې پيدا کېږي، بيا يې مور او پلار هغه يهودي کوي، يا نصراني کوي، يا مجوسي کوي؛ لکه څرنګه چې څاروی سالم پيدا کېږي، ايا تاسو په هغه کې کومه ناپاکي يا نيمګړتيا وينئ؟" (بخاري، ١٩٨٧: ١ج، ٤٦٥). دا منو چې روزنه د پيدايښت څخه وروسته مرحله کې شروع کېږي مګر مسلمان بايد ددې روزنې لپاره مخکې له تولد څخه هم فکر او پلان ولري.

## له پيدايښت څخه مخکې د روزنې لپاره مقدماتي مراحل

څو مهمو برخو ته يې اشاره کوو:

د ښځې غوره کول: د ښې ښځې غوره کول د اولاد په ښه روزنه کې ستر رول لوبولای شي، رسول الله ص فرمايلي دي: (تخيرو لنطفکم وانکحو الاکفاء وانکحو اليهم) ژباړه: د خپلي نطفو (نسلونو)

ته غوره انتخاب وکړئ، وړ کسانو سره نکاح وکړئ او خپلې لورګانې هم هغوی ته په نکاح ورکړئ (القزويني، ب. ن: ٦٣٣)؛ (البيهقي، ١٤٢٤، ٧ج: ٨٢).

ابن عدي په خپل کتاب کې د حديث شريف روايت کوي چې: له ښې کورنۍ(صالح نسب) سره خپلوي وکړئ ځکه چې نسل رګ کش کوونکی(اصل خوی پټ اغېز لري) دي (ابن عدي، ١٩٨٤: ٣ ج، ٣٣١) (ابن اجوزي، ١٤٠٤: ١ ج، ١٩٣). له دې دوو احاديثو څخه په ښکاره معلوميږي چې د ښې ښځې انتخاب په راتلونکې نسل مستقيم تاثيرات لري، که د ژوند ملګرې يا ملګری د ښه او صالح نسب څخه وي نو د راتلونکې نسل د جرايمو په ګراف کې به د پام وړ بدلون شتون ولري. پوښتنه پيدا کېږي چې د ښې ښځې ځانګړتياوې کومې دي؟ په ځواب کې ويلای شو چې، اول، ښځه بايد پاکه او باديانته وي ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ: لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَلِجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا، فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ». ښځه د څلورو شيانو له امله نکاح کېږي: د مال، نسب (کورنۍ)، ښايست، او دينداري لپاره، نو دين لرونکې غوره کړه، چې بريالی شې. خاورې دې پر لاسونو شي! ( يعنې ظاهراً سخت الفاظ ښکاري، خو مقصد يې تنبيه او تاکيد دی، لکه چې ووايي: هوښيار اوسه! که نه، تاوان به وکړې) (ال مسلم، ب. ن : حديث ګڼه ١٤٦٦) (ال بخاري، ب. ن: حديث ګڼه ٥٠٩٠). مهر او تکليف به يې کم وي، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم الله فرمايي: تر ټولو زياتې برکت لرونکې ښځه هغه ده چې مهر يې تر ټولو لږ وي (الحاکم النيسابوري، ١٤١١: ١٩٤، ٢٧٣٢ حديث)، بل روايت کې راغلي چې تکليف يې کم وي. پيغله به وي، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: تاسو له پيغلو (بې‌نکاح شوو نجونو) سره نکاح وکړئ، ځکه چې هغوی خوږې ژبې لري، رحمونه يې پاک وي، مکر او چالاکي يې کمه وي، او د لږو شيانو (مهر يا نفقې) سره قناعت کوونکې وي (ابن ماجه، ب. ن: ٥٩٨ حديث، ١٨٦١)؛ (الحاکم، ب.ن: ج٢، ١٦٢). روغه او صحتمنده وي، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: « اِفْرُ مِنَ الْجَذَامِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الْأَسَدِ» ژباړه: له مجذوم (د جذام ناروغ) څخه داسې وتښته لکه څنګه چې له زمري تښتي (أحمد بن حنبل، ب.ن: حديث ٩٣٤٥). او زيږوونکي (زايا) وي، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «تزوجوا الودود الولود فإني مكاثر بكم الأمم يوم القيامة» ژباړه: له ډېرو مينه‌کوونکې او ډېر اولاد راوړونکې ښځې سره واده وکړئ، ځکه زه غواړم ستاسو په ذريعه د نورو امتونو څخه زيات شم (احمد بن حنبل، ب. ن: حديث ٢٢٢٠٢). که پورته ذکر شوو ځانګړتياوو مطابق ښځه په دې نيت

انتخاب شي چې په راتلونکي نسل کې يې اصلاح پيدا شي، همدې ته د زيږون څخه مخکې مرحلې کې تدابير نيول وايي.

له نږدې والي څخه مخکې دعا ويل: د حمل له پيل مخکې بايد دواړه مېړه او مېرمن د نېک نيت سره خپل نسل ته د سالم، ديندار، هوښيار او خدمتګار اولاد تمه ولري. له نږدي والي نه مخکې بايد دا دعا ولوستل شي، (بِسْمِ اللَّهِ، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا) ژباړه: د الله تعالی په نامه! اې الله! مونږ له شيطان له شر څخه وساته، او هغه څه چې ته يې مونږ ته (په دې مباشرت کې) روزي کړې، له شيطان څخه يې وساته (البخاري، ب. ن: حديث ۱۴۱)؛ (مسلم، ب. ن: حديث ۱۴۳۴).

رسول الله ص فرمايي: کله چې له تاسو څخه څوک له خپلې ښځې سره نږدې‌والی (جماع) کوي، که دا دعا ووايي: «بِسْمِ الله، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا»، نو که له دغه نږدېوالي څخه ماشوم پيدا شي، شيطان به هيڅکله هغه ته زيان ونه رسوي. نو که يو شخص د خپل راتلونکی نسل لپاره د خير فکر ولري بايد دا صفا نيت ولري او دا دعا هيره نکړي.

**هغه کړنې چې بايد د حاملګۍ پر مهال ورته پاملرنه وشي**

حلال خوراک: مور بايد د حمل په دوران کې حلال خوراک ته ډېره توجه وکړي. که مور حرام خوراک وخوري، دا د ماشوم فطرت، طبيعت، او مزاج باندې منفي اثر لري. په قرآن کريم کې الله تعالی فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ... ﴿۱۷۲﴾ (البقرة: ۱۷۲) ژباړه: "ای مؤمنانو! له هغو پاکو شيانو وخورئ چې مونږ تاسو ته درکړي دي. پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي د: إن الله طيب لا يقبل إلا طيباً (مسلم، ب.ن: ۲۳۸٦). ژباړه: الله پاک دی او يوازې پاک شيان مني. حلال او پاک خوراک نه يوازې د بدن لپاره مهم دی، بلکې د روحاني او اخلاقي روغتيا لپاره هم حياتي ارزښت لري، ځکه چې د حرام خوراک منفي اغېزې د انسان په فطرت، شخصيت او راتلونکي نسل باندې منفي تاثير لري. همدارنګه حديث شريف کې راغلې دي: «مَا نَمَا فِي الْبَطْنِ مِنْ حَرَامٍ فَالنَّارُ أَهْلُهُ» هغه بدن چې د حرامو (ناجايزو مالونو) څخه وده کړې وي، نو اور (دوزخ) ورته ډېر مناسب دی (الترمذي، ب. ن: حديث ٦١۴).

د مور اخلاقي رويه: مور دې د حامله‌ګۍ پر مهال د قرآنکريم تلاوت ډېر کوي، اذکار دې وايي، فحشا، غيبت، دروغ، غصه، فلمونه، موسيقي او ناروا خبرو نه دې ځان ساتي. دا هرڅه مستقيم د ماشوم پر ذهن او شخصيت اغېز لري.

د مور او پلار د مينې ژوند: خاوند بايد د ښځې سره ډېر مهربانه وي، تر څو دواړه ارام او بې له سترېا ژوند ولري. دا رواني سکون د ماشوم سالم شخصيت لپاره ډېر ضروري دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «خِيرُكُمْ خِيرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خِيرُكُمْ لِأَهْلِي» ژباړه: ستاسې تر ټولو غوره شخص هغه دی چې له خپلې کورنۍ (ښځې، اولادونو) سره ښه چلند کوي، او زه (رسول الله صلی الله عليه وسلم) له خپلې کورنۍ سره تر ټولو ښه يم(الترمذي، ب ن: حديث ۳۸۹۵).

د کور ماحول په دينې لحاظ سره ښه جوړول: ځکه چې د کور ماحول په ماشوم ډېر تاثير لري.

خاص دعا ګانې کول: هره ورځ د خپل راتلونکي ماشوم لپاره دعا کول، لکه: ابراهيم عليه السلام دا دعا کړې وه، (رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ ). (الصافات: ۱۰۰) ژباړه: ای زما ربه! ماته له نېکو (او صالحو) اولادونو څخه (يو) راوبخښه. (رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي) (سورة ابراهيم: ۴۰) ژباړه: ای زما ربه! ما د لمانځه قائم کوونکی وګرځوه، او زما له اولاد څخه (هم دا صفت پيدا کړه). (وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي) (الاحقاف: ۱۵). ژباړه: او زما په اولاد کې اصلاح (ښه والي) راته پيدا کړه. دا دعاوې د اولاد د صلاح لپاره مهمې دي.

تاوتريخوالی نه کول: ښځه او خاوند بايد له هر ډول جګړې او تاوتريخوالی څخه لاس واخلي. الله تعالی په قران کريم کې فرمايي: (... وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ ...﴿۱۹﴾) (النساء: ۱۹). ژباړه: له ښځو سره په ښه او نرم چلند ژوند وکړئ. همدارنګه د اسلامي ښوونو څخه په مفهوم اخېستلو سره معلوميږي، چې ماشوم د مور د وجود برخه ده، که مور خوشحاله وي، ماشوم هم خوشحاله وي، که مور خفه وي، ماشوم هم اغېزمن کېږي.

ښه خوراک کول: ښځه بايد خپل د توان په اندازه له انرژۍ ډک خوړو څخه ګټه واخلي ترڅو(جنين) په رحم کې ښه تغذيه شي (*Traditional Arabic Islamic Medicine*, 2025 ...).

د جسمي فشار څخه ځان ساتنه: ښځه باید له شدید جسمي فشار څخه ځان وساتي په تېره بیا د ډېرو درنو شیانو له پورته کولو څخه دې خامخا ځان وساتي (ابن قیم الجوزیة، ۲۰۰۳).

## موندنې

د څېړنې له مخې، څرګنده شوه چې د جرم عوامل په اسلامي شریعت کې درې اساسي برخې لري: د انسان د کرامت نه پېژندل، د دیني عقیدې کمزورتیا، او د نفساني غوښتنو پیروي. له بلې خوا، د کریمنولوژی له نظره د جرم عوامل داخلي او خارجي دي، چې داخلي یې د فرد د وراثت او اکتسابي ځانګړنو په ګډون او خارجي یې ټولنیز، اقتصادي، جغرافیوي او سیاسي شرایط رانغاړي.

د جرم مخنیوي لپاره د مقاومت قوه (facteurs de résistance) مهمه ده چې د جرم د عاملونو پر وړاندې د مقابلې ځواک برابروي. له پیدایښت وړاندې د انسان د روزنې مناسب شرایط لکه د ښې ښځې انتخاب، دعاوې، د مور او پلار ښه اخلاق، حلال خوراک، او د کورنیز چاپیریال سالموالی د راتلونکي نسل د سالم شخصیت او د جرم د کمښت لپاره اغېزمن عوامل دي.

## پایله اخیستنه

د څېړنې پر بنسټ، څرګنده شوه چې د جرم مخنیوی یوازې د قانون پلي کولو پورې محدود نه دی، بلکې د انسان د شخصیت په جوړښت، عقیدې او ټولنیز چاپیریال پورې ژور تړاو لري. اسلامي شریعت او کریمنولوژي دواړه د جرم د عواملو په پېژندنه او د مخنیوي په تدابیرو کې همغږي لري.

د سالم نسل د روزنې لپاره باید له پیدایښت وړاندې د مور او پلار په کردار، انتخابونو او نیت کې اصلاحات راشي. د جرم د کمښت لپاره اړینه ده چې ټولنیزې، دیني او حقوقي لارې په ګډه وکارول شي او په ټولنه کې د مقاومت قوه پیاوړې شي.

د انسان د سالم او متوازن شخصیت جوړښت له پیدایښت مخکې، چې د اسلامي شریعت د اخلاقو، ایمان، او ټولنیزو اصولو په رڼا کې وي، د ټولنیز ثبات، فرهنګي پرمختګ، او د قانوني نظم د ټینګښت لپاره یو حیاتي او بنسټیز عامل ګڼل کېږي.

## وړانديزونه

۱- اړينه ده چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د ټولنيزو، تعليمي او مذهبي پروګرامونو له لارې د انسان کرامت خوندي او پياوړی وساتي، ځکه د انسان د کرامت نه پېژندل د جرم د مهمو عواملو څخه شمېرل کېږي.

۲- د لوړو زده کړو وزارت، معارف وزارت او امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارتونو لخوا د ديني ارزښتونو او عقيدې په ټينګښت کې د تعليمي نصاب، ديني وعظونو او ټولنيزو فعاليتونو رول زياتول، څو د افرادو په شخصيت کې معنوي ځواک رامنځته شي او د جرم پر وړاندې يې د مقاومت وړتيا لوړه شي.

۳- هر مسلمان افغان بايد د نفساني غوښتنو کنټرول وکړي د فردي او ټولنيزو پروګرامونو په مرسته بايد د ځان‌ځانګړتياوې، زغم، او د ځان د مهار مهارتونه زده کړي، تر څو د نفساني غوښتنو بې‌کنټروله تعقيب، چې د جرم بنسټ حسابيږي، له منځه ولاړ شي.

۴- جرم د بهرنيو عواملو په کمولو کې د ټولنيزو، اقتصادي، سياسي او جغرافياوي شرايطو اصلاح خورا مهمه ده، نو له همدې امله اړينه ده چې دولت او اړوند بنسټونه د بې‌وزلۍ، بې‌کارۍ، نابرابرۍ او ټولنيزو فشارونو د کمولو لپاره عملي پروګرامونه پلي کړي.

۵- دولت بايد د فرد او ټولنې په کچه د مقاومت قوې روزل يا د جرم د مخنيوي قوه د اساسي ستراتيژۍ برخه وګرځوي، ځکه دغه ځواک د جرم د عواملو پر وړاندې د مقابلې وړتيا برابروي.

٦- عام خلک بايد د راتلونکي نسل د سالم شخصيت جوړونې ته خاص فکر او تدابير ونيسي، د کورنۍ د جوړېدو پر مهال د ښې ښځې انتخاب، د حلال رزق تأمين، د مور او پلار د نېک اخلاقو روزنه او دعاوې هغه ارزښتناک بنسټونه دي چې د راتلونکي نسل په سالم شخصيت جوړونه کې اغېزمن رول لري.

۷- د سالم کورني چاپېريال رامنځته کول اړينه ده، چې د ټولنيزو او دولتي پروګرامونو له لارې د کورني چاپېريال اصلاح ته ځانګړې پاملرنه وشي، څو راتلونکی نسل د يوه سالم، بااخلاقه او باثباته ټولنيز چاپېريال تر سيوري لاندې وده وکړي.

## اخځلیکونه

ابن الجوزي، أبوالفرج عبدالرحمن. (۱۴۰۵). العلل المتناهية في الأحاديث الواهية. چ.ا، ج. ۱. بيروت: دارالكتب العلمية.

ابن القيم الجوزيه. (۲۰۰۳). الطب النبوي. بيروت: دار ابن كثير.

ابن عدي، عبد الله بن عدي الجرجاني. (۱۹۸۴). الكامل في ضعفاء الرجال. ج. ۳. بيروت: دار الفكر.

ابن ماجه، محمد بن يزيد. (---). سنن ابن ماجه، كتاب النكاح. بيروت: دار الفكر.

أحمد بن حنبل، عبد الله. (--). المسند. بيروت: دار إحياء التراث العربي.

أحمد بن حنبل، عبدالله. (--). المسند. بيروت: مؤسّسة الرسالة.

بخاري، محمد بن اسماعيل. (---) .الجامع الصحيح .كتاب النكاح. رياض: دار طوق النجاة.

بخاري، محمد بن اسماعيل. (۱۹۸۷). صحيح البخاري. بيروت: دار ابن كثير.

البيهقي، أحمد بن الحسين. (١٤٢٤). السنن الكبرى. ج. ۷. بيروت: دار الكتب العلمية.

الترمذي، محمد بن عيسى. (---) .سنن الترمذي، د تفسير كتاب. بيروت: دار احياء التراث العربي.

الحاكم، بن عبدالله. (۱۴۱۱). المستدرک على الصحيحين. چ.ا. بيروت: دارالكتب العلمية.

حقيار، عبدالقادر. (۱۳۹۴). روزنيزه اروا‌پوهنه. ژباړن: درمل، حسن خان. ج.ا. علمي خپروندويه ټولنه.

حنبل، ابوعبدالله الشيبانی احمد بن محمد. (۱۹۹۵). د احمد بن حنبل مسند، د مصر د قرطبې موسسه اول ټوک.

دانش، تاج محمد. (۱۳۹۴). کريمنولوژی، جرم او مجرم پېژندنه. ژباړن: سميع الله مجاهد. کابل: مستقبل خپرندويه ټولنه.

الزحيلي، محمد. (١٤٢٦). حقوق الانسان في الاسلام. دمشق: دار ابن كثير.

ساعی، حبیب‌الله. (۱۳۹۱). مقدمه‌ای بر علم جرم‌شناسی. انتشارات پوهنتون کابل.

سروری، عبدالبصیر، فاریابی، محمد عظیم. (۱۳۹۱). کریمنولوژی. کابل: انتشارات رسالت.

صافی، هجرت الله. (۱۳۹۹). د کریمنالوژی له نظره د جرم او مجرم څېړنه. ننګرهار: ګودر کتاب خپرنځی.

الغزالي، آبو حامد محمد بن محمد. (---). إحياء علوم الدين. جده: دار المنهاج: https://archive.org/details/IhyaUlumAlDinVol1

رهبر، محمد تقي، رحيميان، محمد حسين. (۱۳۸۵). اخلاق و تربيت اسلامي. چ.۱۳. تهران: انتشارات مهر.

مسلم، مسلم بن الحجاج. (--). الجامع الصحيح، كتاب النكاح. دار إحياء التراث العربي.

مسلم، مسلم بن الحجاج. (ـ). الجامع الصحيح، كتاب الرضاع. بيروت: دار إحياء التراث العربي.

مهريان، محمدجعفر. (۱۳۸۵). مباني واصول تعليم وتربيت. تهران: نشرات ساولان.

النسائي، أحمد بن شعيب. (---) .سنن النسائي. بيروت. لبنان: دارلمعرفة.

al-Azhari, M. K. S. (1979). *Tafsir Zia ul Quran* (5 vols; tafsir on Surah At-Tahrim:6). Zia ul Quran Publishers. Retrieved from http://www.sgsss.org/tafsir-zia-ul-quran-free-download-jxdt88.php

al-Bayhaqī, A. (n.d.). *Shuʿab al-Īmān* [PDF]. Retrieved from https://archive.org/details/ShuabUlIman

al-Qurṭubī, A. (n.d.). *Al-Jāmiʿ li-Aḥkām al-Qur'ān* (Vol. 18, p. 195) [PDF]. Retrieved from https://archive.org/details/tafsir-al-qurtubi-4.-Volumes/page/nxxx

al-Tirmidhī, M. ʿI. (n.d.). *Jāmiʿ al-Tirmidhī* (Vol. 4, Hadīth No. 1952). Retrieved from Sunnah.com website: https://sunnah.com/tirmidhi/4/1952

Andresen, M. A. (2019). *Environmental Criminology: Evolution, Theory, and Practice* (2nd ed.). Routledge. https://doi.org/10.4324/9780429455391

Bin Bayyah, A. (n.d.). *Islamic criminal law: Theory of crime and criminal responsibility in Islamic law* [Article]. Retrieved from https://binbayyah.net/english/islamic-criminal-law/

Ibn ʿĀbidīn, M. A. (1855). *Radd al-Muḥtār ʿalā al-Durr al-Mukhtār* (Vol. 5). Beirut: Dār al-Fikr. Retrieved from https://archive.org/details/in.ernet.dli.2015.323919

*Traditional Arabic Islamic Medicine (TAIM): Principles of Dietary Practices and the TAIM Food Pyramid.* (2025). *Global Journal of Health Science, 17*(2). https://www.researchgate.net/publication/390274633

# Preventive Measures Against Criminal Factors Before Birth: An Analytical Study in the Light of Islamic Sharia and Criminology

[1*]Shahidullah Safi and [2]Shahrifullah Amin

[1-2]Department of Law, Law and political science Faculty, Paktia University

shahidsafi22@gmail.com

## Abstract

This study represents a new scholarly attempt to explore preventive measures against criminal factors prior to birth, analyzed from the perspectives of Islamic Sharia and Criminology. It emphasizes that the roots of crime do not begin only after birth but are closely linked to the developmental stages of the fetus. The research employs a documentary and analytical method, drawing upon authentic Islamic texts, classical works on Islamic medicine, and contemporary social, psychological, and legal studies. The aim is to identify various pre-birth criminal factors and propose preventive measures in the light of both Islamic Sharia and Criminology.

The findings reveal that essential preventive factors for nurturing a healthy generation include proper parental selection, supplication (duʿā), lawful (ḥalāl) sustenance, ethical conduct of parents, protection of the mother from physical and psychological stress, and a positive family environment. The study further demonstrates that legal punishments alone are insufficient for crime prevention; rather, human nature, moral values, religious principles, and social relations must be strengthened. Both Islamic Sharia and Criminology highlight that crime reduction fundamentally depends on the reform of thought, belief, and personality. Accordingly, it is recommended that crime prevention strategies should begin from the prenatal stage, in order to establish a stable, ethical, and healthy society.

**Keywords:** Crime prevention, Impact of the prenatal stage, Moral values, Religious values, Social factors.

# چالش‌ها و راهکارهای حفاظت از آثار باستانی مس عینک لوگر

سید علی آقاها شمی[1*] و حبیب الرحمن حبیبی[2]

دیپارتمنت تاریخ، پوهنځی تعلیم وتربیه، پوهنتون پکتیا[1-2]

hashimiali35@gmail.com

## چکیده

آثار باستانی مس عینک لوگر، با چالش‌های جدی در زمینه حفاظت مواجه اند. تخریب‌های ناشی از عوامل طبیعی مانند فرسایش، تغییرات آب و هوایی و هم چنین عوامل انسانی شامل نا امنی، توسعه غیر قابل کنترول، حفاری‌های غیر مجاز و کمبود منابع مالی و مدیریتی، تهدیدات اصلی بر سر راه حفظ این آثار است. این وضعیت ضرورت توجه فوری و راهکارهای موثر حفاظتی را برجسته می سازد، آثار مس عینک برای اولین بار درچک سلواکیا و موزیم ملی افغانستان در معرض نمایش قرار گرفت.

د دې څېړنې موندنې دا بيانوي چې په اوږد مهال کې د تبادلې نرخ او وارداتو ترمنځ زياتېدونکې اړيکه موجوده ده، خو اړيکه د پام وړ نه ده، همدارنګه په اوږد مهال کې د تبادلې نرخ په لوړوالي سره صادرات کميږي او اړيکه د پام وړ ده. لکه څرنګه چې زمونږ د څېړنې پايلې د اقتصادي تيوري ګانو خلاف ده، ځکه چې په اوږد مهال کې د افغانيو د ارزښت په کمېدو سره صادرات هم کميږي چې عمده دلايل يې د اوږدمهاله باوري ډيټا نشتوالی، نړيوال بازار ته محدود لاس رسی، د توليدي ظرفيتونو محدوديت او ځينې سياسي لاملونه د دې باعث شول چې د دې څېړنې پايله د اقتصادي تيوري ګانو سره تطابق ونه کړي. (Ewubar *et al*, 2019) دغه څېړنه په نايجيريا کې ترسره شوې ده، د نوموړې څېړنې پايلې ښيي چې د تبادلې نرخ بدلونونه په بهرنۍ سوداګرۍ باندې منفي اغېزې لري، چې زمونږ له څېړنې سره ورته والی لري. (Nyahokwe *et al*, 2013) دغه څېړنه په سوت افريقا کې ترسره شوې ده، د څېړنې پايلې ښيي چې د تبادلې نرخ بدلون کولای شي پر صادراتو منفي اغېزه ولري چې زمونږ د څېړنې له پايلو سره ورته والي لري.

(Nhung *et al*, 2018) دغه څېړنه د ويتنام او جاپان ترمنځ د سوداګرۍ توازن باندې د تبادلې نرخ د بدلون اغيز ارزوي، د څېړنې پايلې ښيي چې د ويتنامي ونګ ارزښت کمېدل د ځينو ځانګړو توکو صادرات زياتوي، لکه د ماشين آلاتو، برقي وسايلو او معدني موادو، کله چې د کرنسۍ ارزښت ټيټ وي نو صادرات ورسره خود بخوده زياتيږي، دغه څېړنه زمونږ د څېړنې له پايلو سره توپير لري. د پورته څېړنو له پايلو څخه دا معلوميږي چې د تبادلې نرخ بدلون د افغانستان په بهرني تجارت باندې مستقيمه اغېزه لري، نو ويلی شو چې، دولت بايد د صادراتو زياتوالي ته پراخ فرصتونه برابر کړي، همدارنګه د صادروونکو لپاره د اسانتياوو رامينځته کول (لکه مالي ملاتړ، تعرفوي امتيازات، او بازار موندنه) ډېر اهميت لري، ترڅو د تبادلې نرخ زياتوالی د اقتصاد په ګټه تمام شي.

## پایله اخیستنه

دا چې افغانستان یو واردتي هېواد دی نو، د تبادلې نرخ له بدلونونو څخه ژور اغېزمنیږي، په دې وروستیو څو کلونو کې د افغانیو د تبادلې نرخ له پراخو بدلونونو سره مخ شوی چې دا چاره د وارداتي توکو بیو ته بدلون ورکوي، د همدې ستونزې د دقیق تحلیل لپاره دا څېړنه ترسره شوې ده. دغه څېړنه د افغانیو تبادلې نرخ د بدلون اغیز د افغانستان په بهرني تجارت (صادراتو او وارداتو) باندې څېړي، پایلې ښیي چې، د یو ډالر تبادلې نرخ په زیاتوالي سره واردات ($۱۵۴۵۵۶۹۹) په اندازه زیاتوالی کوي خو اړیکه د پام وړ نه ده، همدارنګه د یو ډالر تبادلې نرخ په زیاتوالي سره صادرات د (۱۴۱۰۰۰۰۰۰-) په اندازه کموالی کوي او قوي اړیکه موجوده ده، د ډاډ کچه ۹۹سلنه ده. نو دا نتیجه وړاندې کوو چې د تبادلې لوړوالی صادرات کموي. په اوږد مهال کې د وارداتو په برخه کې د څېړنې فرضیه نه شو تاییدولی ځکه چې د غلطۍ احتمال زیات دی، یعنې صفري فرضیه تاییدوو، همدارنګه د صادراتو لپاره په اوږد مهال کې د څېړنې فرضیه تاییدوو او صفري فرضیه ردوو په ۹۹ سلنه ډاډ سره. سربېره پردې د موډل د صحت لپاره د CUSUM ټیسټ ترسره کړ او دې نتیجې ته ورسېدو چې زمونږ موډلونه پایداره یا Stable دي او د تحلیل نتایج اعتبار لري.

## وړاندیزونه

۱- دولت باید د صادروونکو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي (لکه مالي ملاتړ، په ګمرکاتو کې سیستم ډیجیټلي کول، تعرفوي امتیازات، او بازار موندنه).

۲- د دې لپاره چې د افغانیو تبادلې نرخ له زیات فشار څخه وژغورل شي، دولت باید د وارداتو پرځای د کورني تولید د پیاوړتیا لپاره هڅې وکړي، د خصوصي سکتور ملاتړ وکړي، ځینې مالیات ورته معاف کړي همدارنګه د برېښنا او ترانسپورت په پالیسي کې ښه والي راولي.

۳- دا مناسبه ده چې راتلونکې څېړنې د تبادلې نرخ د بدلون اغېز له نورو اقتصادي متغیرونو لکه نا خالص کورني تولید او د بهرنیو پانګه والو د جذب په کچه هم وڅېړي، ترڅو د تبادلې نرخ اغېزې په پراخ اقتصادي چوکاټ کې تحلیل شي.

## اخځليکونه

نایاب، احمد، اعجاز.(۱۳۹۹) د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ او په ملي اقتصاد یې اغېزې، ننګرهار پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، ملي اقتصاد څانګه.

Alam, Sh, Q. M. (2010). Exchange rate volatility and pakistan's Import demand: An Application of Autoregressive distributed lay model. International Research Journal of Finance on economics.( http://ir.iba.edu.pk/faculty-research-articles/74/).

Areghan, I, O. F. (october, 2018). Exchange rate Management and sectoral output performance. Int- J sup. chain. Mgh, vol.7, No.5. .(https://eprints.covenatuniversity.edu.ng/13057/).

Asterious, D, M, (2016). The Impact of Exchange rate volatility on International trade: Evidence from the MINT economics. *City, Univercity of london Institute Reository*. (https://doi.org/10.1016/j.econmod.2016.05.006).

Auguine, C, et al, (2008). Exchange volatility in latin America and its impacts on foreign trade. *International review of economics and Finance 17, 33-44*. (http://www.jstor.org/stable/1392132).

Aurangzeb, A, et al, (2005). Short run and long run effects of Exchange rate volatility on the volume of exports: A case study for pakistan. *International Journal of Business and economics, vol.4, No.3, 209-222*. (https://ijbe.fcu.edu.tw/assets/ijbe/past-issue/No.04-3/).

Bandidarian, T. M. (Autumn,2011). The effect of Exchange rate Uncetaity on Impact TARCH Approach. Int. J.Manage.Bus.Res.1 (4). 211-220. (https://dergipark.org.tr/en/pub/cusosbil/issue/31959/352032).

Bostan, L, C. T.-N. (2018). Exchandge Rate effects on International commercial Trade Competitiveness. journals JRFM Volume 11 issue 2. (https://doi.org./10.3390/jrfm11020019).

Doyle, E. (October, 2010). Exchange Rate volatility and Irish-UK Trade, 1979-1992. Applied economics, ISSN: 0003-6846 (print), online Journal home page. (http://dx.doi.org/10.1080/00036840122999).

Dincer, N, M. k. (April, 2009). The effec of exchange rate the fluctuation on Exports: A sectoral Analysis for Turkey. Economics research forum, working paper 480. .(https://ideas.repec.org/p/erg/wpaper/480).

Ewubare, D. B. (jan-feb, 2019). The effects of Exchange rate fluction on foreign trade in Najeria. International Journal of scientific Research and Engineering Developement-volume 2 Issue 1. .(http://eajournals.org/ijdes/tag/exchangerate/).

Karakostas, E. (2021). The Significance of the Exchange Rates: A Survey of the Literature. Modren Economy. (http://doi.10.4236/me.2021.1211082).

Khan, A, j, et al, (2014). The Impact of Exchange rate Volatility on trade: A panel study on pakistan's trading partnser. *The lahor Journal of economics 19: 1, pp.33-66*.(http://ideas.repec.org/a/lje/journl/v19y2014i1p31-66.html).

lefen, R. l. (December, 2018). The effect of Exchange rate volalitility on International trade and foreign Direct Investment(FDI) in Developing Countries a long one belt and one road. International Journal of financila studies. .(http://mdpi.com/2227-7072/6/4/86).

Nicita, A. (2013). Exchange rate, International trade and policies. study No 56. UNCTAD. (https://digitallibrary.un.org/record/748710).

Nhung, N, et al, (2018). The Impact of Exchange Rate Movements on Trade Balance Between Vietnam and Japan: J-Curve Effect Tset. VNU Journals of Science: Economics and Business, Voi.34,No.2. (https://doi.org/10.25073/2588-1108/vnueab.4154).

Serenis, D, N. t. (2013). Exchange rate volatility and foreig trade: The case for Cyprus and Croatia. International Conference on Applied economics, procedia economics and Finance 5, 677-685. (https://doi.org/10.1016/S2212-5671(13)00079-4).

# The Impact of Exchange Rate Fluctuations of the Afghan Currency on Afghanistan's Foreign Trade (2008-2023)

[1*]Saidajan Muslimyar and [2]Habiburahman Stanikzai

[1]Fourth class, Department of Business Administration, Faculty of Economics, Paktia Univercity

[2]Department of Business Administration, Faculty of Economics, Paktia Univercity

muslimyarsidajan@gmail.com

## Abstract

The exchange rate is defined as the value of foreign currency that can be obtained in exchange for a unit of domestic currency. It plays a critical role in all aspects of international trade, as it is directly linked to a country's economic strength, export and import performance, and its ability to attract foreign investment. This study assesses the impact of fluctuations in the Afghani exchange rate on Afghanistan's foreign trade specifically exports and imports. In recent years, the value of the Afghani has experienced significant volatility, which has influenced the prices of imported goods. Although a depreciation of the Afghani can potentially enhance export competitiveness, it also leads to increased import costs. This creates challenges for maintaining a balanced trade position. Therefore, exchange rate stability is considered a fundamental requirement for strengthening Afghanistan's economy. The study uses annual time series data from 2008 to 2023. Data were collected from the Central Bank of Afghanistan, the World Bank, the National Statistics and Information Authority, academic books, research articles, and credible online sources. For data analysis, the ARDL model, Unit Root test, and CUSUM test were employed. The findings reveal a significant long-term negative relationship between the exchange rate and exports. Conversely, a positive long-term relationship is observed between the exchange rate and imports, although this relationship is not statistically significant.

**Keywords:** Afghani, Exchange Rate, Foreign Trade.

# د نړیوالو تړونونو د تفسیر مراجع

عبدالناصرستانکزی [1*] او محمدصادق حریفال [2]

سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه، حقوقواوسیاسي علومو پوهنځی، پکتیا پوهنتون [1]، کندهار پوهنتون [2]

Nstanikzai.2021@gmail.com

## لنډیز

دا چې د نړیوالو حقوقو تابعین د مختلفو موضوعاتو او ستونزو دحل او رسیده ګي په موخه نړیوال تړونونه لاسلیکوي، ترڅو په اړونده برخه کې یوه تګلاره موجوده وي، مګر کله ناکله داسې هم پېښیږي چې یاد تړونونه د اجراء پرمهال ستونزې را ولاړوي، او هر لوری د تړون څخه د خپل برداشت او ګټو مطابق بحث او یادونه کوي، چې له دې سره ممکن ستونزې را ولاړې شي، اړتیا ده چې یو میکانیزم او حلاره شتون ولري؛ چې هغه ته تفسیر وایي، ترڅو د دواړو لوریو د ګټو او نیتونو مطابق یوه ګډه حل لاره را پیدا کړي، چې د دې کار لپاره هم په ملي او هم نړیواله کچه مراجع شتون لري ترڅو د حاکمو او نړیوالو اصولو په رڼا کې د ځانګړو تګلارو سره سم نړیوال تړونونه واضح او تفسیر کړي. دې څېړنه کې د توصیفي-تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی، د موادو په راټولولو کې په کتابتوني سرچینو باندې تکیه شوې، ترڅو دا هدف تشریح کړي چې د کوم میکانیزم او حل لارو په شتون کې به د نړیوالو حقوقو د تابعینو ترمنځ اختلافاتو او ستونزو ته حل لارې پیدا شوې وي. همدارنګه به د نړیوالو تړونونو پیچلتیاوو او خلاوو ته منظم میکانیزم شتون ولري. ددې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې، د تفسیر لپاره د ځانګړې تګلارې شتون به د نړیوالو تړونونو مبهم او پیچلي موضوعات روښانه کړي.

**کلیدي کلمې:** نړیوال تړونونه، تفسیر، د تفسیر ذیصلاح مراجع، د نړیوالو حقوقو تابعین.

## سريزه

بسم الله الرحمن الرحيم.

اَلحَمْدُ لله رب العالمين والصَّلَاةُ والسَّلَامُ عَلَي اَشْرَفِ الأَنْبِيَاءِ وَالْمرْسَلِيْنَ سَيِّدِنَا محمد وَعَلَي اٰلِه وَصَحْبِهِ اَجْمَعِيْنَ.

په اشخاصو کې که هغه حقيقي وي يا حکمي دا يوه فطري ځانګړنه ده چې، کله ناکله د ځينو کړنو او اعمالو پر سر يې د نظراختلاف او شخړې رامنځته کېږي، نړيوالو تړونونه چې، پرمختلفو موضوعاتو کې د مختلفو اهدافو لپاره معمولاً د هېوادونو لخوا لاسليک کېږي، کله ناکله اختلافات په کې رامنځته کېږي؛ نو پکار ده چې هغه اختلافات د يو ميکانيزم له لارې حل او ورته سمه رسيده ګي وشي، ترڅو د ټولو لوريو لپاره مرعي الاجراء وګرځي.

نن ورځ په نړۍ کې د هېوادونو ترمنځ په مختلفو او بيلابېلو موضوعاتو باندې د ګټو د ترلاسه کولو لپاره يا هم د يوې ستونزې او اختلافات د حل په موخه هېوادونه اړ کېږي ترڅو يوبل سره کښيني، که چيرې د دغو اختلافاتو د حل لپاره لازم اقدامات او هڅې ونشي ممکن نه يوازې د اختلاف لوريو بلکې ټوله نړۍ په شکل د اشکالو سره ترې متأثره شي؛ نو پکار دا ده چې هېوادونه پخپلو کې د يادو ستونزو د حل لپاره يوه معقوله او په اصولو برابره لاره پيدا کړي، مګر کله کله داسې کېږي چې، ياده لاره کې هېوادونه يوې مشخصې پايلې ته ورسيږي، او تړون لاسليک کړي؛ خو په راتلونکي کې د تړون مفادات او مکلفيتونه د لوريو لپاره مبهم او ياهم پکې خلا وي، او هر لوری ترې خپل تعبيرات کوي؛ نو په دې ځای کې بيا هم د لوريو ترمنځ ممکن اختلافات را ولاړ شي، چې د اختلاف په صورت کې به نه يوازې د تړون لوري بلکې نورو ثالثو لوريو باندې هم اثر واچوي، چې د دې ستونزې د حل لپاره پکار ده چې نړيوال تړونونه تفسير شي، بناءً اړتيا ليدل کېږي چې په دې موضوع کې څېړنه ترسره شي، ترڅو نړيوال تړونونه څه ډول او د کومو اصولو په رڼا کې تفسير شي، دا چې د نړيوالو تړونونو او دهغوی تفسير د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي، د هېواد د ډيپلوماټيکې دستګاه او نورو اړوندو برخو لپاره خورا اړينه موضوع ده، نو اړينه ده چې په دې اړه يوه علمي مقاله وليکل شي، ترڅو تر يوه حده پورې له هغوی سره په مسلکي برخه کې مرسته وکولای شي، په دغه څېړنه کې له ملي او نړيوالو معتبرو منابعو څخه استفاده شوې ده.

همدارنګه د دې څېړنې په اړه څنې پوښتنې په لاندې ډول مطرح کېږي:

چې آيا نړيوال تړونونه تفسير ته اړتيا لري؟همدارنګه د نړيوالو تړونونو د تفسير تګلاره څه ده؟

نړیوال تړونونه په نړۍ کې د نړیوالو عمومي حقوقو د شخصیتونو لخوا داسې هوکړه لیکونه دي، چې د مختلفو موضوعاتو لپاره پکې حل لارې پیدا او ستونزې هواړېدلای شي، مگر کله ناکله داسې هم پېښېږي چې د همدې تړونونو د ابهام او پېچیده گي او یا خلا له امله همدا تړونونه بیا د هغوی ترمنځ د نورو اختلافاتو او ستونزو رازېږېدو باعث کېږي، که چېرې پخپل وخت ورته رسیده گي ونشي (تفسیر) نشي؛ نو ممکن چې هم د تړون لوریو او هم په نورو ثالثو اشخاصو باندې منفي اغېزه وکړي، همدې ستونزو ته په کتو او مناسبو حل لارو واضح کولو لپاره دا څېړنه ترسره کېږي؛ ترڅو یادې موضوع ته د قناعت وړ ځواب پیدا او څه ناڅه دغه تشه ډکه شوې وي.

۱ـ د نړیوالو تړونونو د تفسیر پېژندنه؛

۲ـ د نړیوالو تړونونو د تفسیر د تگلارو پېژندنه؛

۳ـ د نړیوالو تړونونو د تفسیر اصول او قواعد.

دا څېړنه د نړیوالو تړونونو له تفسیر څخه بحث کوي، او د یوازې د نړیوالو تړونونو په تفسیر پورې محدوده ده، مگر دنړیوالو کنوانسیونو، قراردادونو، میثاقونو، منشورونو، پروتوکولونو، اعلامیو، هوکړه لیکونو او پیمانو تفسیر د بحث لاندې نه نیسي. په لنډ ډول ویلای شو چې د نړیوالو تړونونو د تفسیر او د هغوی له اغېزو څخه بحث کوي.

## د څېړنې میتود

دا یوه تحلیلي – توصیفي څېړنه ده؛ د موادو په راټولولو کې د دویم لاس موادو (کتابتوني منابعو) څخه گټه اخیستل شوې، چې د معتبرو کتابونو، نړۍ والو او ملي ژورنالونو کې په مختلفو ژبو باندې نشر شویو مقالو، او د انټرنیټي سایټونو له لیکنو څخه چې د مستقیم او غیر مستقیم نقل قول او اقتباس په بڼه د مؤلف د حقوقو او کاپي رایټ د اصولو مطابق استفاده شوې.

## اصلي موضوع

### ۱ـ د نړیوالو تړونونو پېژندنه

دا چې د څېړنې اصل موضوع د نړیوالو تړونونو تفسیر دی، اړتیا لیدل کېږي چې مخکې له تفسیر څخه لمړی نړیوال تړونونه په لنډ ډول سره وپېژندل شي.

تړونونه چې اصلا د عربي ژبې د معاهدې څخه اخيستل شوي، او معاهده له عهد څخه اخيستل شوې، چې عهد مختلفې ماناوې لري لکه توافق کول، پيمان کول، قسم خوړل، قرارداد کول او داسې نور.

په اصطلاح کې هر ډول توافق چې د دولتونو او يا د نړيوالو حقوقو د نورو تابعينو ترمنځ د نړيوالو حقوقو د مقرراتو مطابق د ټاکلو حقوقي آثارو د حصول لپاره منعقد شي، تړون بلل کېږي(مورفي، ۲۰۰٦: ۷۸).

اوس راځو ديته چې ولې نړيوال تړونونه تفسير ته اړتيا پيدا کوي؟

د دې په ځواب کې ويلای شو چې، هرډول توافق چې د انسانانو لخوا ترسره کېږي ډېرى به يې خامخا له ابهام او پيچيده ګي او ياهم خلا څخه خالي نه وي، پکار ده ترڅو يى ابهام رفع او خلايې ډکه شي.

د تفسير لنډ مفهوم دادى چې د يوې حقوقي قاعدې د پيچلتيا او تشې رفع کولو پخاطر تفسير ترسره کېږي.

همدارنګه د علمي او حقوقي اصولو پربنسټ د قانوني نصوصو، تړونونو، او نورو توافقاتو روښانه کولو ته تفسير ويل کېږي (ستانکزى او ملګري، ۱۳۸۷: ۴۵).

لکه څرنګه چې په ملي کچه په ځينو مواردو کې په قوانينو کې پيچلتيا او تشه موجوده او رامنځته کيدلای شي، چې دهغې د حل لپاره په ملي کچه اړونده مراجع اقدام ترسره او هغه تفسيروي، په همدې شکل په نړيوالو تړونونو کې هم کله ناکله داسې موارد رامنځته کېږي، چې يا به پيچلتيا او ياهم خلا ولري، چې په دواړو مواردو کې د پيچلتيا رفع کول او د خلا ډکولو حالت ته د هماغه حقوقي قاعدې تفسير ويل کېږي.

د نړيوالو تړونونو د تفسير په اړه د ويانا د ۱۹٦۹ کال کنوانسيون د ۳۱مې څخه تر ۳۳مې مادې پورې قواعد راغلي دي، د دغوقواعدو او اصولو څخه هدف د هېوادونو ترمنځ د نړيوالو تړونونو د تفسير اړوند اختلافاتو حل او فصل دى.

لکه څرنګه چې د نړيوالو تړونونو د انعقاد اصلي موخه د هېوادونو ترمنځ د قراردادي اړيکو تنظيم دى، په داسې بڼه چې د متعاقدينو ترمنځ هيڅ اختلاف رامنځته نشي، مګر دا چې له تړونونو څخه د هېوادونو لخوا کله ناکله مختلف برداشتونه د ځينو نا وړاندوينو وقايعو رامنځته کېدل، د تړون د اجراء پرمهال د اجرا نحوه، او بالاخره په تړون کې مبهم او پيچيده قواعد کيدلای شي چې،

دهېوادونو ترمنځ د اختلافاتو سبب شي، په هر حال دهېوادونو ترمنځ د نورو اختلافاتو ترڅنګ یو عمده لامل د نړیوالو تړونونو د تفسیر پر سر وي، د دې لپاره چې د نړیوالو تړونونو پر تفسیر ښه وپوهیږو لاندې عنوانونه تربحث لاندې نیسو.

د نړیوالو تړونونو د تفسیر ذیصلاح مراجع، د تفسیر اصول او قواعد او بالاخره د تفسیر شیوه او تګلاره، چې هر یو به په جلا ډول سره تربحث لاندې ونیسو.

**۲ـ د نړیوالو تړونونو د تفسیر مراجع**: داچې څوک او کومې مراجع نړیوال تړونونه تفسیر کوي، د دې لپاره هم په ملي او هم نړیواله کچه مراجع شتون لري.

**۱/۲**: ملي مراجع :د نړیوالوتړونونو د اجراء پر مهال متعاهد لوري دا حق لري، چې د خپلواکو مراجعو لخوا په یو اړخیز ډول سره اړوند تړونونه تفسیر کړي، که چېرې د داخلي مراجعو تفسیر د بد نیت سره مل وي، نو د هغه هېواد لپاره به نړیوال مسولیت له ځان سره ولري، خو سره لدې د داخلي مراجعو لخوا تقسیر یوازې د هماغه تفسیرونکي هېواد لپاره تفسیر شوی شمېرل کېږي، او د بل لوري لپاره الزمي ندي. دا یو نسبي امر دی او که یو اړخیز تفسیر د تړون د لوریو لخوا ونه منل شي، نو ممکن د اجراء وړهم ونه ګرځي. لکه د المان او فرانسې تر منځ د ( ۱۸۷۱ ) م کال د فرانکفورت د تړون د ( ۲ ) مادی په اړه چې د تابعیتد ټاکلو په اړه اختلاف. چې هر لوري د خپلې خوا څخه نوموړې ماده تفسیر کړې وه، او د بل لوری لخوا نه منل کېده چې دې کار سره د نوموړې مادې د اجرا مانع شو (موسی زاده، ۱۳۸۹: ۱٦۸).

د تفسیرملي مراجع عبارت دي له :

اجرائی مراجع د قانون جوړونې مراجع قضائي مراجع

**۱/۱/۲** : اجرائي مراجع: د نړیوالو تړونو تفسیر کیدای شي چې د حکومت د اجرائي برخو لکه د بهرنیو چارو وزارت لخوا تر سره شي. لکه د فرانسې په هېواد کې د نړیوالو تړونونو د تفسیر لپاره په داخلي مراجعو کې واک لرونکي مرجع د بهرنیو چارو وزارت دی.

**۲/۱/۲** : د قانون جوړونې مراجع: څرنګه چې د قانون جوړونې مراجع د عادي قوانینو د تفسیر صلاحیت هم لري، چې د هغوی تفسیر ته تقنیني تفسیر وایي، همدارنګه کولی شي نړیوالو تړونونه چې د دولت لپاره د داخلي قانون حکم لري هم تفسیر کړي.

**۳/۱/۲** : قضائي مراجع: د ډېری هېوادونو په قوانینو کې د نړیوالو تړونونو د تفسیر واک په واضح ډول د قضائیه قوې ته ورکړل شوی وي. لکه د امریکا متحده ایالات، انګلستان، المان، سویس، هند

او ځينې نور هېوادونه، د دوی محاکم کولی شي چې، نړيوال تړونونه تفسير کړي (ستانکزی، ۱۳۹۵: ۱۲٦).

په افغانستان کې د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون د ۱۲۱ مادې پر بنسټ د نړيوالو تړونونود تفسير صلاحيت هم سترې محمکې ته ور کړل شوی و (اساسي قانون، ۱۳۸۲ ).

البته د قضائي مراجعو له لوري په تفسير باندې يو انتقاد وجود لري؛ هغه دا چې د قواوو د تفکيک(ثاقب او تصميم، ۱۳۹۳) اصل تر پوښتنې لاندی راولي، د قضائي مراجعو لخوا دا اقدام د اجرائي او ديپلوماتيکو مراجعو په چارو کې يو ډول مداخله ګڼل کېږي.

د دې حقوقي ټکر د له منځه وړلو لپاره قضائي مراجعو خپل واک د هغو قواعدو په تفسير پورې محدود کړی چې، هغه د افرادو په شخصي ګټو پورې تړلی وي. او په هيڅ صورت نړيوال عمومي نظم پورې تړاو ونه لري. هغه عمده موارد چې د افرادو په شخصي ګټو پورې اړيکه لري او قضائي مراجع هغه تفسيرولای شي هغه عبارت دي له :

الف : د افرادو د سرنوشت ټاکلو اړوند نړيوالو تړونونو تفسير : پدغه برخه کی هغه تړونونه چې، د يوې ځمکې د انفصال (جلاوالي) او يا انضمام (پيوستون) اړوند وي، چې په هغه اساس د افرادو تابعيت ټاکل کېږي. همدارنګه د تحت الحمايګې اړوند تړونونه چې په هغه کی د تحت الحمايه (کوهستاني، ۱۳۹۳) ځمکې حقوقي شرايط د حامي هېواد لخوا مدني او جزائي قوانينو اعمال او تطبيق کېږي ( موسی زاده، ۱۳۸۹: ۱٦۹).

ب : د پرديو اتباعو د سرنوشت د ټاکلو اړوند تړونونو تفسير: پدغه برخه کی کولای شو چی د بهرني کاري قوې د استقرار اړوند تړونونه، د ادبي، هنري، صنعتي مالکيت د حمايت اړوند تړونونه د پناه غوښتونکو د سرنوشت اړوند او همدارنګه د بی تابعيته افرادو اړوند تړونونه دي.

ج : د خصوصي افرادو د اقتصادي فعاليتونو اړوند تړونونو تفسير: پدې برخه کې لاندې تړونونو ته اشاره کولی شو ( تجارتي او ګمرکي تړونونه، د کاري قوې او شغل اړوند تړونونه، د اجناسو د حمل او نقل اړوند تړونونه او يا هم پستي اړوند تړونونه) مګر ځينې موارد چې نړيوال عمومي نظم پورې مربوط دي او د داخلي محاکمو د صلاحيت څخه بيرون دي هغه عبارت دی له :

- د هغه تړونونو تفسير چی د يوه هېواد د ځمکې واک ټاکي، پدې برخه کې کولاې شو چې د يو پردي هېواد لخوا د بل هېواد د ځمکې د حاکميت د اعمال تړون څخه يادونه وکړو، يا هم د سرحدي پولو د ټاکلو اړوند تړونونه، يا هم هغه تړونونه چې يو ځانګړي دولت ته په تحت الحمايه دولت کې د يو اندازه ځمکې صلاحيت ورکوي.

- د شخصي واک د اعمال اړوند تړونونه : د دغو تړونونو عمده نمونې کنسولي تړونونه دي، کنسول د خپل متبوع دولت د قوانینو په عملي کولو سره د کوربه هېواد د داخلي اتباعو په نسبت د محاکمو له سلطې څخه د باندې دي، او په یو شکل سره د ځمکې‌ها خوا واک اعمالوي.
- د جزائي واک د پلي کولو اړوند تړونونه: د دغو تړونونو عمده نمونې د استرداد تړونونو څخه یادونه وکړو، د داسې تړونونو د شتون په صورت کې قضائي واک د متهم فرد په وړاندې نشي اعمالېدلای.
- د جګړئیز واک د اعمال اړوند تړونونه: له هغه ځایه چې جګړه ییز واک د دولت د ملي حاکمیت او ارادې څخه سرچینه اخلي، داخلي محاکم د لاندې تړونونو د تفسیر واک نلري؛ لکه د جګړې د حقوقو د تړونونو تفسیر، له هغه جملې د (۱۹۰۷) م کال د لاهي تړون، د اوربند تړون، د متخاصم او بی طرفه دولتونو ترمنځ منعقده تړونونه، د مالي او قضائي واک د اعمال د محدودیت اړوند تړونونه، همدارنګه داخلي قاضي نشي کولای چی هغه تړونونه تفسیر کړي کوم چی د یوه هېواد مالي او قضائي واک یې محدود کړی وي (موسی زاده، ۱۳۸۹: ۱۷۱).

**۲/۲ : د نړیوالو تړونونو د تفسیر نړیوالې مراجع:** د نړیوالو تړونونو د تفسیر نړیوالې مراجع عبارت دي له :

۱ : نړیوالې دولتي مراجع ۲ : نړیوالې حقوقي مراجع ۳ : نړیوال سازمانونه

**۱/۲/۲ :** نړیوالې دولتي مراجع: لکه څرنګه چې دولتونه د نړیوالو تړونونو اصلي منعقدونکي دي، نو ممکن دوی تر ډېره بریده ښه تفسیر وکړي، دا تر هغه پوری امکان لري چې د تړون لوری دا تفاهم ولري تر څو د دواړو لوریو د ګډو ګټو پر اساس تفسیر ترسره شي.

**۲/۲/۲ :** نړیوالی حقوقي مراجع: لکه څرنګه چې، ډېری نړیوال اختلافات د نړیوالو تړونونو په تفسیر پورې اړوند دي نو طبعاً نړیوالې حقوقي مراجع هغه ته د رسیده ګی واک لري، چې دغه مراجع په دوو برخو ویشل کېږي:

**الف :** د نړیوال حاکمیت مراجع: دا مراجع د هېواد و په توافق سره د شته اختلافاتو د حل په موخه جوړیږي.

ب : نړیوالې قضائي مراجع: د دې ښه مرجع د عدالت نړیواله محکمه ده، د نوموړې محکمې د اساسنامې مطابق په دریو مواردو کې د تغیر صلاحیت لري:

- په هغه مواردو کې چې د اختلاف لوري د محکمې د اجباري قضاوت شرط منلی وي، او هم يې د منلو اعلاميه محکمې ته رسېدلی وي.
- په هغه مواردو کې چې د تړون لوري د هماغه تړون د يوې مادې پر اساس د محکمې اجباري قضاوت منلی وي.
- په هغه مواردو کې چې د محکمې رايه په قطعي ډول سره صادره شوې وي، مګر يو د اړخونو څخه په هغه اړه معترض وي، او د هغه د تفسير غوښتنه وکړي.

**۳/۲/۲ :** نړيوال سازمانونه: د نړيوالو تړونونو د تفسير په اړه د نړيوالو سازمانونو واک ډېر مشخص ندي، ځکه د هغوی کړنې او رويې پدې اړه توپير لري، چې ورته په لاندې ډول اشاره کوو:

الف : ځينو نړيوالو سازمانونو په صريح ډول سره د خپلو تأسيس شوو اسنادو د تفسير واک تر لاسه کړی وي، لکه: نړيوال بانک.

ب: د نړيوالو سازمانونو ارکان او اصلي برخې معمولاً دهغو مقرارتو ګټې چې؛ د هغوی فعاليتونه تنظيموي او تفسيروي، لکه د نړيوالې ټولنې د ارکانو لخوا تفسير شوی پرېکړه ليک چې يوازې د هغوی لپاره يې حقوقي اثار رامنځته کول.

ج: څرنګه چې د تفسير مسأله مهمه ګڼل کېږي، نو د يو بېطرفه ارګان لپاره د هغې سپارل تر څو يې تفسير کړي، چې جامعه ملل د دې لپاره څو ځلې د حقوق پوهانو کمېټه جوړه کړه چې هغوی په بيطرفه ډول سره دا کار سرته رسولی دی.

د : د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي اسمبلۍ پرېکړه ليک هم له ياده نشي ويستل کېدلای، ځکه چې عمومي اسمبلۍ څو متعددو پرېکړه ليکونو په تصويب او صادرېدو سره د منشور مفادات تفسير کړل. لکه د تيري او تجاوز په اړه د ( ۱۹۷۴) م کال د دسمبر مياشتې ( ۳۳۱۴ ) ګڼه پرېکړه ليک، د تيري کلمه چې د منشور په (۳۹ ) ماده کې کارول شوې، په ښکاره ډول سره نه وه تعريف، نو ځکه نوموړي پرېکړه ليک د منشور يو مفهوم تفسير کړ چې په هغه پرېکړه ليک کې يې داسې يادونه کړي وه: ( د يو دولت لخوا په مسلحانه ډول سره د بل دولت خاوره نيول او حاکميت تر پښو لاندې کول دي) ( موسی زاده، ۱۳۸۲: ۱٦۸).

**۳ : د نړيوالو تړونو په تفسير باندې حاکم اصول:** داچې نړيوال تړونونه څه ډول او د کومو اصولو په رڼا کې تفسير شي نو لاندې مواردوته اشاره کوو:

**۱/۳:** د حسن نیت اصل: د ویانا د تړونونو حقوقو کنوانسیون د (۱۹۶۹) م کال د (۳۱) مادی مطابق د نړیوالو تړونونو په تفسیر کې باید له ښه نیت څخه کار واخیستل شي، او دغه کار باید د تړون عادي مانا او اهدافو په رڼا کې تر سره شي.

**۲/۳:** د ګټورو اثارو اصل: د نړیوالو تړونونو له تفسیر څخه باید ګټور اثار مرتب او تر لاسه شي، یا په بل عبارت د نړیوالو تړونونو تفسیر باید د نړیوالې همکارۍ په ساحه کې اسانتیاوې رامنځته کړي نه برعکس.

**۳/۳:** د دولتونو لپاره د حداقل تعهد رامنځته کول: د نړیوالو تړونونو تفسیر باید پداسې طریقې او شیوې تر سره شي چې د لوریو لپاره حداقل تعهدات رامنځته کړي.

**۴/۳:** تفسیر د هغه هېواد په ګټه وي کوم چې د نا مناسب وضعیت لرونکې وي.

تفسیر معمولاً د هغو لوریو کوم چې د غیر مناسب وضعیت څخه برخمن وي په ګټه وي، معمولاً د دریمې نړۍ هېوادونه د نا مناسب وضعیت لرونکي دي نو باید د هغوي شرایطو او ګټو ته پام وشي.

**۵/۳:** د ښکاره او واضح کلیماتو د نه تفسیر اصل: که د یوه تړون کلمې او عبارتونه واضح وي، نوتفسیر ته یې اړتیا نشته باید تفسیر نشي (بیګدلي، ۱۳۸۸: ۱۶۴).

**۴: د تفسیر تګلارې:** نړیوال محاکم د نړیوالو تړونونو د تفسیر پر مهال د لاندې دریو تګلارو څخه ګټه پورته کوي:

**۱/۴ :** ادبي، متني (عیني تګلاره): پدغه تګلاره کې د تفسیر په موخه د تړون اصلي متن او مفهوم ته مراجعه کېږي، پدې مانا چې تفسیر د تړون د عباراتو او منځپانګې د خالص مفهوم له مخې تر سره کېږي، چې دغه تګلاره تر ډېره کمزورې ښکاري ځکه پدې ډول تفسیر کې داسې فرض کېږي چې ګویا د تړون عبارتونه واضح دي، او یوازې مفهموم یې باید روښانه شي پداسی حال کې چې ممکن موضوع بر عکس وي.

**۲/۴:** د لوریو د قصد پورې تړلې (ذهني تګلاره): د دې ډول تګلارې له مخې باید د یوه تړون د لوریو د قصد له مخې او د هغه مطابق تفسیر شي، ممکن د تړون مقدماتي او لومړنیو چارو ته مراجعه وشي، او یا هم د لوریو قصد او موخو څخه مالومات تر لاسه شي، دا هم امکان لري چې د هر لوري قصد له بل سره توپیر لرلی شي، او پدې سره ستونزې رامنځته کیدلی شي.

**۳/۴:** د تړون د موخې او موضوع پورې تړلی ( غايي تګلاری ): دا د پورته دوه نورو تګلارو په نسبت پراخه مفهوم لري، د دې له مخې د يو تړون د اصلي موخې او غايت په اساس تفسير تر سره کېږي، نو تفسير بايد د تړون د موخو سره برابر ترسره شي (اخندزاده، ۱۳۹۸: ٦۴).

امکان لري چې پورتني درې واړه تګلارې په يو وخت کې استفاده شي، په دې مانا چې هغه مانع الجمع ندي، د يونړيوال تړون په تفسير کې په لمړي قدم کې بايد د تفسير معيار د تړون په متن او همدارنګه په توافق شوو متقدمو او متاخرو اسنادو باندې چې له تړون سره اړيکه لري، اساس وګڼل شي، او د نه کفايت په صورت کې بيا کيدلای شي چې د جلساتو نحوه او بڼه او همدارنګه د وخت او زمان اوضاع هم په پآم کې ونيول شي (اميدي، ۱۳۸۸).

پورتنۍ درې تګلاری د ويانا د (۱۹٦۹) م کال د تړونونو حقوقو کنوانيسون په (۳۱، ۳۲ او ۳۳ ) مادو کی ذکر شوي، همدارنګه د عدالت د نړيوالې محکمې په قضائي رويو کې هم ليدل کېږي( ويانا کنوانسيون، ۱۹٦۹ :۳۱، ۳۲، ۳۳مواد).

## موندنې

ددې څېړنې موندنې ښيي چې: نړيوال تړونونه له انعقاد وروسته له يو لړ پيچلتياو او خلاوو سره مل وي، چې وروسته ستونزې راولاړوي او هېوادونه يې په خپله ګټه تعبيروي، دغو ستونزو ته بايد د حل لاره پيدا شي او د دغې لارې پيدا کول او پرې پوهېدل خورا ارزښتمن دي، تر څو هېوادونو او په ټوله کې نړۍ ته يې خير ورسيږي.

دويم مورد، ډېرو څېړونکو يوازې د نړيوالو تړونونو په اړه يادونه کړې او يا يې هم په کمه بڼه د نړيوالو تړونونو په تفسير بحث کړی، بايد په تفصيلی بڼه د نړيوالو تړونونو تفسير تر څېړنې لاندې ونيول شي، تر څو زموږ د هېواد بهرني سياست د تصميم مراجعو ته ګټور تمام شي.

دا څېړنه د نړيوالو تړونونو له تفسير څخه بحث کوي، او يوازې د نړيوالو تړونونو په تفسير پورې محدوده ده، مګر دنړيوالو کنوانسيونو، قراردادونو، ميثاقونو، منشورونو، پروتوکولونو، اعلاميو، هوکړه ليکونو او پيمانو تفسير د بحث لاندې نه نيسي. په لنډ ډول ويلای شو چې د نړيوالو تړونو د تفسير او د هغوی له اغېزو څخه بحث کوي.

## مناقشه

د اچې د نړیوالو تړونونو تفسیر د ځینو لیکوالانو له لوري په کلي بڼه تر بحث لاندې نیول شوی، لکه: عبیدالله اخندازده د نړیوالو عمومي حقوقو تر عنوان لاندې کتاب لیکلی دی، چې نوموړي په تفصیلي بڼه د نړیوالو عمومي حقوقو په اشخاصو رڼا اچولې، همدارنګه یې جګړه او بشر پال حقوق تر بحث لاندې نیولي؛ د سمندرونو حقوقو باندې یې تفصیلي رڼا اچولې. نو اړتیا لیدل کېږي تر څو د نړیوالو تړونونو تفسیر تقریباً په بشپړه توګه تر څېړنې لاندې ونیول شي.

د اچې د نړیوالو تړونو تفسیر د ځینو لیکوالانو له لوري په کلي بڼه تر بحث لاندې نیول شوی، لکه: محمد رضا ضیایی بیګدلی، د حقوق بین الملل عمومی په کتاب کې نوموړي نړیوال عمومي حقوقو پر مفهوم، تاریخ او سرچینو باندې عمومي بحث کړی؛ همدارنګه ډیپلماتیک او کونسلي حقوقو باندې یې بحث کړی خو دا چې د نړیوالو تړونونو تفسیر په کلي بڼه تر بحث لاندې ونیول شي لومړی ځل دی چې دا کار ترسره کېږي.

## پایله اخیسته

د نړیوالوتړونونو تفسیر هغه شیوه او تګلاره ده چې په اساس یې کېدلای شي هغه احتمالي رامنځته کیدونکې ستونزې او مشکلات حل او د هغو مخنیوی وکړي کوم چې، د لوریو د خپلو برداشتونو څخه راپیدا کېدلای شي، د دې ترڅنګ دا تګلاره کولای شي چې د هېوادونو ترمنځ د بې اعتمادي فضا ختمه او د مختلفو برداشتونو پرځای یو معقوله او ټول منلې لاره پیداکولای شي، نو د څېړنې په اخر کې دې پایلې ته ورسیدو چې کله اشخاص د یوې موضوع د رسیده ګي لپاره یوې هوکړې ته مخه کوي او تړونونه لاسلیکوي، مګر کله کله داسې کېږي، چې یادو تړونونو کې ابهامات او یا هم خلاوې وي، او هر لوری ترې خپل تعبیرات کوي، ځکه د انسان ذهن او فکر ټولو خواوو ته رسیده ګي نشي کولای؛ نو په دې ځای کې بیا هم د لوریو ترمنځ ممکن اختلافات را ولاړ شي، چې د اختلاف په صورت کې به نه یوازې د تړون لوري بلکې نوروثالثو لوریو باندې هم اثر واچوي، چې د دې ستونزې د حل ښه لاره د نړیوالو تړونونه تفسیر بهترنیه تګلاره ده.

## وړاندیزونه

۱ـ هېوادونه دي هڅه وکړي، ترڅو د نړیوالو تړونونو د انعقاد پرمهال د تړون متن روښانه او واضح بڼه ولیکي.

۲ـ د نړيوالو تړونونو تفسير د حاکمو اصولوپه رڼا کې ترسره شي.

۳ـ زموږ حکومت هڅه وکړي، ترڅو په خپلو ډيپلوماتيکې دستګاه او يا نورو اړوندو برخو کې چې د نړيوالو تړونونو دلاسليک مسؤليت ورکول کېږي، هلته مسلکي او متخصص افراد استخدام کړي.

۴ـ په نړيوالو کچه بايد د نړيوالو تړونونو د تفسير غښتلې مراجع شتون ولري.

## اخځليکونه


اخندزاده، عبيدالله. ( ۱۳۹۸هـ ). نړيوال عمومي حقوق. دريم چاپ. کابل: اکسوس خپرندويه ټولنه.

اميدی، علی. ( ۱۳۸۸هـ ). حقوق بين الملل ازنظريه تاعمل. تهران : نشرميزان.

ارينزی، احسان الله. (۱۴۰۰). نړيوالې ټولنې. شيخ زايد پوهنتون: حقوقواوسياسي علومو پوهنځی.

بيگدلی، محمد رضا. (۱۳۸۸ هـ). حقوق بين الملل عمومی. تهران: گنج دانش.

بيگدلی، محمد رضا. (۱۳۹۵هـ). اسلام او نړيوال حقوق. ژباړه سلطان شاه صفاري. کابل: مستقبل خپرندويه ټولنه.

ثاقب، نقيب الله . او تسبيح الله تصميم. (۱۳۹۳). اساسي عمومي حقوق. ننګرهار:يار خپرندويه ټولنه.

د عدليی وزارت. (۱۳۸۲). د افغانستان اساسي قانون. رسمي جريده.۱۲۱ ماده.

د ويانا ۱۹٦۹ م کال د نړيوالو تړونونو کنوانسيون.

ستانکزی او نور.(۱۳۸۷). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. پروژه عدلي وقضايی افغانستان.

ستانکزی، عبدالناصر. (۱۳۹۵هـ). د نړيوالو تړونونو پيژندنه. کابل: مستقبل خپرندويه ټولنه.

صافی، ودير. (۱۳۸۸هـ). نړيوال عمومی حقوق. ژباړه امان ايمان. کابل: دحقوقود پرمختيا نړيوال سازمان.

کوهستاني، محمد جعفر. (۱۳۹۳). حقوق اساسی عمومي. کابل: مستقبل.

موسی زاده، رضا. ( ۱۳۸۸). بايسته‌های حقوق بين الملل.

موسی زاده، رضا. (۱۳۸۹هـ). حقوق معاهدات بين الملل. چاپ چهارم.تهران: نشرميزان.

ناصح، ولی محمد. (۱۳۹۲). حقوق بین الملل خصوصي. کابل: انتشارات سعید.

Sean, D.M. (2006). International Law. Thomson. United States.

# The Interpretation of International Treaties

[1*]Abdul Naser Stanikzai, [2]Mohammad Sadiq Harifal

Department of Political Science and International Relations, faculty of law and Political Science, [1]University of Paktia, [2]University of Kandahar

Nstanikzai.2021@gmail.com

## Abstract

Subjects of international law sign international treaties to solve various issues and problems, so that there is a strategy in the relevant field, but sometimes the signed treaties cause problems during the execution and each side prefers to keep its interests about the treaty according to its own perception, which may cause a problem. There should be a reference at both the national and international levels to clarify and interpret international treaties according to specific policies in the light of governing and international principles this is called the interpretation of treaties and agreements. In this study, the descriptive-analytical method was used in the collection of materials and relied on library sources to explain the purpose that in the presence of mechanisms and solutions, solutions to the differences and problems between the subjects of international law would have been found. There will also be a regular and systematic mechanism to address the complexities and gaps of international treaties. The importance of this study is that the existence of a special approach for the interpretation of international treaties will clarify the ambiguous and complex topics of international treaties.

**Key words:** Competent authorities of interpretation, International Treaties, Interpretation, Subjects of international law.

# بازتاب مفاهیم عرفانی و صوفیانه در اشعار حیدری وجودی

رحیم الله داوزی [1*] و محمد ظریف صفری [2]

دیپارتمنت فارسی دری، پوهنحی زبان و ادبیات، پوهنتون پکتیا [1]

دیپارتمنت فارسی دری، پوهنخی ادبیات و علوم بشری، پوهنتون لغمان [2]

rahimdauodzai@gmail.com

## چکیده

این مقاله «شامل مفاهیم عرفانی و صوفیانه در اشعار حیدری وجودی» به بررسی موضوعات و کار برد مفاهیم و اصطلاحات عرفانی و صوفیانه در شعر غلام حیدر، حیدری وجودی شاعر عارف معاصر شعر فارسی افغانستان می‌پردازد. این تحقیق به هدف دریافت پاسخ برای این پرسش است که حیدری وجودی در اشعارش چه میزانی از اصطلاحات عرفانی را مد نظر داشته و مراد از کار برد این گونه اصطلاحات در شعرش بخاطر بیان چه اندیشه‌ای صورت گرفته است را رویکرد مروری و استفاده از مواد کتاب‌خانه روش توصیفی-تحلیلی صورت می‌گیرد. با تحلیل محتوای اشعار حیدری وجودی، در می‌یابیم که شاعر به منظور بیان اندیشه‌های عرفانی خویش به کار برد این گونه اصطلاحات توجه خاص مبذول داشته است چنانچه با توجه به همین ویژگی‌ها در شعرش لقب شمس العرفا نیز کسب نموده است. نتایج تحقیق نشان می‌دهد که کار برد این گونه اصطلاحات بیشتر در غزلیات وی مشهور است و با این ترتیب غزلیاتش را نسبت به سایر اشعارش رنگ و بوی عرفانی بخشیده است.

**کلمات کلیدی:** عرفانی، صوفیانه، تصوف، حیدری وجودی، عرفان.

## مقدمه

بسم الله الرحمن الرحيم.

الحمد لله رب العالمين والصلوه والسلام علی سيد الانبياء والمرسلين و علی آله و صحبه اجمعين، وبعد: بررسی جلوه‌های اندیشهٔ صوفیانه و عارفانه در شعر فارسی‌دری، نیازمند نگاهی تاریخی و تحلیلی از آغاز شکل‌گیری این زبان و ادب است( صبوری، ۱۳۸۴: ۱۶۳). یکی از بنیادهای مهم و تأثیرگذار در ادبیات معاصر افغانستان، ادبیات عرفانی و صوفیانه است. در این میان، حیدری وجودی یکی از چهره‌های برجسته و کم‌تر شناخته‌شده‌ای این حوزه به شمار می‌رود که آن‌چنان که شایسته است، در محافل ادبی مطرح نشده است. او از جمله دنباله‌روان صادق و مسئولیت‌پذیر مکتب عرفان در ادبیات معاصر افغانستان است که با نگاهی عاشقانه و درونی، راه شعر را تا پایان عمر با ذوق و تعهد پیموده است. خود شاعر نیز از دوران کودکی گرایشی فطری به زیبایی‌های ظاهری و معنوی داشته و سرایش شعر را از لحظه‌ای رؤیایی با مصرع «چه بودی، رونمودی، دل ربودی، بی‌دلم کردی» آغاز کرده است؛ که به گفتهٔ خودش، نتیجهٔ جوشش درونی و تجربه‌ای شهودی بوده است. استاد حیدری وجودی را می‌توان یکی از آخرین حلقه‌های شاعران عارف‌مشرب در افغانستان دانست؛ شاعری که نه‌تنها در عرفان نظری و عملی جایگاهی بلند دارد، بلکه دیوان شعری‌اش نیز چون منبری پرشکوه، حاوی پندها، اندرزها، عشق و بینش‌های عارفانه است. او به‌عنوان پلی میان شعر کلاسیک و شعر معاصر عمل کرده و با وجود دشواری‌های زندگی، هرگز از مسیر شعر و معنا فاصله نگرفته است. اگرچه تحصیلات عالی او به دلیل مشکلات اقتصادی و اجتماعی ناتمام ماند، اما ذوق سرشار، اندیشه ژرف و پیروی آگاهانه از مکتب‌های عرفانی، او را در زمره شاعران اثرگذار قرار داده است.

این تحقیق به هدف روشن‌ساختن گوشه‌یی از زندگی شاعرانه و مشرب عرفانی حیدری وجودی انجام می‌شود؛ تا از لابلای آن مفاهیم پرکاربرد عرفانی و تأثیرپذیری حیدری وجودی از شاعران پیشین و هم‌عصرش مشخص و مورد واکاوی قرار گیرد. از این رهگذر، تحقیق حاضر می‌تواند که برای دست‌اندرکاران ادبیات و عرصهٔ عرفان تا حدی گره‌گشایی کرده و مواد تحقیق فراهم کند. در ضمن این امید می‌رود که یافته‌ها و محتوای تحقیق حاضر پرسش‌های زیر را پاسخ دهد.

۱. نگاه حیدری وجودی بر کاربرد اصطلاحات عرفانی و صوفیانه چه‌گونه بوده است؟

۲. شعر حیدری وجودی تا چه حد از شاعران پیشین و هم‌عصر خویش در عرصهٔ عرفان تأثیر پذیرفته است؟

دربارهٔ اشعار حیدری وجودی، برخی محققان و نویسندگان کارهایی پراکنده و محدود انجام داده‌اند؛ اما تاکنون بررسی جامع و همه‌جانبه‌ای در خصوص کاربرد دقیق و نظام‌مند اصطلاحات عرفانی و تصوفی در اشعار او صورت نگرفته است. نگارنده در این تحقیق تلاش کرده است تا به‌گونه‌ای نظام‌مند، به تحلیل و بررسی زوایای گوناگون کاربرد این اصطلاحات در اشعار حیدری وجودی بپردازد و ابعاد پنهان آن را بازنمایی کند.

حیدری وجودی را می‌توان آخرین حلقه از زنجیر شاعران عارف‌مشرب در افغانستان دانست. اگر دیوان شعری او به‌درستی مورد مطالعه قرار گیرد، روشن خواهد شد که سراسر آثارش مملو از مفاهیم و مضامین عرفانی و تصوفی است. با وجود اهمیت این شاعر، تاکنون تحقیق‌های اندکی در این زمینه انجام شده است. هدف اصلی این تحقیق، بررسی کاربرد اصطلاحات عرفانی و صوفیانه در دیوان او، به‌صورت دقیق، منسجم و همه‌جانبه است.

در میان شاعران معاصر فارسی‌دری افغانستان، حیدری وجودی جایگاهی ممتاز دارد و در عرفان و تصوف، چهره‌ای شناخته‌شده و پرنفوذ است. اگرچه گاه‌گاهی در محافل ادبی افغانستان بحث‌هایی پیرامون اشعار او صورت گرفته، اما تاکنون تحقیق جامعی درباره‌ی جایگاه عرفانی او یا نحوه استفاده از اصطلاحات تصوفی در اشعارش ارائه نشده است. نگارنده کوشیده است تا با بررسی دقیق این عناصر، آن‌ها را به علاقه‌مندان ادبیات عرفانی معرفی کند؛ که این خود، از مهم‌ترین اهداف این تحقیق به‌شمار می‌رود.

## روش تحقیق

تحقیق حاضر با رویکرد مروری و با استفاده از مواد کتاب‌خانه و منابع انترنتی با روش تحلیلی-توصیفی برای بررسی داده‌های بینامتنی به کار گرفته شده است.

## موضوع اصلی

### بحثی در باب عرفان

واژۀ «عرفان» در لغت به معنای «شناخت» است و در اصطلاح، به شناخت قلبی خداوند اطلاق می‌شود؛ شناختی که از طریق **کشف، شهود** و **صفای باطن** حاصل می‌گردد. به‌بیان عزالدین کاشانی: «معرفت عرفانی عبارت است از بازشناخت ذات و صفات الهی، پس از آن‌که به‌طور اجمالی روشن شده باشد که موجود حقیقی و فاعل مطلق، اوست» (کاشانی، ۱۳٦۷: ۸۰) و در فرهنگ فارسی عمید نیز عرفان به معنای شناختن، شناختن حق تعالی و خداشناسی آمده است(عمید، ۱۳۸۲: ۱۴۳۳).

### بحثی در مورد تصوف

کلمۀ «تصوف» را برگرفته از «صوف» می‌دانند؛ به معنای پشم یا پارچۀ خشن که صوفیان اولیه بر تن می‌کردند. برخی نیز آن را مشتق از «صفّه» می‌دانند؛ جایگاهی که گروهی از اصحاب پیامبر (ص) در آنجا سکنی داشتند و به زهد و عبادت مشغول بودند. از دیدگاه حیدر ژوبل: «ممکن است واژۀ تصوف از کلمۀ یونانی Theosophy گرفته شده باشد، که به معنای خداشناسی و خداگرایی است؛ مفهومی که هم از نظر لفظ و هم معنا به تصوف نزدیک است(ژوبل، ۱۳۸۸: ۱۴۰-۱۴۱). مشایخ صوفیه پیرامون تصوف نظریه‌های گوناگون دارند: ابوعمرو نجید گفت: «تصوّف صبر کردن است در تحت امر و نهی» نصر آبادی گفت: «تصوف نوری است از حق دلالت کننده بر حق و خاطری است از او که اشارت کند بدو.» ابو عثمان مغربی گفت: «تصوّف قطع علایق است و ترک خلایق و اتصال به حقایق.» ابوالحسن حُصری گفت: «تصوف صفای دل است از مخالفات.» (صارمی، ۱۳۸٦: ۲۷۹).

### تفاوت تصوف و عرفان

تصوف، یک روش زاهدانه مبتنی بر شرع، ریاضت و تزکیۀ نفس است که هدف آن رسیدن به حقیقت الهی و سیر به‌سوی کمال معنوی است. در مقابل، عرفان یک مکتب فکری ـ فلسفی ژرف است که شناخت حق و حقایق را از طریق اشراق، شهود، ریاضت و کشف ممکن می‌سازد. سجادی می‌نویسد: «عرفان، مکتبی است متعالی و ژرف برای شناختن حق و درک حقایق، از راه اشراق و کشف و شهود» (سجادی، ۱۳۸۳: ۸). انوری نیز در *فرهنگ جامع* خود می‌نویسد: «عرفان و تصوف واژه‌هایی اند که اغلب به‌صورت مترادف به‌کار می‌روند؛ و هر دو مکتبی‌اند که رسیدن به معرفت خداوند را از طریق ریاضت، تهذیب نفس و تأمل جست‌وجو می‌کنند(انوری، ۱۳۸۱: ۵۰۰).

## جایگاه عرفان و تصوف در میان عرفای معاصر افغانستان

افغانستان در طول تاریخ همواره یکی از مراکز مهم معنویت، عرفان و تصوف در جهان اسلام بوده است. پس از ورود اسلام به این سرزمین، بستر مناسبی برای رویش و شکوفایی اندیشه‌های عرفانی و طریقت‌های صوفیانه فراهم آمد. بسیاری از بزرگان صوفیه هم‌چون منصور حلاج، بایزید بسطامی، ابوسعید ابوالخیر، ابوالحسن خرقانی، امام محمد غزالی، فریدالدین عطار، شمس تبریزی و مولانا جلال‌الدین بلخی از همین بستر فرهنگی و معنوی برخاسته‌اند یا با آن پیوندی ژرف دارند. اکنون بیش از هزار سال است که زنجیرهٔ متصل عارفان و صوفیان در این دیار، از نسلی به نسل دیگر انتقال یافته و تداوم یافته است. این میراث معنوی همچنان در میان اهل معرفت در افغانستان زنده و پویا است و در آثار ادبی، به‌ویژه شعر، بازتاب گسترده‌ای یافته است.

## نجم‌العرفا حیدری وجودی

حیدری وجودی، سخنور فرهیخته، نویسنده، عارف و غزل‌سرای بزرگ معاصر افغانستان، با نام اصلی غلام حیدر و تخلص حیدری وجودی، فرزند ملا شفیع‌الله، در سال ۱۳۱۸ خورشیدی در روستای کوت بازارک ولسوالی پنجشیر دیده به جهان گشود (حنیف بلخی، ۱۳۶۴، ج۱: ۲۷۴). تحصیلات ابتدایی خود را از سال ۱۳۲۶ در مکتب ابتدائیه‌ی «رخه» در پنجشیر آغاز کرد. در همین منطقه، آموزش‌های دینی خود را نیز دنبال نمود و کتاب‌هایی هم‌چون قاعده‌ی بغدادی، قرآن مجید، خلاصهٔ کیدانی، کنز، قدری، مختصر، شرح الیاس، شرح وقایه و دیگر متون فقهی را نزد عالمان دینی فرا گرفت. همزمان با تحصیل، به مطالعهٔ آثار ادبی بزرگان ادب فارسی نیز علاقه‌مند شد و با آثاری چون مثنوی معنوی مولوی، غزلیات شمس، دیوان حافظ، بوستان و گلستان سعدی انس گرفت. در دوران تحصیل و در صنف پنجم، حادثهٔ رؤیایی و روحانی عمیقی برای او رخ داد که سرنوشت زندگی و مسیر فکری‌اش را دگرگون ساخت. همین تحول درونی، موجب شد که پس از پایان صنف ششم، ادامهٔ تحصیلات رسمی را کنار بگذارد و به‌طور کامل به سیر و سلوک معنوی و شاعری بپردازد. سرانجام، این شاعر و عارف بزرگ در سال ۱۳۹۹ هجری خورشیدی به دلیل ابتلا به ویروس کرونا، چشم از جهان فرو بست.

**عرفان و تصوف در اندیشهٔ حیدری وجودی**

هر برگ گل تازه، کتابی است ز عرفان

افسوس که در گلشن ما اهل نظر نیست (حیدری وجودی، ۱۳۹۹: ۱۵۲).

حیدری وجودی با درکی عمیق از مفاهیم عرفانی و صوفیانه، باریک‌ترین لطایف و اشارات را در قالبی شعری، لطیف و دل‌نشین بیان کرده است. او پیرو طریقت نقشبندیه بود که از آن به عنوان طریقه خواجگان نیز یاد می‌شود. وی دربارهٔ آغاز راه عرفانی خود، به رؤیایی اشاره می‌کند که در دوران کودکی دیده بود و آن را سرآغاز سلوک در طریقت می‌داند. به باور او، این تجربهٔ روحانی نقطهٔ آغازین ورودش به عرصهٔ عرفان عملی و مسیر سیر و سلوک بوده است. او محور شعر خود را بر عشق، به معنای حقیقی و عرفانی آن، استوار می‌داند؛ عشقی که از منظر عارفان، . این عشق از همان دوران کودکی تا واپسین لحظات عمر، همراه جان و دل او بوده است؛ گرچه با شدت و درجات متفاوت.

**آثار حیدری وجودی**

حیدری وجودی، درطول حیاتی زندگی خویش آثار گرانبهایی را خدمت علم دوستان تقدیم نموده است. بنابه قول شمس الحق آریانفر که زندگی نامهٔ حضرت نجم العرفا حیدری وجودی را نوشته کرده، آثار وی را چنین برشمرده است:

## آثار چاپ شده‌ی حیدری وجودی قرار زیر است:

۱- عشق و جوانی (چاپ اول: ۱۳۴۹)

۲- رهنمای منظوم پنجشیر (چاپ اول: ۱۳۵۱)

۳- نقش امید (چاپ اول: ۱۳۵۵)

۴- با لحظه‌های سبز بهار (چاپ اول: ۱۳٦۴، چاپ دوم: ۱۳۸۸)

۵- سالی درمدار نور (چاپ اول: ۱۳٦٦، چاپ دوم: ۱۳۷۹)

٦- سایه‌ی معرفت (چاپ اول: ۱۳۷۵، چاپ ششم: ۱۳۹۱)

۷- صورسبز صدا

۸- میقات تغزل (چاپ اول: ۱۳۷۸)

۹- غربت مهتاب (چاپ اول: ۱۳۸۲، چاپ دوم: ۱۳۸۷)

۱۰- لحظه‌ها یی درآب و آتش (چاپ اول: ۱۳۸۳)

۱۱- آوای کبود (چاپ اول: ۱۳۸۳)

۱۲- ارغنون عشق (چاپ اول: ۱۳۷۷، چاپ دوم: ۱۳۷۸)

۱۳- شکوه قامت مقاومت (چاپ اول: ۱۳۸۳، چاپ دوم: ۱۳۸۴)

۱۴- رباعیات و دوبیتی‌ها (چاپ اول: ۱۳۷۹، چاپ دوم: ۱۳۸۷) (وجودی، ۱۳۹۹: ۱۴-۱۵).

## کاربرد اصطلاحات تصوفی در اشعار حیدری وجودی

اصطلاح در لغت به معنای صلح، آشتی یا توافق است. در علوم و دانش‌های مختلف، اصطلاح به کلمات یا عباراتی گفته می‌شود که معنای خاصی را در میان اهل آن دانش یا گروه خاصی از مردم منتقل می‌کند. به عبارت دیگر، اصطلاح عبارت است از «مقرر داشتن معنا و مفهوم خاص برای لفظ یا کلمه‌ای، که جدا از معنای لغوی آن باشد» (مونس، ۱۳۹۰: ۳۹۶). در عرف علوم و فنون، اصطلاحات واژه‌ها و تعبیراتی اند که یا به‌صورت قراردادی برای رساندن معنایی خاص وضع شده‌اند، یا بر اثر تکرار کاربرد، معنای ویژه‌ای یافته و حالت اصطلاحی به خود گرفته‌اند(صیقل، ۱۳۹۶: ۶۴). اصطلاحات عرفانی و صوفیانه نیز در ابتدا در اثر تکرار کاربرد در سخنان مشایخ و اهل سلوک، به‌صورت واژگان تخصصی عرفان درامده‌اند. برخی از این واژگان ریشه در قرآن کریم، احادیث و سخنان بزرگان دین دارند(صدقی، ۱۳۴۰: ۲۷). برخی دیگر نیز در نتیجهٔ بیان حالات درونی صوفیان یا در اثر کاربرد ادبی در اشعار و تمثیل‌ها، حالت رمزگونه یافته و بعدها به‌صورت اصطلاح درامده‌اند. چنان‌که سجادی اشاره می‌کند: «گاه نیز شاعران صوفی‌مشرب با استفاده از استعاره، کنایه و مجاز، تعبیراتی آورده‌اند که جنبهٔ رمزی یافته و سپس به عنوان اصطلاح معمول شده است(سجادی، ۱۳۸۳: ۷).

**عشق در اشعارحیدری وجودی**

گویند که جـزعشق به‌عالم هنری نیست  صد شکرکه بی‌شایبه شهکار من این است

(حیدری، ۱۳۹۹: ۱۲۰).

بازتاب عشق در اشعارحیدری وجودی از نوع عشق میانه است، عشق به جلوه‌های زیبای حق در هستی می‌تواند آرام آرام به عشق‌های آسمانی مبدل گردد و بدین ترتیب رابطه میان انسان و خداوند را مستحکم می‌سازد. حیدری وجودی، شاعر دل سوخته و عاشق‌پیشه است. حیدری وجودی، از خود و تمامی آنچه بد و تعلق دارد، بیگانه می‌شود و عشق برتار و پود هستی او آتش می‌زند. از نظر حیدری وجودی آدمی دراین دنیا به‌وجود آمده تا عشق بورزد وبی عشق ورزی سامانی نخواهد داشت:

جزعشق مرا جان و جهان دگری نیست  نام دیگری نیست، نشان دیگری نیست

(همان، ۱۳۹۹: ۱٦۱).

شورمن وشیدایی من حضرت عشق است  جانمایهٔ رسـوایی من حضرت عشق است

چون عشق مراخویش وکسی نیست به دنیا  یارمـن و تنهایی مــن حضرت عشق است

(همان:۱۰۴).

**قضا و قدر در شعر حیدری وجودی**

خدای پاک، رضا گستراست درهمه حال  به دست اوست قضا وقـدر به هردوران

(همان، ۱۳۹۹ :۴۰۲).

قضا، دراصطلاحات، حکم الهی در اعیان موجودات را برآن نحو که هست، از احوال جاری از ازل تا ابد، قضا گویند. «قضا حکم اجمالی است به احوال موجودات، وتابع علم ازلی است به موجودات. این علم تابع علم به اعیان ثابته است و هرشی و به لسان استعداد فیض خاص از خدا می طلبد» (سجادی، ۱۳۸۳: ٦۴۰). حیدری وجودی، قضا و قدر همه و همه به دست ذات پروردگار عالمیان است:

خدای پاک، رضا گستراست درهمه حال  به دست اوست قضا و قدر به هردوران

(حیدری وجودی، ۱۳۹۹: ۴۰۲).

## توبه

زکردار بد خویش، خدایا توبه کردم  زگفتارکم و بیش، خدایا توبه کردم

(همان: ۳۲۸).

توبه، ازجمله مهم‌ترین و جامع‌ترین مقامات، در تصوف و عرفان اسلامی است. توبه ازلوازم راه سلوک در طریقت است که بدون آن ارائه راه طریقت ممکن نیست. توبه حقیقت دین اسلام است و همه شرایع آسمانی در مفهوم آن داخل‌اند؛ زیرا همه پیامبران الهی مردم را در همه اعصار و زمانه‌ها به بازگشت به سوی پرودگار و دین او فرا خوانده اند. زیرا الله متعال توبه کنندگان و پاکان را دوست می‌دارد چنانچه فرموده است: «ان الله یُحبُ التوابین ویحب المتطهرین یعنی هرآینه خداوند توبه‌کنندگان و پاکان را دوست می‌دارد» (سورة البقره- ۲۲۲). از نظر حیدری وجودی توبه انسان را با خداوند نزدیک می‌کند.

زکردار بد خویش، خدایا توبه کردم  زگفتارکم و بیش، خدایا توبه

دل پرنور ایمان به فضل خود ببخشا  به این مسکین دل ریش، خدایا توبه کردم

به مخلوقات نگویم که این نیک است وآن بد  زپندار پس و پیش خدایا توبه کردم

(حیدری وجودی، ۱۳۹۹:۳۲۸).

## صبر

صبرکن ای دل! که بردردت دوایی می‌رسد  نالهٔ زارتو درشب‌ها به جایی می‌رسد

(همان: ۱۹۸).

صبر، به فتح صاد و سکون باء درلغت به مانا شکیبایی است و در اصطلاح تصوف ترک شکایت از رنج و درد و آلام است به غیر خدا نه به خدا. چه خدای تعالی ایوب علیه السلام را به صبری که کرده بود ثنا فرمود: «إنا وجدنهٌ صابراً» پس می‌دانیم که اگر بنده در رفع خسرآن‌ها و ضررها خدای

را بخواند، از لحاظ صبر بر اوعیب و نقصی نیست. به قول حیدری وجودی صبر و شکیبایی انسان را با خداوند نزیک نموده و با مراد خودمی‌رسید:

درطریق عاشقی صبراست مفتاح فرخ　　ای به صبرو صابری، صابرترین صابران

(همان: ۴۰٦).

قربان استقامت و صبر و ثبات تو　　قربان جن خسته و ویران تو شوم

(همان: ۳۸۰).

## زاهد

زاهدا! چون وچرا وبیش وکم ازما مخواه　　برسرخــوان محبت همچومهمانیم ما

زهد، به ضم "زاء" در لغت به مانا پارسایی و تقوا و ترک دنیا است و در اصطلاح اهل حقیقت عبارت است از دشمن داشتن دنیا و اعراض از آن گفته‌اند. ترک آسایش دنیا ست برای جهت رسیدن به آسایش آخرت و گفته‌اند زهد آن است که دلت را از آنچه از دستت خارج است پاکی وخالی دارد(گوهرین، ۱۳۸۰، ج٦: ۱۷٦). حیدری وجودی بیشترین اصطلاحات زهد را در اشعارخود دارد و این نشان دهندۀ اهمیت این حقیقت است که زهد نمایی جای زهد حقیقی را گرفته است و زهد از معنای اصلی خود دورافتاده است:

زاهـــــد تومشو مـــــانع ما را زنظربازی　　روشنگر ایمان است حسنی که حیا دارد

بد گمانی‌های زاهد ترجمان حال اوست　　هرکه می بیند به هرآئینه، روی خویش را

(حیدری وجودی، ۱۳۹۹: ۱۸۴).

## قیامت

آفتاب صــد قیامت نیست بارخاطرم　　فــیض یاب سایۀ سـرو خرامان توام

قیامت، رستاخیز، روزی که کیفرگناهان و پاداش اعمال نیک دهند. عزیزالدین نسفی گوید: «چون مدت دنیا به سرآید و روز قیامت ظاهر شود، اجزاء قالب هر یکی را جمع کنند و قالب هریکی را تمام کنند؛ هر روح هرقالبی را باز به وی درآورند و ازگور بیرون آورند و آسمآن‌ها را

درنوردند و زمین‌ها را تبدیل کنند وجملهٔ آدمیان را در عرصات قیامت» حیدری وجودی می‌گوید که پروردگارا ! در روز قیامت سایهٔ خود را ازسری ما کم نساز!

جانا! قد رسای تو دیدن قیامت است　　دیدن قیامت است وندیدن قیامت است

بی سایه‌ی قـــد تو به گرمی آفتاب　　از سینه آه سـرد کشیـــدن قیامت است

در زیر تیغ ناز تـــو، ای کعبهٔ نیاز !　　ما را به خون خویش تپیدن قیامت است

(حیدری وجودی، ۱۳۹۹:۲۹۷).

## یافته‌های تحقیق

بعد از تحلیل و بررسی مفاهیم عرفانی و صوفیانه در اشعار حیدری وجودی در می‌یابیم که این قلهٔ بلند ادبیات معاصر عرفانی پیرو اندیشهٔ «خلوت در انجمن» و از مریدان طریقت نقشبندیه است؛ اما در عین حال، به همهٔ مشایخ و مکاتب عرفانی عشق و ارادت می‌ورزد. او صوفی‌ای است که براساس اشعارش، در وادی‌های شوق، طلب و معرفت گام می‌زند و در مسیر جذبه و کشف، قدم می‌گذارد.

## نتیجه گیری

آنگونه که از تحلیل و بررسی اشعار حیدری وجودی برمی‌آید اندیشه‌های عرفانی و تصوفی در شعر این شاعر جایگاه بلند و برجسته‌ای دارد، چنانچه این عرفان گاهی بگونه مستقیم و گاهی در جامعه عشق ورمز و رازهای عاشقانه ظاهر می‌شود و گاهی هم به‌صورت معانی ضمنی و غیر مستقیم. لذا می‌توان گفت که حیدری با توجه با مفاهیم گسترده عرفان و تصوف چنانچه خودی و نیز عرفان مشرب بوده است. درکار برد این محتوا عنایت خاص داشته است، آنجا که سخن از قضا وقدر، توبه، صبر، عشق، راز، دل، محرمیت، وسایر مواردی از این قبیل می‌راند، در حقیقت هم اندیشه‌های ناشی از مشرب تصوفی و عرفانی شاعر است که از دل برخاسته، در زبان تجلی کرده و در شعرش پخش شده است.

## پیشنهادها

طوری که از عنوان و محتوای تحقیق معلوم می‌گردد موارد زیر رامی‌توان به عنوان پیشنهادهای تحقیق مشخص نموده تا زمینه برای تحقیقات بیشتر فراهم گردد

۱- تحقیق روی موضوعات تعلیمی در آثار حیدری وجودی.
۲- مقایسه صورت و محتوای شعر حیدری وجودی با یکی از شاعران قدیم یا معاصر.
۳- جمع‌آوری و چاپ آثار چاپ‌نشده: آثار منتشرنشدهٔ حیدری وجودی که نزد دوستان و شاگردان او محفوظ است، شناسایی و در قالب مجموعه‌هایی مستقل یا منتخب، به زیور چاپ آراسته گردد.
٤- چاپ مجدد آثار کمیاب: دیوآن‌ها و کتاب‌های چاپ‌شده‌ی این شاعر که در حال حاضر به‌سختی قابل دسترس‌اند، به صورت ویراست‌شده و با کیفیت بهتر تجدید چاپ شوند.
۵- برگزاری همایش‌های علمی و تحقیقی: پوهنتون‌ها ، مراکز علمی و فرهنگی کشور، به‌ویژه پوهنتون‌های ادبیات، زمینه برگزاری سمینارها و میزگردهای علمی- تحلیلی پیرامون زندگی، اندیشه‌ها و آثار حیدری وجودی را فراهم سازند.

## منابع


قرآن کریم.

انوری، حسن. (۱۳۸۱). فرهنگ بزرگ سخن، ج۵، تهران: انتشارات سخن.

حنیف بلخی، محمد حنیف. (۱۳٦۴). پرطاووس، ج ۱، چاپ دوم، انتشارات رسالت.

ژوبل، محمد حیدر. (۱۳۸۸). تاریخ ادبیات افغانستان، کابل: انتشارات بنگاه.

سجادی، سید جعفر. (۱۳۸۳). فرهنگ اصطلاحات و تعبیرات عرفانی، چاپ هفتم، تهران: انتشارات طهوری.

صبور، داریوش. (۱۳۸۴). آفاق غزل فارسی، چاپ دوم، تهران: انتشارات زوار.

صدقی، محمد عثمان. (۱۳۴۰). سیر ادب در افغانستان، کابل: انتشارات انیس.

صیقل، محمد احسان. (۱۳۹٦). چشمه‌ی شِفاء، کابل.

صارمی، سهیلا. (۱۳۸٦). مصطلحات عرفانی و مفاهیم برجسته در زبان عطار، جلد اول، تهران: پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی.

عمید، حسن. (۱۳۸۲). فرهنگ فارسی عمید، جلد دوم، تهران: انتشارات امیرکبیر.

عزالدین کاشانی، محمود بن علی. (۱۳٦۷). مصباح الهدایه ومفتاح الکفایه، تصحیح: جلال الدین همایی، تهران: مؤسسه نشر هما.

قویم، عبدالقیوم. (۱۳۸۷) . مروری بر ادبیات معاصر دری. کابل: انتشارات سعید.

گوهرین، صادق. (۱۳۷٦). شرح اصطلاحات تصوف، ج۲، تهران انتشارات زوار.

گوهرین، صادق. (۱۳۸۰). شرح اصطلاحات تصوف، ج٦، تهران انتشارات زوار.

مونس، محمد متین. (۱۳۹۰). تصوف و عرفان در سروده‌های عرفای معاصر. کابل: ناشر: ریاست اطلاعات وارتباط عامهٔ اکادمی علوم افغانستان.

غلام حیدر، حیدری وجودی. (۱۳۹۹). دیوان حیدری وجودی، کابل: انتشارات عازم.

# Reflection of Mystical and Sufi Concepts in the Poetry of Haidari Wujudi

[1]Rahimullah Dauodzai and [2]Mohammad Zarif Safari

[1] Department of Dari Language, Faculty of Language and Literature, Paktia University

[2] Department of Dari Language, Faculty of Literature and Humanities, Laghman University

rahimdauodzai@gmail.com

## Abstract

In the flourishing garden of contemporary Dari Persian literature, Sufi and mystic-minded poets have stood tall, offering exquisite verses to lovers of Dari Persian poetry and literature. Among contemporary Afghan poets, one name that stands out for his dedication to the ghazal form is Haidari Wujudi — a well-known figure, a humble and selfless Sufi man whose poetry resonates deeply with spiritual passion and mystical fervor. The central themes of his poems revolve around Sufism and mysticism, filled with ecstatic spiritual energy. In Wujudi's poetry, one constantly finds advice, counsel, love, and mystical insight shining like a spectrum of light into the hearts of seekers. This love and vision have especially turned his ghazals into refreshing springs of spiritual nourishment. His poetic language is fluent, refined, melodious, and free from disruptive ambiguity or awkwardness. Most of his work is infused with mystical and Sufi themes, and every poetic expression in his verses intertwines with the essence of Sufism and mysticism. Rightfully, Haidari Wujudi can be regarded as the last link in the chain of mystic and Sufi-minded poets in Afghanistan.

**Keywords:** Haidari Wujudi, Mysticism, Sufism, Sufi Terminology, Use of Mystical.

# د قران کریم او نبوي احادیثو په رڼاکې د حسد مفهوم، زیانونه او دمخنیوي لاري چارې

احسان الله شهامت[1*] او منت الله آخندزاده[2]

اسلامي ثقافت څانګه، شرعیاتو پوهنځی، غزنی پوهنتون[1]، کابل پوهنتون[2]

e_ehsnullah2012@yahoo.com

## لنډیز

حسد د انسان له هغو بدو او ناوړه خویونو څخه دی، چې کله دا ناوړه خوی په زړه کې ځای ونیسي، نو نه یوازې دا چې د الله ﷻ د رحمت څخه د لرې کېدو لامل ګرځي، بلکې د انسان لپاره د تباهی او هلاکت سبب هم کېږي. حسد هغه حالت ته ویل کېږي، چې کله یو څوک د بل انسان د نعمت د زوال هیله ولري، که څه هم ځان ته یې نه غواړي. دا چاره د مسلمان له اخلاقو سره هېڅ نه ښایي، ځکه حسد یوازې یو دروني احساس نه دی، بلکې په عمل او سلوک کې هم څرګندې اغېزې لري، او کله چې دا احساس په عمل بدل شي، نو خطر او ضرر یې څو برابره زیاتېږي. حسد تر ټولو خطرناک هغه وخت ګڼل کېږي، چې انسان ټول نعمتونه یوازې د خپل ځان لپاره وغواړي او د نورو حقونه تر پښو لاندې کړي. قرآن کریم او نبوي احادیثو په ډېر شدت سره د دې ناوړه خوی بدي بیان کړې ده او دا یې د شیطان له ځانګړتیاوو څخه بللی دی. په دې مقاله کې د حسد تعریف، اسباب، ډولونه، مرتبې، زیانونه، شرعي حکم او د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼا کې یې درملنه څېړل شوې ده. دا موضوع نه یوازې د فرد لپاره حیاتي ارزښت لري، بلکې د سالمې او متوازنې ټولنې د رامنځته کېدو لپاره هم خورا مهمه بلل کیږي. په دې څېړنه کې توصیفي ـ تحلیلي تګلاره غوره شوې، چې پر کتابتوني او معتبره دیني منابعو ولاړه ده.

**کلیدي کلمې :** اسلامي اخلاق، حسد، حسد او ټولنه، قراني درملنه، ناوړه اخلاق.

## سريزه

بسم الله الرحمَن الرحيم،

الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، والصلاة والسلام على خير خلقه محمد، وعلى آله وأصحابه أجمعين.

اما بعد: فقد قال الله تبارك و تعالى فى القران المجيد والفرقان الحميد، فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم (أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۖ ...﴿٥٤﴾) (سورة النساء: ٥٤) و قال الله تعالى (وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾) (سورة الفلق: ٥) و قال رسول الله ﷺ : «لاَ تَبَاغَضُوا، وَلاَ تَحَاسَدُوا، وَلاَ تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا، وَلاَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ» (صحيح البخاري :٨/ ١٩).

بې‌شکه د هغو خطرناکو روحي ناروغيو له ډلې څخه چې زړونه ورانوي، اړيکې شلوي، او له ټولنې برکت او خوښي باسي، هغه ناوړه صفت دی چې "حسد" بلل کېږي. دا يوه داسې زهرجنه پديده ده چې ډېر کم خلک ترې خلاص وي او همدا وجه او لامل دی چې په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې يې سخته بدي بيان شوې ده.

که موږ د تاريخ پاڼې پرانيزو، نو وينو چې لومړی ګناه تر سره شوې هغه د حسد له امله وه: ابليس د آدم عليه السلام له مقام سره حسد وکړ، او د الله تعالی له فرمان څخه يې سرغړونه وکړه. همداراز د انسان په لومړی وژنه کې هم دا ناوړه صفت ښکېل و، قابيل د خپل ورورها بيل په قربانۍ قبولېدو حسد وکړ او هغه يې وواژه. تر دې وروسته، دا پديده د امتونو، قومونو او افرادو تر منځ د جګړو، کرکو او دوښمنيو سبب وګرځېده.

حسد نه يوازې يو روحي ناروغی ده؛ بلکې دا يو ټولنيز آفت هم دی چې د مسلمان امت د يووالي، محبت، او خير غوښتنې بنسټونه نړوي. دا صفت د شيطان له لومړيو وسوسو څخه دی او د بشريت د لومړۍ وژنې سبب وګرځېده، لکه څرنګه چې قرآن کريم د قابيل اوها بيل کيسه بيانوي.

د اسلامي شريعت له نظره، حسد يو ناوړه او ناروا صفت دی، چې په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې ورڅخه منعه شوې او هم د خلاصون لارې چارې ښوول شوې دي.

د دې مقالې موخه دا ده: چې د قرآني آیتونو، نبوي احادیثو په رڼا کې د حسد موضوع هر اړخیزه وڅېړل شي او لوستونکو ته یو واضح او هر اړخیز تصور وړاندې شي.

نسأل الله تعالى أن يرزقنا قلوبًا سليمة، ونفوسًا طاهرة، وأن يطهّرنا من الحسد والغل والبغضاء، إنه سميع مجيب.

وصلى الله وسلم على سيدنا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين، والحمد لله رب العالمين.

حسد د هغو ناوړه او خطرناکو خویونو له ډلې څخه شمېرل کېږي چې قرآن کریم او نبوي احادیثو په ډېر جدیت سره مسلمانان ترې منعه کړي دي. دا بد خوی نه یوازې د انسان فردي اخلاق له منځه وړي، بلکې د ټولنیزو اړیکو پر خرابېدو او د ټولنې پر ګډو ارزښتونو هم ژور منفي اغېز کوي.

قرآن کریم او د رسول الله ﷺ سپېڅلو احادیثو په مکرر ډول د حسد یادونه کړې ده او د دې زهرجن صفت د مخنیوي او درملنې لپاره یې اغېزمنې لارې چارې بیان کړې دي.

دا یوه مهمه پوښتنه ده چې حسد د فرد او ټولنې لپاره کوم تاوانونه لري؟ همداراز، الهي لارښوونې موږ ته د دې ناروغۍ څخه د ژغورنې لپاره کوم عملي تدابیر وړاندې کوي؟ په دې بحث کې به د همدې پوښتنو ځوابونه تر بحث لاندې ونیول شي، څو روښانه شي چې حسد څنګه د انسان د سعادت پر وړاندې خنډ ګرځي او څنګه یې اسلامي شریعت د له منځه وړلو لپاره مؤثرې لارې چارې وړاندې کړې دي.

حسد د رذیلو اخلاقو له ډلې څخه شمېرل کېږي، چې په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې یې بدوالی په ډېره جدي توګه بیان شوی دی. د دې ناوړه صفت څېړنه له ستر ارزښت څخه برخمنه ده، ځکه چې حسد نه یواځې په فرد، بلکې په ټولنه هم ژور منفي اغېز پرېږدي او د همدې اغېزو له امله، دا ځانګړنه کولای شي چې د اخلاقي انحطاط او ټولنیزو ستونزو لپاره زمینه برابره کړي.

د حسد د موضوع ارزښت په لاندې مهمو ټکو کې روښانه کېدای شي:

- قرآني او نبوي تذکرې: قرآن کریم حسد یوه مردوده ځانګړنه ګڼلې او نبوي احادیثو بیا پرله‌پسې او په ټینګار سره له دې ناوړه اخلاقو څخه د ځان ساتنې سپارښتنه کړې ده.

- عامه پوهاوی: د حسد پر ضد عامه پوهاوی کولای شي خلک د دې وژونکي صفت له اغېزو څخه خبر کړي او دا درک ورکړي چې حسد انسان د دنيا او آخرت له نېکمرغيو بې برخې کوي؛ نو ځکه عامه پوهاوی د دغه ناوړه اخلاقو د مخنيوي لپاره يوه مهمه وسيله ګڼل کېږي.
- فرد او ټولنه يې اغېزې: د قرآن کريم او نبوي احاديثو په رڼا کې د حسد د زيانونو، اغېزو او مخنيوي لارو څېړنه نه يواځې دا چې فرد خپل ځان ته متوجه کوي، بلکې د يوې سالمې، مترقي او با اخلاقه ټولنې په جوړښت کې هم رغنده رول لوبوي.
- د اړيکو اصلاح: ځکه چې حسد ډېر کله د فردي شخړو، ټولنيزو اختلافاتو او د انساني اړيکو د خرابېدو لامل ګرځي، نو د دې ناوړه عادت مخنيوی به د انساني مناسباتو د سمون او د ټولنيز وضعيت د اصلاح لپاره اغېزناک ثابت شي.

له همدې امله، د حسد موضوع نه يوازې د اخلاقي بحث موضوع ده، بلکې د ټولنيز ثبات، انساني کرامت او د سالمې فکري فضا د رامنځته کېدو لپاره هم بنسټيز اهميت لري.

د دې مقالې څخه موخه دا ده چې د قران کريم او نبوي احاديثو په رڼاکې د حسد مفهوم، زيانونه او دمخنيوي لاري چارې وڅېړل شي.

د پوښتنې په څېر د بېلګې په ډول ليکو: حسد او زيانونه يې څه دي؟، د حسد د مخنيوي لپاره قران کريم او نبوي احاديثو کومې لارې چارې وړاندې کړې دي؟

په حسد باندې که څه هم ډېرې څېړنې ترسره شوې دي، خو دا څېړنې تر ډېره حده محدودي او په عربي ژبه کې شتون لري، چې د عامو خلکو لپاره د فهم وړ نه دي، مثلاً:

١. إياك والحسد ـ د. بدر عبد الحميد هميسه.

٢. الحسد وأثره على حياة المسلم ـ ها ني بن الشيخ بن جمعة بن سهل.

٣. المهلكات الثلاث (الكبر - الحسد - الحرص) ـ د. بدر عبد الحميد هميسه.

٤. الحسد: أسبابه وأضراره وعلاجه ـ السيد طه أحمد.

نو ځکه خو یاده موضوع لا هم پراخ بحث او ژورې مطالعې ته اړتیا لري، دغه څېړنه هڅه کوي چې د قرآني لارښوونو او نبوي احادیثو په رڼا کې د حسد مفهوم، لاملونه، زیانونه، او د درملنې لارې چارې په منظمه او علمي توګه سره وړاندې شي، تر څو هم د عامو خلکو لپاره پوهاوی زیات شي، او هم د محققینو لپاره یوه ګټوره مرجع وګرځي.

## د څېړنې تګلاره

په دغه څېړنه کې د توصیفي-تحلیلي تګلارې پر بنسټ بحث شوی دی، د کتابتون‌محورې مطالعې له لارې د موضوع اړوند اصلي منابعو او مراجعو څخه استفاده شوې ده. هڅه شوې چې د موضوع ټول اړخونه تر وس او توان پورې وڅېړل شي او هر اړخیز معلومات راټول شوي، تر څو څېړنه بشپړه، ژوره او مانا لرونکې وي.

په شکلي بڼه کې د ادبي اسلوب رعایت شوی او د پښتو ژبې ادبي او املایي اصولو ته په پوره ډول پاملرنه شوې ده. د قرآن کریم د آیتونو د ژباړې لپاره له "کابلي تفسیر" څخه ګټه اخیستل شوې، تر څو د الهي ارشاداتو مفهوم په روانه او معیاري ژبه وړاندې شي.

## اصلي موضوع

### د حسد پېژندنه

ابن منظور رحمه الله فرمايي: حسد یو مشهور (پېژندل شوی) صفت دی. او له (حَسَدَه يَحْسِدُه ويَحْسُدُه حَسَداً (څخه اخیستل شوی دی، معنا یې دا ده: چې یو څوک دا هیله ولري چې د بل چا نعمت یا فضیلت ده ته منتقل شي، یا دا چې هغه نعمت یا فضیلت له هغه بل کس څخه واخیستل شي، نو دا "حسد" بلل کېږي (افریقي، ١٤١٤، ج ٣ : ١٤٨).

امام غزالي رحمه الله د حسد د تعریف په اړه فرمايي: كَرَاهَةُ النِّعْمَةِ وَحُبُّ زَوَالِهَا عَنِ الْمُنْعَمِ عَلَيْهِ (غزالي، ب.ن، ج٣: ١٨٩). ژباړه: د بل چا له نعمت څخه کرکه کول او دا خوښول چې دا نعمت له هغه څوک څخه لرې شي (یعنې له منځه ولاړ شي)، یعنې کله چې الله تعالی ستا په یو مسلمان ورور باندې څه نعمت کړی وي او ته دا نعمت بد ګڼې او هیله لري چې د هغه څخه دا نعمت لرې شي، نودې ته حسد ویل کېږي.

علامه جرجاني رحمه الله د حسد تعريف داسې کړی دی: الحَسَدُ: تمَنِّي زَوَالِ نِعْمَةِ المَحْسُودِ إِلَى الحَاسِدِ( جرجاني، ١٤٠٥: ٨٧).

حسد: دادی چې که يو څوک وغواړي، چې له هغه شخص څخه چې نعمت پرې شوي، نعمت لرې شي او هغه ده ته انتقال شي.

يا په بل عبارت: د نعمت لرونکي شخص څخه د هغه د نعمت د زوال هيله لرلو ته حسد وايي، که هغه نعمت ديني وي (لکه يو کس د دين ښه عالم وي) يا دنيوي وي (لکه يو څوک زيات مال ولري يا د موقف څښتن وي او يا داسې نور...

حسد يو منفي احساس دی چې د نورو د بريا، شتمنۍ، هوښيارتيا، شهرت يا هر ډول نعمت پر وړاندې راپيدا کېږي.

دا يو روحي ناروغۍ ده چې د انسان د دنيا او د آخرت د تباهۍ سبب ګرځي، ددې لپاره چې د حسد له مرض څخه وژغورل شو، نو په کار ده چې د الله ﷻ په تقدير راضي شو او د نورو د نعمتونو قدر وکړو.

**د حسد د بدۍ په اړه د قرآن کريم آيتونه**

حسد کوونکی هغه څوک دی، چې کله الله ﷻ يو چاته نعمت ورکړي، نو دی ورباندې خفه کېږي او که هماغه کس له کوم ستونزمن حالت سره مخ شي، نو حاسد پرې خوشحاله کېږي. دا يو ډېر خطرناک او ناوړه خوی دی، چې نه يوازې د انسان خپل ايمان ته زيان رسوي، بلکې د ټولنيزو اړيکو د خرابېدو لامل هم ګرځي.

د حسد بدوالۍ او مذمت د قرآن کريم په ډېرو آيتونو کې ذکر شوی دی، چې د هغې له جملې څخه څو آيتونه د بېلګې په توګه راوړو:

١ـ( أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۖ فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُم مُّلْكًا عَظِيمًا ﴿٥٤﴾) ( سورة النساء : ٥٤).

ژباړه: ايا دوی (يهود) له خلکو سره د هغه څه له امله حسد کوي، چې الله ﷻ هغوی ته له خپل فضل څخه ورکړي دي؟ (د افغانستان جيدو علماؤ ژباړه، ب. ن، ج ١: ٤٨٥)

یعنې: هغوی د الله ﷻ له خوا د ورکړل شوو نعمتونو – لکه نبوت، علم، عزت او شرف – له امله له خلکو سره حسد کوي.

۲ـ (وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ ۖ فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿۱۰۹﴾) (سورة البقرة: ۱۰۹). ژباړه: خوښوي (او دوست ګڼي) ډېر له اهل د کتاب څخه (دا) چې وګرځوي دوي تاسې پس له ایمان راوړلو څخه کافران د هغه حسد (له سببه) چې د دوي له (خبیثو) نفسونو څخه (پیدا شوی) دی (نه له بل سببه) وروسته له هغه چې ښکاره شو دوی ته حق (چې رسول، قرآن او د اسلام دین دی) نو عفو وکړئ! (دوي ته) او ترې تېر شئ! (جزا مه ورکوئ!) تر هغه پورې چې راولیږي الله امر خپل (په جهاد د دوی یا په جزیه اخیستلو له دوی نه)؛ بېشکه چې الله په هر شي ښه قادر دی (نو هرومرو له دوي څخه انتقام اخلي).(د افغانستان جیدو علماؤ ژباړه، ب.ن، ج۱: ۷۳)

په دې آیت شریف کې د حسد خطرناکه پایله او د اهل کتابو زړونو کې موجود بغض او کینه ښودل شوې، او مسلمانانو ته د صبر، عفوې او توکل توصیه شوې ده.

۳ـ (وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۚ وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿۳۲﴾) (سورة النساء: ۳۲). ژباړه: او ارمان مه کوئ تاسې دهغه شي چې غوره ګرځولی دی الله په هغه شي سره، ځینې له تاسې پر ځینو نورو (د افغانستان جیدو علماؤ ژباړه، ب.ن، ج۱: ٤٦٤).

۴ـ (سَيَقُولُ الْمُخَلَّفُونَ إِذَا انطَلَقْتُمْ إِلَىٰ مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ ۖ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللَّهِ ۚ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمْ قَالَ اللَّهُ مِن قَبْلُ ۖ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا ۚ بَلْ كَانُوا لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿۱۵﴾) (سورة الفتح: ۱۵). ژباړه: ژر به ووایي (تاته) وروسته پاتې کیدونکي (خلک) کله چې روان شئ تاسې غنیمتونو (د خیبر ته) (د پاره د دې) چې واخلئ تاسې هغه (غنائم)! (نو دوی به ووایي:) پریږدئ مونږ هم چې درشو په تاسې پسې (د پاره د جنګ او غنیمت)، دوی اراده لري چې د الله کلام (د الله حکم) بدل کړي، ووایه (اې محمده! دوي ته) چې له سره به متابعت ونه کړی تاسې زمونږ، الله تعالی له پخوا څخه همداسې فرمایلي وو، بیا به ژر ووایي: چې تاسو خو له مونږ سره حسد

او کينه کوئ (په ګټه اخيستلو کې اې مؤمنانو !)، بلکې دوی ؤ چې نه به پوهيدل (د اسلام له دين څخه)، مګر ډېر لږ څه ( د افغانستان جيدو علماؤ ژباړه، ب.ن، ج ۲: ۱۱۸۷).

۵ _(وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾) (سورة الفلق: ۵). ژباړه: او له شره د حسد کوونکی کله چې ښکاره کړي حسد خپل ( د افغانستان جيدو علماؤ ژباړه، ب.ن، ج۲: ۱۷۸۱).

**د حسد د بدۍ په اړه نبوي احاديث**

د حسد د بدۍ په اړه ګڼ شمېر نبوي احاديث شتون لري، چې د بېلګې په توګه يې په لاندې ډول ذکر کوو:

۱ـ حسد د نېکو عملونو تباه کوونکی دی، رسول الله ﷺ فرمايلي دي "إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ، فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ" (سجستاني، ب.ن، ج٤: ۲۷٦). ژباړه: له حسد څخه ځان وساتئ، ځکه چې حسد نيک عملونه داسې تباه کوي، لکه اور چې لرګي سوځوي.

۲ـ حسد د ايمان ضد دی او د بنده په زړه کې دواړه نه سره يو ځای کېږي پدې اړه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «لاَ يَجْتَمِعَانِ فِي قَلْبِ عَبْدٍ الْإِيمَانُ وَالْحَسَدُ» ( نسايي، ۱٤۰٦، ج۲: ۱۲). ژباړه: د بنده په زړه کې ايمان او حسد دواړه نه سره جمع کېږي.

۳ـ مسلمان بايد حسد ونه کړي: په دې اړه ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «لاَ تَبَاغَضُوا، وَلاَ تَحَاسَدُوا، وَلاَ تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا» ( بخاري، ۱٤۲۲، ج۸: ۱۹). ژباړه: يو بل سره حسد مه کوئ، يو بل سره کينه مه ساتئ، يو بل ته شا مه اړوئ او د الله ﷻ بنده ګان او په خپل منځ کې سره ورونه شئ.

۴ـ د غبطې ( روا حسد) په اړه رسول الله ﷺ فرمايي : " لاَ حَسَدَ إِلاَّ فِي اثْنَتَيْنِ: رَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً، فَسَلَّطَهُ عَلَى هَلَكَتِهِ فِي الحَقِّ، وَآخَرُ آتَاهُ اللَّهُ حِكْمَةً فَهُوَ يَقْضِي بِهَا وَيُعَلِّمُهَا " ( بخاری، ۱٤۲۲، ج۹: ٦۲). ژباړه: حسد يوازې په دوو حالتونو کې روا دی: يو هغه څوک چې الله ﷻ مال ورکړی وي او هغه يې د خير په لاره کې مصرفوي، بل هغه څوک چې الله ﷻ ده ته حکمت (علم) ورکړی وي او هغه پرې پريکړې کوي او نورو ته يې ښوونه کوي.

۵ـ حسد د امت د زوال لامل ګرځي په دې اړه رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي: " دَبَّ إِلَيْكُمْ دَاءُ الأُمَمِ قَبْلَكُمْ: الحَسَدُ وَالبَغْضَاءُ، هِيَ الحَالِقَةُ، لاَ أَقُولُ تَحْلِقُ الشَّعَرَ وَلَكِنْ تَحْلِقُ الدِّينَ " (ترمذی، ۱۳۹۵، ج٤: ٦٦٤). ژباړه: تاسو ته د تیرشوو امتونو ناروغۍ راغلې: حسد او کینه، کینه د دین ویجاړونکې ده زه دا نه وایم چې دا ویښتان خرېږي، بلکې دا دین تباه کوي.

٦ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «سَيُصِيبُ أُمَّتِي دَاءُ الْأُمَمِ» فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا دَاءُ الْأُمَمِ؟ قَالَ: «الْأَشَرُ وَالْبَطَرُ وَالتَّكَاثُرُ وَالتَّنَاجُشُ فِي الدُّنْيَا وَالتَّبَاغُضُ وَالتَّحَاسُدُ حَتَّى يَكُونَ الْبَغْيُ» ( حاکم، ١٤١١، ج٤: ١٨٥). ژباړه: زما امت ته به د پخوانیو امتونو ناروغۍ ورپېښې شي. صحابه‌وو عرض وکړ: اې د الله رسوله! د پخوانیو امتونو ناروغۍ څه وې؟ آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د نعمت پر مهال غرور، ناشکري، د مال او اولاد په ډېروالي کې یو له بل څخه مخکې کېدل، یو بل ته نرخ لوړول دوکې ورکول، یو له بله نفرت کول، یو پر بل حسد کول تر دې حده چې ظلم او تېرۍ رامنځ ته شي.

دا حدیث شریف د امت د اخلاقي زوال نښې بیانوي او خبرداری ورکوي چې د مخکنیو هلاک شویو امتونو بدې ځانګړتیاوې به د مسلمانانو په منځ کې هم پیدا شي.

۷ـ : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «فَإِنَّ كُلَّ ذِي نِعْمَةٍ مَحْسُودٌ» ( طبراني، ب.ن، ج٢٠: ٩٤). ژباړه: بېشکه له هر نعمت لرونکي شخص سره حسد کېږي، یعنې هر څوک چې کوم نعمت، فضل، علم، مال، مقام یا ښکلا لري، نو داسې خلک به ضرور پیدا کېږي چې حسد به پرې کوي.

**د حسد په اړه د ځینو علماوو اقوال**

۱ـ حضرت معاویه رضي الله عنه فرمایي: زه د هر سړي په رضا کولو باندې قادر یم مګر کوم کس چې د نعمت په وجه حسد کوي د هغه په رضا کولو قادر نه یم، ځکه دا حسد کوونکی صرف په دې باندې خوشحالیږي چې دا نعمت د دې بل کس څخه واخیستل شي ( غزالي، ب.ن، ج٣: ١٨٩).

۲ـ له حضرت معاویه بن ابی سفیان رضي الله عنه څخه روایت شوی دی، چې هغه خپل زوی ته وویل: اې زویه! له حسد څخه ځان وساته، ځکه تر ټولو زیات زیان رسوونکی شی هغه حسد دی، حسد کوونکی ته پنځه (۵) ډوله سزاوې رسېږي، مخکې له دې چې محسود ته کوم زیان ورسېږي.

ألف ـ حسد کوونکی په داسې غم اخته کېږي چې بيا نه ختميږي.

ب ـ حسد کوونکی په داسې مصيبت کې واقع وي، چې هيڅ اجر به ورته پرې نه وي.

ج ـ حسد کوونکی به له داسې ملامتۍ سره مخ وي، چې هيڅ ستاينه به يې نه کيږي.

د ـ الله پاک به پرې قهر وي.

هـ د توفيق دروازې به پرې بندې وي. (سمرقندي، ١٤٢١: ١٧٨)

په لنډو ټکو کې: حسد د حسد کوونکي لپاره لوی تاوان لري، آن مخکې له دې چې بل چاته زيان ورسوي.

۳ـ ابن سيرين رحمه الله فرمايلي دي: ما هېڅکله له چا سره د دنيا په يوه شي باندې حسد نه دی کړی، ځکه که هغه د جنت له خلکو څخه وي، نو زه ولې پرې د دنيا په يو څه باندې حسد وکړم حال دا چې هغه خو جنت ته ځي؟ او که هغه د دوزخ له خلکو څخه وي، نو زه ولې پرې د دنيا په يوه شي باندې حسد وکړم حال دا چې هغه خو دوزخ تلونکی دی؟ (بستي، ب.ن، : ١٣٤).

۴ـ همدارنګه فرمايي: حسد د کم‌همته خلکو خوی وي، او پرېښودل يې د عزتمندو خلکو کار. هر اور مړ کېدونکی وي، خو د حسد اور نه مړ کېږي (بستي، ب.ن، : ١٣٤).

۵ـ ځينو حُکماؤ ويلي دي: حسد يو داسې زخم دی چې نه ښه کېږي، او د حسد کوونکي لپاره دا بس ده کوم عذابونه او کړاوونه چې ځان ته رسوي، هماغه ورته کافي دي (غزالي، ب.ن، ج۳: ۱۸۹).

٦ـ حسن بصري رحمه الله فرمايلي دي: اې د آدم زويه! ته ولې په خپل ورور باندې حسد کوې؟ که چيرې الله هغه ته د ده د عزت له امله (نعمت) ورکړی وي، نو ته ولې په هغه چا حسد کوې چې الله عزت ورکړی وي؟ او که دا (نعمت) د عزت لپاره نه وي، نو بيا ولې په هغه چا حسد کوې چې انجام به يې دوزخ وي؟ (غزالي، ب.ن، ج۳: ۱۸۹).

۷ ـ ځينو خلکو ويلي دي: حسد کوونکی په مجلسونو کې بې له ملامتۍ او سپکاوي بل څه نه تر لاسه کوي، له ملائکو څخه بې له لعنت او کرکې بل څه نه تر لاسه کوي، له خلکو څخه بې له پرېشانيو او غمونو بل څه نه ترلاسه کوي، د مرګ پر مهال بې له سختۍ او وېروونکي حالت بل څه

نه لري، او د قیامت پر ورځ به بې له رسوایۍ او عذاب څخه بل څه نصیب نه شي(غزالي، ب.ن، ج۳: ۱۸۹).

**د حسد مرتبې**

حسد څلور مرتبې لري

لومړی‌مرتبه: دا چې انسان د بل چا د نعمت له منځه تلل وغواړي، پداسې حال کې چې دځان لپاره یې هم د هغه آرزو نه وي؛ دا تر ټولو بد حالت دی.

دویمه مرتبه: دا چې د بل چا نعمت ته لېوالتیا لري، لکه ښکلې کور، ښایسته مېرمن، نفوذي چوکۍ، یا پراخه رزق چې بل ته رسېدلی وي؛ دی غواړي چې دا نعمت ده ته ورکړل شي. هدف یې د نعمت ترلاسه کول وي، نه د بل نه یې اخیستل. هغه ته د بل تنعّم بد نه ښکاري، بلکې خپله محرومي ورته سخته ښکاري.

درېیمه مرتبه: دا چې دی نه غواړي عین هغه نعمت ده ته ورکړل شي، بلکه دا غواړي چې کاش د دې نعمت په شان یې لرلای. خو کله چې د هغه په شان ده ته ور نکړل شي، نو بیا غواړي چې د هغه بل طرف څخه هم واخیستل شي، تر څو د دوی ترمنځ تفاوت ښکاره نه شي.

څلورمه مرتبه: دا چې یو شخص د ورته نعمت هیله ولري، او که یې ترلاسه نه کړي، نو بیا د بل چا د نعمت د زوال آرزو هم نه لري.

په پورته ذکر شویو مراتبو کې یوازې څلورمه مرتبه غوره او نېکه ده چې (غبطه) ورته ویل کېږي، پاتې درې نورې یې ناوړه او بدې مرتبې دي (غزالي، ب.ن، ج۳: ۱۹۲).

**د حسد ډولونه**

حسد دوه ډولونه لري، چې يو يې منفي او بل يې مثبت حسد دی.

۱ـ منفي حسد( بدبيني) دا هغه حسد دی چې د بل چا نعمت ورته بد ښکاري او د هغه د زوال هيله لري، آن که دی هم ورته نه رسيږي. دا ډول حسد حرام دی.

۲ـ مثبت حسد( غبطه) دا هغه حسد دی چې يو شخص غواړی د بل چا په څېر نعمت ولري، خو دا نه غواړي چې له هغه څخه نعمت واخيستل شي. دا ډول حسد چې (غبطه) ورته ويل کيږي، جواز لري. په ځانګړی ډول د علم، نيکی، تقوا او خير په چارو کې، غبطې ته مجازاً حسد ويل کيږي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: إن المؤمن يغبط والمنافق يحسد (غزالي، ب.ن، ج۳: ۱۸۹). ژباړه: مؤمن غبطه کوي او منافق حسد.

**د حسد لاملونه**

دا څرګنده ده چې نفس د ځان لوړ شی نه خوښوي، نو ويلای شو چې حسد زيات لاملونه او اسباب لري.

امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې د حسد اووه اسباب ذکر کړي دي، چې په لاندې ډول ورڅخه يادونه کوو:

ألف: کېنه او دښمني: دا د حسد د په لاملونو کې لوی لامل دی.

ب: خپل ځان اوچت ګڼل.

ج: تکبر.

د: عُجب.

هـ: د موخو د فوت کيدلو وېره، لکه په دوو بنو ښځو کې چې هر يوه کوښښ کوي خپل خاوند ته ځان نيږدې کړي.

و: د منصب (لوړ مقام) سره مېنه.

ز: د الله ﷻ په نعمتونو باندې بخل کول (دا چې د الله بنده‌گانو ته د خیر ورکولو څخه بخل کوي) (غزالي، ب.ن، ج۳: ۱۹۳).

امام ماوردي رحمه الله د حسد لپاره دری اسباب ذکر کړي دي:

ألف: له هغه چا سره چې حسد پرې کیږي، بغض کول او هغه ته په ورکړل شوو فضیلتونو باندې خفه کېدل.

ب ـ خپل ځان په نورو اندې لوړ گڼل او نور خلک له ځان نه په لوړه مرتبه کې نه تحمل کول، ځکه حسد کوونکی خو هغه مقام ته له رسېدلو څخه عاجز وي.

ج ـ د الله ﷻ په ورکړل شویو نعمتونو باندې بخل کول. حال دا چې دا نعمتونه نه د ده په واک کې دي چې مخه یې ونیسي او نه د ده په لاس کې دي چې څوک ترې محروم کړي؛ ځکه دا د الله تعالی ورکړې دي، چې هر چاته یې وغواړي، ورکوي یې. نو دی د الله عز وجل په تقدیر ناخوښه ښکاري، او د هغه پر ورکړو نعمتونو حسد کوي، که څه هم د الله نعمتونه پر ده ډېر وي (الماوردي، ۱۹۸٦: ۲۷۰).

نور لاملونه یې په لاندې ډول دي:

۱. شهرت غوښتنه او سیالي: ځینې خلک د شهرت او بریا لپاره له نورو سره حسادت کوي (غزالي، ب.ن، ج۳: ۱۹۳).

۲. کمزوری ایمان: حسد ډېر وخت د اخروي ښېگڼو د نه درک له امله وي.

۳. د الله ﷻ په تقدیر باندې نا خوښي.

٤. د الله ﷻ په نعمتونو باندې بخل کول (غزالي، ب.ن، ج۳: ۱۹۳).

۵. دالله په بنده گانو بخل: ځینې داسې خلک پیدا کیږي چې نه تکبر لري او نه په موقف کې وي، خو کله چې دالله بنده گان په نعمتونو کې وگوري نو حسد کوي(المقدسي، ۱۳۹۸: ۱۸۷).

٦. د مزاحمت وېره او د موخو له منځه تلل: لکه په وروڼو کې چې یو خپل پلار یا مور ته نیږدې کیږي، چې په دې سره نور په زړونو کې دا درک کوي، چې دا زما په وړاندې خنډ شو او زما اهداف

له منځه ولاړل، ځکه په ورونو کې هر يو هڅه کوي چې والدينو ته خپل ځان نېږدې کړي. د يوسف عليه السلام د ورونو کېسه يې ښه مثال دی(المدني، ١٤٢١: ٢٢).

**د حسد زيانونه**

حسد ګڼ شمير فردي او ټولنيز زيانونه لري چې د فرد او ټولنې لپاره ډېر زيات خطرناک دي. ددې زيانونو څخه په لاندې ډول يادونه کوو:

١ـ فردي زيانونه

په چا کې چې حسد پيدا شي نو داسې کس په څلورو لويو آفتونو ګرفتاره کيږي:

- ألف: د بل چا د نعمت ليدلو په وجه بې حده زيات خفه کيږي، بدن يې ناروغه کېږي. ځکه حسد د بدن لپاره خطرناکه ناروغي ده.
- ب: د خلکو په وړاندې دده مرتبه ښکته وي او خلک له ده څخه نفرت کوي.
- ج: ټول خلک له ده سره بغض او دښمني کوي او په خلکو کې هېڅوک د ده دوست نه وي.
- د: له حسد کوونکي څخه الله ﷻ ناراضه وي، ځکه هغه د الله ﷻ په پريکړو باندې راضي نه وي، خلکو ته چې الله ﷻ کوم نعمتونه ورکړي وي، ده ته پرې قهر ورځي، چې دا خلک خو د دې نعمتونو حقدار نه وو، نو بيا الله ﷻ ولې ورته ورکړي دي؟ دا په حقيقت کې په الله ﷻ اعتراض کول دي او د هغه ﷻ پريکړې عادلانه نه ګڼل دي، نو ځکه د الله ﷻ د قهر او غضب مستحق ګرځي(ماوردي، ١٩٨٦: ٢٧٤).

همدا ډول

- د حسد په وجه د انسان څخه موجوده نعمتونه اخيستل کېږي.
- حسد د ټولو لويو شرونو منبع او سرچينه ده.
- حسد په زړه کې کينه او بغض پيدا کوي.
- حسد د حسد کوونکي په بد اخلاقۍ او رذالت دلالت کوي (مجموعة من العلماء، ب.ن، ج١٠: ٤٤٢٩).

- د نېکو اعمالو له منځه تلل: حسد د نېکو اعمالو ثواب له منځه وړي، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: حسد نېک عملونه داسې له منځه وړي لکه اور چې لرګي سوځوي.
- حسد لرونکی انسان همیشه ناراضه، خفه او تشویشي وي.
- د حسد کوونکی دعا نه قبلیږي: دری کسان داسې دي چې د دوي دعا نه قبلیږي: ۱ـ حرام خور ۲ـ ډیر غیبت کوونکی ۳ـ د چا په زړه کې چې د مسلمانانو سره حسد وي (سمرقندي، ۱٤۲۱: ۱۷۹).

۲ـ ټولنیز زیانونه

- حسد ټولنیز زیانونه هم لري چې د بېلګې په ډول یې یادونه کولای شو:
- حسد د خلکو ترمنځ د دښمنی، شخړو او فتنو سبب کرځي.
- د ټولنې آرامي د منځ څخه د تللو لامل کېږي.
- بې باوري فضاء د حاکم کېدو سبب ګرځي.
- حسد د ټولنې د بداخلاقی او فساد سبب کېږي (مجموعة من العلماء، ب.ن، ج۱۰: ٤٤۲۹).

**د حسد حکم**

حسد بالاتفاق حرام دی، ددې حرمت په کتاب الله، سنت رسول الله، اجماع امت او عقل سره ثابت دی، ځکه حسد کوونکی په حقیقت کې په الله تعالی باندې دا نیوکه او اعتراض کوي چې هغه کس ته یې ولې دا نعمت ورکړی دی؟ او ولې یې ماته نه دی راکړی؟ په الله تعالی باندې اعتراض کول او د هغه په پرېکړو نا راضه کېدل حرام دي، البته که له فاجر او فاسق سره یو نعمت شتون ولري او هغه د دې نعمت په وسیله په خلکو کې فتنه او فساد خوروي او خلکو ته پرې ضرر رسوي نو بیا د هغه نه د دې نعمت زائل کېدلو هیله لرل جائز دي، ځکه اوس دا نعمت د هغه په حق کې د فساد خپرولو ذریعه ده (غزالي، ۱۸۹/۳).

**د حسد درملنه**

الف ـ د حسد علمي او روحاني درملنه

امام رازي رحمه الله په (تفسير کبير) او امام غزالي رحمه الله په (إحياء علوم الدين) کې د تفصيلي علاج او درملنې ذکر کړی دی، چې په لنډ ډول ورڅه يادونه کوو:

۱ـ د الله په پرېکړو راضي کېدل: کله چې انسان د الله ﷻ په پريکړو راضي شي، نو دا به ورته څرګنده شي چې په مخلوقاتو کې دا نعمتونه الله ﷻ ويشلي دي او زما په حسد سره د چا نعمت له منځه نه ځي، نو بيا به داسې شخص هېڅکه حسد ونه کړي.

۲ـ ممکن د داسې نعمتونو نشتون به د ده لپاره خير وي: ځکه دا ځينې نعمتونه چې الله ﷻ ده ته نه دي ورکړي، شايد په دې کې د ده لپاره خير وي، ځکه که يې ده ته ورکړي وای، نو په فساد کې به اخته شوی وای.

۳ـ الله ﷻ انسان ته بې شماره نعمتونه ورکړي دي: که انسان دغه نعمتونه په ياد وساتي، هيڅکله به د بل چا په نعمتونو حسد ونه کړي.

۴ـ خپل آخرت په ياد ساتل: کله چې حسد کوونکي ته دا خبره جوته شي، چې د دې حسد په وجه زما دين او دنيا دواړو خرابيږي، نو داسې کس به هيڅکله له چا سره حسد ونه کړي (رازي، ۱٤۲۰، ج۳: ٦٤۹).

۵ـ د الله ﷻ له نېکو دوستانو څخه لرې کېدل: دا چې يو څوک له يوه مسلمان سره حسد کوي، نو په دې سره د الله ﷻ له نېکو دوستانو څخه لرې کېږي او ابليس ته پرې نيږدې کېږي.

٦ـ دا په ياد ساتل چې انسان د حسد په سبب سره د آخرت د سختو عذابونو مستحق ګرځي.

۷ـ همدارنګه حسد د انسان نېک اعمال داسې له منځه وړي، لکه اور چې لرګی سوځوي.

۸ـ حسد نه يوازې اخروي تاوانونه لري، بلکې د دنيا ژوند ته هم پرې ضرر رسيږي، ځکه چې حسد کوونکی تل د غم، خفګان او زړه تنګوالي په اور کې سوزېږي، کله چې هغه د نورو نعمتونه ويني، نو د کينې اور يې لا زيات بليږي، وسوسې يې زياتيږي او سينه يې تنګيږي. دا ټول هغه عذابونه دي، چې محسود ته پرې هېڅ زيان نه رسيږي (رازي، ۱٤۲۰، ج۳: ٦٤۹).

۹ـ که چیرې د حسد له امله د چا څخه نعمتونه له منځه تللی، نو لومړی به د هماغه حاسد خپل نعمتونه زائل شوي وای؛ ځکه څنګه چې دی له بل چا سره حسد کوي، همداسې به نور خلک هم له ده سره حسد کوي. نو که حسد د نعمت د زوال سبب جوړېدلای شوای، نو دی به له هر نعمت څخه بې‌برخې شوی وای. بناءً دا یوه لویه تېروتنه ده چې څوک دا تمه ولري چې د ده په حسد سره دې د بل چا نعمتونه ختم شي (غزالي، ب.ن، ج۳: ۱۹۷)؛ (رازي، ۱٤۲۰، ج۳: ٦٤۹).

۱۰ـ د حسد له امله، محسود ته د دنیا او د آخرت دواړو ګټې رسېږي، د دین ګټه ورته دا رسیږي، چې کله یو څوک له ده سره حسد وکړي، نو هغه مظلوم ګڼل کېږي. په ځانګړې توګه که چیرې حاسد د هغه غیبت وکړي، یا بدې خبرې ورپسې وکړي، یا یې بې عزتي او سپکاوی وکړي، نو په دې حالت کې د حاسد له نېکو عملونو څخه را اخیستل کېږي او د محسود د اعمالو دفتر ته انتقالېږي.

۱۱ـ د حسد له امله، محسود ته دنیوي ګټه دا ده: چې کله هغه پوه شي چې فلانی کس له ده سره د الله ﷻ د ورکړل شوو نعمتونو له کبله حسد کوي او د هغه له بریاوو څخه سوځیږي، نو محسود ته یو ډول خوشحالي پیدا کېږي، او په زړۀ کې وایي: پرېږده چې حاسد د خپل حسد په اور کې لا نور هم وسوځي.

۱۲ـ بل دا چې له حسد کوونکي څخه د خلکو بد راځي او د الله ﷻ له لورې پرې لعنت هم را نازلیږي، نو محسود چې کله حاسد له داسې ذلت او خوارۍ سره ووینې، نو په زړه کې یو ډول خوشحالي احساسوي.

۱۳ـ کله چې یو هوښیار او بیدار ضمیر لرونکی انسان د حسد زیانونه وپېژني او دا درک کړي چې په حسد کوونکی د الله ﷻ له لوري لعنت را نازلیږي، او د خلکو تر منځ خپل عزت له لاسه ورکوي، نو داسې کس به هېڅکله د بل چا په ورکړل شوو نعمتونو حسد ونه کړي، بلکې د هغه په نعمتونو به لا زیات خوشحاله شي (رازي، ۱٤۲۰، ج۳: ٦٥).

**ب ـ د حسد عملي درملنه**

۱ـ د حسد سرچينې له منځه وړل: د حسد ختمولو لپاره عملي علاج دا دی چې انسان د هغو کارونو مخه ونيسي چې له حسد څخه راټوکېدلي وي. که حسد انسان دې ته اړ کړی وي چې د محسود غيبت وکړي، يا پسې ناوړه خبرې وکړي، نو د دې ناروغۍ علاج دا دی چې خپله ژبه د غيبت او بدو خبرو څخه وساتي، او پر ځای يې د هغه سړي ښه صفات بيان کړي.

که د تکبر له کبله له يوه شخص سره حسد پيدا شوی وي، نو بايد په زړه کې تواضع پيدا کړي، ځان عاجز وبولي، او کبر له زړه څخه وباسي. که حسد له هغه سره د احسان مخه نيولې وي، نو بايد په پوره صداقت ورسره مرسته او احسان وکړي.

کله چې يو څوک د محسود ستاينه وکړي، او په وړاندې يې تواضع وښيي، او له هغه سره احسان وکړي، نو له شک پرته به محبت همداسې ورو ورو د زړونو ترمنځ خپل ځای ونيسي، او حسد به له منځه ولاړ شي، د بغض پر ځای به مينه راشي، او د رقابت پر ځای به اخوت او وروري رامنځته شي.

که څه هم دا کړنې د انسان لپاره په لومړيو کې ستونزمنې او د نفس خلاف وي، خو پايله يې بې له شکه خوږه وي. که دا ستونزه ونه زغمي، نو د محبت ثمره به هم تر لاسه نه کړي، او د زړه کرکه به يې همداسې باقي پاتې وي ( رازي، ۱٤۲۰، ج۳: ٦٥١).

۲ـ د مرګ يادول: د مرګ په يادولو سره هم د حسد درملنه کېږي، حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه فرمايي: کوم بنده چې مرګ ډېر يادوي نو د ده خوشحالي به لږ وي او حسد به يې هم کم وي(غزالي، ب.ن، ج۳: ۱۸۹)، يعنې مرګ د انسان په زړۀ کې عاجزي رامنځته کوي او د نورو نعمتونو پر ليدو هغه حسرت او حسد له منځه وړي چې انسان همېشه کړوي. ځکه چې مرګ انسان ته دا رايادوي چې دا هر څه فاني دي، او اصل حساب د الله ﷻ په دربار کې د تقوا، عمل او اخلاص پر بنسټ دی، نه د دنيا پر ظاهري نعمتونو.

۳ـ د ځان نه ټيټ انسان ته کتل: د حسد له منځه وړلو لپاره يوه بله مهمه لاره دا ده چې انسان دې تل په دنياوي چارو کې د ځان نه ټيټ کس ته وګوري، نه هغه ته چې تر ده بډای، شتمن او له نعمتونو ډک وي.

الله ﷻ هر انسان ته ځانګړي نعمتونه ورکړي دي، خو ستونزه دا ده چې ډېرى خلک خپل نعمتونو ته نه ګوري، بلکې د نورو نعمتونو ته همېشه ځير وي، او په همدې کار سره د حسد تخم کرل کېږي. کله چې يو څوک پر خپل حال قناعت ونه کړي او د نورو اسانتياوې، کورونه، اولادونه يا مقامونه ورته د حسرت وړ ښکاره شي، نو همدا ده چې په زړۀ کې يې حسد رامنځته شي.

خو کله چې انسان خپل نظر د هغو خلکو خوا ته واړوي چې د ده په پرتله لږ امکانات ولري او له ستونزو سره مخ وي، نو په دې کار سره د ده په زړه کې شکر او قناعت رامنځته کېږي او د حسد ريښې يې له منځه ځي.

البته په ديني چارو کې انسان بايد تل د ځان نه لوړ، متقي، عالم او عمل کوونکي انسان ته وګوري، تر څو هڅه وکړي چې د دين په امورو کې تر هغوی وروسته پاتې نه شي.

۴ـ د بيوزلو خلکو سره په څنګ کې پاتې کېدل: عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمايي چې زه ډېر وخت د مالدارو خلکو په سيمه کې اوسيدم او له هغوی سره به په مجالسو کې کيناستم، نو په دې وخت کې به زه تل غمجن وم، ځکه چې ما به د مالدارو خلکو سورلۍ او نور نعمتونه ليدل نو ما به په زړه کې ويل چې ماته ولې نه دي راکړل شوي. نو ما خپل د اوسيدو ځای بدل کړ او د بېوزله خلکو په سېمه کې مې ژوند پيل کړ، نو همدا ده چې اوس زه هلته خوشحاله يم، ځکه چې خپل نعمتونه له نورو څخه زيات وينم.

۵- خلکو ته د دوی ضايع شوي حقوق ورکول: که د حسد په وجه د بنده حقوق ضايع شوي وي، نو د هغه نه دې ښښنه وغواړي. که د حسد په وجه يې غيبت کړی وي يا يې ورپسې بدې خبرې کړې وي يا يې له هغه څخه د نعمت اخيستلو په پار څه عملی اقدام کړی وي، نو دا ټول د ظلم بڼې دي، او د توبې اصلي شرط يې دا دی چې له هغه کس څخه ښښنه وغواړي او هڅه وکړي چې هغه تاوان جبران کړي.

٦ـ مثبت فکر لرل: د نورو پر نعمتونو د سترګو اوږدولو پر ځای، خپلو نعمتونو ته کتل او د الله ﷻ شکر ادا کول.

کله چې بنده په دې فکر وکړي، چې الله ﷻ د هر انسان لپاره خير غواړي، نو زه بيا ولې د نورو لپاره شر وغواړم؟

۷ـ له حسد کوونکو خلکو نه ځان ساتل: د حسد د زياتوالي يوه وجه دا هم ده چې انسان له هغو کسانو سره ملګری وي چې تل د دنيا په نعمتونو کې سيالی کوي. له داسې کسانو څخه لرې پاتېدل، د زړه د صفايي او د حسد نه د ژغورلو سبب ګرځي (ابن قيم الجوزيه، ۱٤۱۰، ج۱: ٦٤٧-٦٥٤).

**د حسد کوونکي له شر څخه د ځان ساتنې طريقه**

په قران کريم کې د حسد کوونکي له شر څخه د پنا غوښتلو حکم شوی، الله ﷻ فرمايي: (قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿۱﴾ ... وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾) (سورة الفلق: ۱ـ ۵).

ژباړه: ووايه (اې محمده!) زه د سهار وختي (سپېدو) په رب پناه غواړم، ... او د حسد کوونکي له شره، کله چې حسد وکړي (د افغانستان د جيدو علماؤ ژباړه، ب.ن، ج۲: ۱۷۸۰-۱۷۸۱).

علامه ابن قيم رحمه الله فرمايي: د حسد کوونکي له شر څخه د خلاصون لپاره لس لارې وجود لري:

۱ـ الله ﷻ ته پناه وړل، يعنې تر ټولو لومړی بايد د حاسد له شر څخه په الله ﷻ پناه وغواړي، او خپل ځان د هغه ﷻ تر ساتنې لاندې راولي، ځکه د الله ﷻ ساتنه تر ټولو قوي او باوري ده.

۲ـ له الله ﷻ څخه ويرېدل، همدارنګه هغه ﷻ چې د کومو کارونو امر کړی وي هغه منل او له کومو کارونو څخه يې چې منع کړې وي له هغه څخه ځان ساتل، ځکه څوک چې له الله ﷻ څخه ويريږي، نو الله ﷻ د هغه ساتنه کوي او دښمنانو ته يې نه سپاري.

۳ـ د دښمن په حسد باندې صبر کول او له هغه سره جګړې او شخړې نه کول.

۴ـ په الله ﷻ باندې توکل کول، ځکه څوک چې په الله ﷻ باندې توکل وکړي نو الله ﷻ د هغه لپاره کافي دی.

۵ـ د حسد کوونکي د حسد هېڅ پرواه نه ساتل، له هغه څخه ويره نه لرل، بلکې خپل زړه له فکرونو څخه فارغ ساتل.

٦ـ د الله ﷻ رضا حاصلول او هر عمل یوازې د هغه د رضا لپاره ترسره کول.

٧ـ د ټولو ګناهونو څخه صادقانه توبه ایستل، په ځانګړې ډول هغه ګناهونه چې له امله یې انسان د الهي قهر یا د دښمن د تسلط ښکار ګرځي؛ ځکه ډېر وخت مصیبتونه او ازموینې د انسان د خپلو بدو اعمالو له امله وي.

٨ـ صدقه ورکول او په خلکو احسان کول د آفتونو، بدو سترګو او د حاسدانو له شر څخه د دفع کولو لپاره تر ټولو غوره وسیله ده. دا نه یوازې د بلاوو مخه نیسي، بلکې د الهي رحمت دروازې هم پرانېزي.

٩ـ له حاسد سره احسان کول، هغه ته نصیحت کول او په هغه باندې مهربانه پاتې کېدل، که څه هم دا کار د نفس لپاره ډېر سخت وي، خو د هغه چا لپاره آسانه وي چې الله ﷻ ته محبوب او لوړ مقام ولري، په همدې نېک چلند سره د حاسد زړه نرمیږي او کېدای شي چې له همدې لارې د دوی دواړو ترمنځ محبت رامنځته شي.

١٠ـ د ټولو پورته ذکر شویو علاجونو بنسټیزه ستنه دا ده چې د الله ﷻ پر وحدانیت پوره باور ولرو، او دا عقیده خپله کړو چې هر څه د الله ﷻ په واک او اختیار کې دي؛ او د هغه له امر څخه پرته هیڅ شی انسان ته نه ګټه رسولای شي او نه هم تاوان. (ابن قیم الجوزیه، ١٤١٦، ج٢: ٢٣٨)

### د حسد په وجه د رسېدلي ضرر علاج

چاته چې د حسد په وجه ضرر رسیدلی وي، نو ددې روحاني علاج دا دی:

١ـ تعوذات دې ډېر لولي، یعني سورت الفلق او سورت الناس، همدارنګه سورت الفاتحه او آیت الکرسي دې ډېر لولي.

٢ـ هغه تعوذات دې ډېر وایي، چې په احادیثو کې یې ذکر راغلی دی، لکه: «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ».

٣ـ «اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ عَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ».

## پايله

په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې حسد يو سخت رټل شوی صفت بلل شوی دی، ځکه دا ناوړه صفت انسان هم په دنيا او هم په آخرت کې رسوا کوي.

حسد له يوه چا څخه د نعمت د زوال هېله لرلو ته وايي، چې دا ناوړه صفت له مسلمان سره هېڅکله نه ښايي، که چېرې انسان د حسد د دنياوي او اخروي زيانونو څخه خبر شي، نو دا شعور به ور کې پيدا شي چې د دې خطرناکې ناروغۍ له دام څخه ځان وژغوري او د اصلاح خوا ته ګام واخلي.

د حسد ځينې لوی زيانونه دا دي:

د بل چا د نعمت ليدلو په وجه ورته ژور خفګان پيدا کېدل.

د خلکو په منځ کې ارزښت او مقام له لاسه ورکول.

د الله ﷻ نا راضه کېدل.

د دې ناوړه مرض درملنه د مثبت فکر درلودل، له ځان څخه ښکته خلکو سره اوسېدل، د الله ﷻ په تقدير راضي کېدل او داسې نورو اخلاقي اصلاحاتو له لارې ممکنه ده. که يو مسلمان دا لارې خپلې کړي، نو هم به له حسد څخه وژغورل شي، او هم به د دنيا او آخرت نېکمرغي او کاميابي ترلاسه کړي.

## پايله اخيستنه

د دې څېړنې څخه لاندې پايلې اخيستلای شو:

حسد د ټولنې لپاره ګڼ فردي او ټولنيز زيانونه لري چې د فرد او ټولنې لپاره ډېر خطرناک دي، د دې زيانونو د مخنيوي لپاره اسلامي شريعت په ښه او آسانه توګه حل لارې وړاندې کړې دي، د دې مقالې لوستل به له لوستونکي سره د حسد په له منځه وړلو او يا کمولو کې مرسته وکړي.

## وړاندیزونه

د موضوع په اړه لاندې واندیزونه لرو:

۱ـ لوړو زده کړو وزارت باید د حسد او د هغې د تاوانونو په اړه د محصلینو لپاره لنډ مهاله او اوږد مهاله سمینارونه په لاره واچوي، ترڅو د قرآن عظیم الشان او نبوي احادیثو په رڼا کې د حسد دقیقه پېژندنه ترسره او د دې ناوړه اخلاق څخه د ځان ساتنې لارې وپېژني.

۲ـ ارشاد حج او اوقافو وزارت همدارنګه امر بالمعروف نهي عن المنکر وزارت باید د نېکو اخلاقو فضیلتونه او د ناوړه اخلاقو بدوالی د مساجدو د امامانو او منبر له لارې خلکو ته بیان کړي، تر څو د ټولنې وګړي خپل ځانونه په ښایسته اخلاقو مزین او له ناوړه اخلاقو څخه وژغوري. ددې اقداماتو په پایله کې به سالمه، با اخلاقه او دینداره ټولنه رامنځته شي.

## مأخذونه


قرآن کریم

ابن القیم الجوزي، محمد بن أبي بکر بن أیوب. (١٤١٠ هـ). تفسیر القرآن الکریم، المحقق: مکتب الدراسات والبحوث العربیة والإسلامیة بإشراف الشیخ إبراهیم رمضان، دار ومکتبة الهلال – بیروت، الطبعة: الأولی.

ابن قدامة المقدسي، نجم الدین، (١٣٩٨ هـ). مختصر منهاج القاصدین، دمشق، مکتبة دار البیان.

ابن منظور الافریقي، محمد بن مکرم بن علی، (١٤١٤ ه). لسان العرب، بیروت، دار صادر .

البخاري، محمد بن إسماعیل. (١٤٢٢هـ). صحیح البخاري، دار طوق النجاة.

البُستي، محمد بن حبان، (-). روضة العقلاء ونزهة الفضلاء، المحقق: محمد محي الدین عبد الحمید، بیروت، دار الکتب العلمیة.

الترمذي، محمد بن عیسی بن سَوْرة، أبو عیسی. (١٣٩٥ هـ). سنن الترمذي، مصر، مکتبة ومطبعة مصطفی البابي الحلبي.

الجرجاني، علي بن محمد بن علي، (١٤٠٥). التعريفات، بيروت،، دار الكتاب العربي.

د افغانستان د جيدو علماؤ ژباړه. (-). قران كريم ترجمه او تفسير په پښتو ژبه كې، خادم الحرمين الشريفين الملک فهد بن عبدالعزيز.

الرازي، أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن. (١٤٢٠ هـ). مفاتيح الغيب = التفسير الكبير، بيروت، دار إحياء التراث العربي.

السجساني، أبو داود سليمان بن الأشعث، (-). سنن أبي داود، المحقق: محمد محيي الدين عبد الحميد، صيدا، بيروت، المكتبة العصرية.

السمرقندي، أبو الليث نصر بن محمد، (١٤٢١ هـ). تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين، دمشق، دار ابن كثير.

الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب. (-). المعجم الكبير، المحقق: حمدي بن عبد المجيد السلفي، القاهرة، مكتبة ابن تيمية.

الغزالي، أبو حامد محمد بن محمد. (-). إحياء علوم الدين، بيروت، دار المعرفة.

الماوردي، أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب. (١٩٨٦م). أدب الدنيا والدين، دار مكتبة الحياة.

المدني، عبدالبارى فتح الله. ( ١٤٢١ه). الحسد اسبابه وعلاجه، ابوظبى.

النسائي، أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب. (١٤٠٦هـ). المجتبى من السنن = السنن الصغرى للنسائي، تحقيق: عبد الفتاح أبو غدة، حلب، مكتب المطبوعات الإسلامية.

النيسابوري، محمد بن عبدالله الحاكم. (١٤١١). المستدرك على الصحيحين، بيروت، دار الكتب العلمية.

# مفهوم الحسد، اضراره و طرق دوافعه په ضوء القران الكريم و الحديث النبوي

احسان الله شهامت[1]* و منت الله آخندزاده[2]

قسم الثقافة الاسلامية،، كلية الشريعة، جامعة الغزنی[1]، جامعة الكابول[2]

e_ehsnullah2012@yahoo.com

## الملخص

الحسد من الصفات الخبيثة والخصال الذميمة، فإذا استقر في قلب الإنسان أبعده عن رحمة الله ﷻ، وجلب له الهلاك والدمار. والحسد هو الحالة التي يتمنى فيها المرء زوال نعمة من غيره، ولو لم يردها لنفسه. وهذا الخلق لا يليق بأخلاق المسلم مطلقا، لأن الحسد ليس مجرد شعور باطني، بل ينعكس أثره على السلوك والعمل، فإذا ظهر أثره في الأفعال كان ضرره أشد وأخطر. ويبلغ الحسد غاية الخطر حين يريد الإنسان النعم كلها لنفسه وحده، متعديا على حقوق الآخرين. وقد جاء في القرآن الكريم والسنة النبوية ذم شديد لهذا الخلق المذموم، حتى عد من خصائص الشيطان. وتبرز أهمية هذه المقالة في آنها تناولت تعريف الحسد وأسبابه وأنواعه ومراتبه وأضراره وحكمه الشرعي وطرق علاجه في ضوء القرآن الكريم والسنة النبوية. وهذه المسألة لا تقتصر أهميتها على الفرد فحسب، بل لها دور أساسي في بناء مجتمع سليم ومتوازن. وقد اعتمد البحث على المنهج الوصفي التحليلي، مستندا إلى المصادر والمراجع الدينية الموثوقة.

**الكلمات المفتاحية:** الحسد، الحسد والمجتمع، الأخلاق الذميمة، الأخلاق الإسلامية، العلاج بالقرآن والسنة النبوية.